نوي ادبي تيوري

محمّد نبي صلاحي

نوې ادبي تيوري

محمد نبي صلاحي

څېړونکی

د افغانستان د علومو اکادمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ټولنې انستیتوت

د ادبیاتو او متن پوهنې ديپارتمنت

١٣٦٨

PROPERTY OF ACKU 4873

اهداء

صنوبر حسین کاکا جي ته چې په‌خپلو ادبي هڅو او انقلابي مبارزو
یې دخوشحال خان کاکا جي دمبارزی لاره لاپسې سره کړه !

کتاب: نوي ادبي تیوري (لومړی چاپ) ۰

لیکوال: محمد نبي صلاحي

خپروونکی: دا.ج. دعلوموا کاډیمي

مهتمم: م. ص ۰

تیراژ: ۲۰۰۰

دچاپ ځای: دولتي مطبعه دمانو ټایپ څانګه

دچاپ کال: د۱۳۶۸ هـ.ش. قوس د۱۹۸۹م. کال نومبر

فهرست

مخ	سر لیك
الف	داکادمیسین کاندیدم. صدیـــق روهی تقریظ
ح	دسر خیړونکی عبدالرحیم ځدراني تقریظ
	لومړی څپرکی
	دنوی ادبی تیوری بنسټونه
۱	دنوی ادبـــی تیـــوری اساسی مسأله
٤	دادبیاتو دنوی تیوری دمترقـــی میتودو لوژی ارزښتونه
۳٤	دادبیاتو دنوی تیوری پرمختیایی حالتونه
۵۵	دنوی ادبی تیوری په انکشاف کی دساده ماتر یالیزم او نامینالیـــزم ونډه
۷٤	په نړی کی دنوی ادبـــی تیـــوری سری سپرغی
	دویم څپرکی
	ادبیات او سایکالوجی
۸۹	دادبـــیاتـــو کـــلاسیك مفهوم اوارزښت
۹۷	په ادبیاتو کی مضمون او شکل
۱۰۸	ادبیات دنوی ژوند لپاره
۱۱۸	دادبیاتو او سایکالوجی ترمنځ ډیالکتیکی اړیکی
۱۳۱	د کو چنیا نو لپـــا ره ادبیـــا ت

سرلیک		مخ

دریم څپرکی

شعر، ډرامه او لنډه کیسه

دشعر ځرنګوالی	۱۳۷
دډرامې محتویات	۱٤۹
دلنډې کیسې ځانګړنې	۱٦۲
مأخذونه	۱٦۹

«نوي ادبي تيوري»

دپښتو ادبي فرهنگ په گلبڼ کې يو نوي بوټی

له ډېرو پخوا زمانو څخه دا څېره دغه‌ټی په توکه مثل شوی دی چې شاعران او هنرمندان هغه څه ويلی شي چې نورعادي خلك يې نشي ويلی او يا يې دويلو اجازه نه لري. (افلاطون) ته حتی دا غلط فهمی ور پېښه شوې وه چې د شاعرانو څېرې يې ددوی خپلی څېرې نه گڼلی او گمان يې کاوه چې پردوی باندې شعر را نازلېږي، دهمدغه ډول تفکر په اساس، دا عقیده عامه شوی ده چې «يجوز للشاعر مالا يجوز لغيره» يعنی شاعرته روا گڼل کېږي هغه څه چې نو روته‌جواز نه لري .

کارل مارکس وايي: «شاعران عجيب انسانان دي، بايد دوی پرېښودل شي چې خپله لاره ووهي، نه شي کېدلی چې دوی دعادي حتی ترعادي لوړو افراد وسره مقايسه شي.» (۱)

۱ـ دهمدغه کتاب په حواله، مخ (۸).

زما په پوهه، هماغسې چې شاعران عجیب انسانان دي او حق لري چې خپله لاره ووهي د شعر او ادب جهان هم عجیب جهان دی او کولای شي چې د آزادۍ په فضا کې نامعلومې سیمې، ناازمویل شوي واقعیتونه، او ناویل شوي رازونه د الهام له تروږمۍ نه را وباسي. شاعران او په عام ډول د هنري اثر هستوونکي تر هر څه د مخه آزادۍ ته ضرورت لري. تقلید، یکنواختي، او ابتذال د هنر مړینه ده.* د شعر او ادب جهان د ذوق او وجد جهان دی. دلته د (صحیح او غلط) (ښه یا بد) پر ځای د (خوند وریا بې خونده) اصطلاحات موزون ښکاري. زه دا نه وایم چې ادبیات قواعد او ضوابط نه لري او یا دا چې په ادبیاتو کې د (سم او ناسم)، (ښه یا بد) مسئله هیڅ طرح کېږي نه، بلکې زما مقصد دا دی چې د ادب د پاره اساسي مسایل اسه دي. د (صحیح او غلط) معلومول د ساینس کار دی، د (ښه او بد) په باره کې حکم کول د اخلاقیاتو وظیفه ده. اما د (خوند وریا بې خونده) پېژندل په هنر پورې اړه لري. علم د پېژندنې د پاره پر منطق تکیه کوي، اخلاقیات پر وجدان استناد کوي، خو ادب او هنر بدیعي ذوق ته رجوع کوي. کله چې د یوه هنري اثر په باره کې د هنر پېژندنې له نظره قضاوت کوو، هلته له ذوق نه مرسته غواړو. په داسې مواردو کې له ذوق نه پرته بل قاضي ته د مراجعې کولو حق نه لرو. که ذوق یو هنري اثر رد کړي، اخلاق او منطق هم نشي

---

* له تقلید څخه مراد د (ارسطو) تقلید نه دی چې د یوې ادبي مقولې په توګه ځانګړي بحث غواړي.

کولای شي هماغه اثر د هنر په میدان کي په ښه ډول وړوي . شاید هماغه اثر په بل ډول کي د لمانځني او تقد س مقام ته هم ورسېږي خو د هنر په میدان کي خپله دعوا نشي سپړولی .

اصل خبره دا ده چي یو اثر باندي له مختلفو زاویو څخه بېلابېل قضاوتونه کېدای شي . که څوک یې د علم له پلوه ګوري هغه جلا معیارونه لري ، که د اخلاقیاتو (اتیکس) له مخي یې ګوري هغه بل ډول تو ر موله لري ، او که د ایستیتیکس له نظره ورته ګوري نو هغه هم خاصه ځانګړي موازین ټاکلي دي .

یو ساده مثال : د ګلاب ګل په نظر کي ونیسي . یو بوټانیست د ګلاب په تشریح کي د هغه شکل نه ستایي بلکي فزیکي جوړښت یې شرح کوي. یو د رمل جوړوونکی شاید د ګلاب له عرق سره مینه ولري . شاعر د هغه پر ښایست مین دی . په دې نه پوهېږو چي بلبل ولې د ګلاب په لیدو مستانه سندري وايي : څوک یې ادعا کوي چي بلبل د ځالي جوړولو په خاطر د ګلاب په شاوخوا تاو ېږي . د دې خبري قضاوت په حیوان پېژندونکو (ژوپوهانو) پوري اړه لري اما د شاعر د پاره دا یوه مهمه نه ده ، هغه له دواقعیتونو څخه شاعرانه برداشت کوي ، د خپل تخیل په ځم کي یې رنګوي او بیا یې د رمز ، کنایي ، او تمثیل په ژبه بیرته په اړولیانه افاده کوي . د شاعر د پاره د واقعیت په نسبت له واقعیت څخه د ده انطباع یا برداشت زیات ارزښت لري . هغه شاید له دې واقعیت څخه چي سپوږمۍ له تورو کانو جوړه ده ، خوند وانخلي . خو څه پروا کوي ، دی د خپل تخیل په زور او له واقعیت څخه د خپل برداشت له مخي ، کولای شي چي سپوږمۍ د خپل

یا ر له‌مخ سره تشبیه کړی او پیدې توګه د خپلې معشوقې زړه ته لاره ورخلاصه کړي. د شاعرا و لیکوال د پاره واقعیتونه هغه وخت ارزښت پیدا کوي چې د رنګ او خوند په ټکي ولګیږي او د احساس سپرغۍ تري پورته کیږي.

شاعران په رښتیا عجیب انسانان دي ځکه چې هغوی د منطق او تعقل پروا هم نه ساتي، شعر، یعنې په اصلي مانا شعر - لیونی او غیر عقلاني دی، لیوني دی، رندي، مستي دی او کله کله هغه څه وایي چې یو عاقل سړی یې نشي ویلی او یا یې د ویلو اجازه نه لري. که په شعر کې طغیان، مبالغه، تخیل، رمز، عاطفي، مداوجذر نه وی نو وچ او ساړه واقعیتونه به پاتې شي چې بهتره به وي د هنر او ادب له سیمې څخه کډه وکړي او د ساینس غیږي ته پناه یوسي.

شاعران عجیب انسانان دي ځکه دوی د پر ځاله له کلتوري نورمو نو څخه تیري کوي او له‌خپل تغرنه پښې وباسي. که یو وا کمن یا سیاسي شخصیت د رسم او رواج له‌چوکاټ نه ووزي، خلک تري خپه کیږي او غندي یې. اما که شاعر، په‌هنري ژبه او له فني وسایلو څخه په استفادې سره د دود او عنعنې له‌چوکاټه ووزي، ډیر احتمال شته چې په‌خندا او خوشحالۍ سره یې هرکلی وشي. زه اګر کوم خوشحال خان یوازې د شعر له‌پر کته دا څبره په‌جرئت سره وکړه چې: «زه خوشرابي یم شیخه څه را سره جنګ کړی» یا حافظ په صراحت سره وویل: «ان تلخ‌وش که صوفي ام الخبایثش خواندـا شهی لنا واحلی من قبلة العذرا» او یا ددې په شان نوري څبري یوازې د شعر تر ما سلک لاندي جوازلري.

امادذی خبری ماناذا نه ده چی شاعران د محتسبانو له ازاراو تعقیب څخه بالکل خلاص وو . د شلمې پېړۍ محتسبان هم شاعر ته دستور نه ورکوی او نه یې پرېږدی چی خپله لاره و وهی .

زما په عقیده ، کله چی مارکس وویل «شاعران عجیب انسانان دی، باید دوی پرېښودل شی چی خپله لار و وهی» هغه پوهېده چی څه وایی او د اخبره یې په شعوری او اگاهانه توگه کړی ده . له بده مرغه ، د ځینو پلو یانو د اسی گڼلې ده چی « گویادا خبره په دې پورې اړه لری کله چی مستونزې پیدا کوی او فقط هغه وخت چی طبقاتی د ښمنی پای ته ورسیږی شاعر ته به اجازه ورکړه شی چی خپله لاره ووهی . حتمی نه ده چی شاعرته ازیکی سزاور کړه شی ، مونږ کولای شو چی دادبی کره کتونکی په واسطه هغه لاری ته برابر کړو ، له سره یې وروزو او سړی تر یېنه جوړ کړو . ادبی کره کتنه بوه داسی منرو که (قمچینه) د ه چی د شاعراولیکوال پرمغز ولگیږی اوټول خبیث او ناولی افکار یې له مغزوباسی . په مونږ کی د (عجیب) اوسېدلو امکان نشته ټول باید یوشان وی ، مونږ باید یو شان وی (یعنی له یوډول ډېرو څخه جوړ شوی وی) ، تنوع ، رنگینی ، تو پیرونه - دا د یورژوازی امتیاز خوښونکی ایله یا لونه دی . »

ځینی نوروایی چی البته مطلقه ازادی وجود نه لری او کړه وړی اری مطلو به نه دوی . هرانسان تر هغه وخته او تر هغه حده ازادی چی بل ته زیان ونه رسوی . شاعرته به امتیاز نه ورکوو خو مونږ پوهیږو چی شعر له عواطفو سره او له ښکلا سره له شلیدونکی رابطه لری . که شاعر ازاد پرېښودل شی نو هغه د عواطفو د تلطیف او د بدیعی ذوق

در او پښو لولو لاري د خلکو په زړونو کې نفوذ کوي . که هغه خلك حيران کړي، ويې خندوي، ويې ټخوي، ويې ژړوي، او د چاد زړه هيندا ره د غم له گرد او غبارنه پاکه کړي په دې کې د چا څه تاوان دی! ادبي کره کتونکي ولې شاعرانو ته اجازه نه ور کوي چې د معنې هندارې و وايي شکلاو ی وستايي ، خيالونو او ارمانونو ته رواوښ کړي ، او يوه شيبه سود تر څرو ا لعيځونو او پکځو اخستو او کليشه يي ژوند له چوکاټ څخه لرې کړي . شاعري ازاره موجود دی ، د زړه د ترجمان دی ، د هيو مانيزم علمبرداردی ، ژوند ته تنوع او رنگيني ور بخښي . دادبر لوبښتونکي چې شاعر دی د چا د شرا بو جام په زهرو و لړی او د عيش محفل د ی په ويروا ړوی او که د هغه کاريي و ک‌ړنو پيا خو قانون شته ، او که د هغه له منگولو خلاص شونه و ادبي کره کتونکي خوبي نه ور کړي .

خيني ادبي کره کتونکي او ادبي تيور يستان له دې څخه ري سره سخت مخالفت کوي چې له شعراو ادب څخه د خوند او تفنن د پاره کار واخيستل شي . د هغو په عقيده ، شعر اوادب د ژوند دو ر خينوا ړتيا و د رفع کو لو د پاره دی او تفنن ته د يو دول جرم په نظر گوري . خيني نورله شعر څخه د ا يستيتيکي ذوق د تسکين لپاره استفاده کوي .

«نوی ادبي تيوري» د شعر او ادب په باره کې پو شمير اساسي پو ښتنو ته د يوې تا کلې فلسفي موضعگيري په رڼا کې خوا بونه ور کوي .

د دغه اثر له محتوا څخه ښکاري چې شعر او ادب بايد معرفتي، تربيتي او ايستيتيکي دندې پرمخ بوزي.

محترم محمد نبي صلاحي د دغه اثر په ليکلو سره د پښتو ادبي فرهنګ په غني کولو کې د پام وړ ونډه اخيستې ده. د ګوندي ادبياتو مينه وال په دغه اثر کې د خپل موقف څخه د ملاتړ د پاره ښايسته زيات مواد تر لاسه کولی شي.

څرنګه چې د پښتو په ادبي پانګه کې تيوريکي اثار د ګوتو په شمار دي نو د دغه کتاب په خپريدلو سره به د ادبي تيوري برخه لا زياته بډايه شي او په دې توګه به د ادبياتو مينه وال له مختلفو نظريو سره اشنا شي. پر دې سربېره د ادب په ګلبڼ کې رنګا رنګ ګلان وغوړيږي. د «نوي ادبي تيوري» په څنګ کې بايد زړې تيوريګانې هم تر څېړنې لاندې ونيول شي ځکه متل دی چې وايي: «نه هر نوی ښه دی او نه هر زوړ بد.»

په دې حال کې چې ځوان څېړونکي محمد نبي صلاحي ته د دغه اثر په ليکلو مبارکي ورکوم په دې عقيده يم چې «نوې ادبي تيوري» د پښتو په ادبي ګلزار کې يو نوی غوړيدلی سور ګل دی چې په خپلې خوشبويۍ سره به د سيند والو دماغ معطر کړي.

داکاډميسين کانديد محمد صديق روهي

نوی ادبی تیوری ته یوه کتنه

د محترم محمد نبی صلاحی اثر چې د (نوی ادبی تیوری) تر سرلیک لاندی په دریو څپرکو او شوعنوانو کی لیکل شوی ولوست. نوموړی د دغه اثر په لیکلو کی د نړی د مشهورو لیکوالو، وتلیو ادبپوهانو او د فکر د خاوندانو د غوره آثارو او کره منابعو نه په استفادی سره د ادب څیړونکو د پاره په زړه پوری کتاب لیکلی دی. په دغه کتاب کی د ادبی تیوری په باب غوره مواد را ټول شوی دی او د فکری یون په یوه خاص ټاکلی سمت کی اچول شوی او پیوند شوی دی .

د ادبی تیوری په باب که څه هم په لره او بره پښتونخوا کی یو شمیر لیکنی شوی دی ولی په همدغه مشخصه موضوع باندی همدا اوس چی لیکلی کومه گلدسته د دغه محترم لیکوال وړاندی کړی د پښتو ژبی د غنا په تیره بیا په ادبی تیوری باندی د پوهیدو په برخه کی ډیره گټوره گڼل کیږی. زما په عقیده د دغه ادبی پانگه په همدغه موضوع پوری مربوط فکری مشخص سمت کی لیکوالو او د موضوع

سره مينه وه او ځکه نوي او دلچسپ مواد مخې ته پراته دي. د کتاب ژبه په
ډېره روانه او عام فهمه ده. کومه خاصه پېچلتيا او مغلقوالی نه په
کې ليدل کېږي. د تحقيق د ميتود له پلوه هم دغه اثر په زړه پوري
دی.

په دې کتاب کې چې کوم مواد را ټول شوي هغه زياتره په
يوه فکري جريان پوري اړه لري. د دې اثر لا غوره والی به په دې
کې وای چې د نورو فکري جريانونو د استدلالونو په راوړلو سره
په مقايسه او څنګ کې ليکوال خپله ادعا په کره توګه کښېنولې وای.

زه د ادبي تيوري په باب دغه کتاب يو ګټور اثر ګڼم او ليکوال
ته يې په دغه لړ کې نور بريالیتوبونه هم غواړم. هيله من يم چې
واکمن مقامات به د دې غوره اثر په چاپولو سره د ادبي پوهانو او څېړ-
ونکو تنده ماته کړي.

په درنښت

سرمحقق عبدالرحيم ځدران

PROPERTY ACKU 4873

لومړی څپرکی

د نوي ادبي تیورۍ بنسټونه

د نوې ادبي تیوري

اساسي مسئله :

د ادبیاتو نوې تیوري ـ په حقیقت کې د نویو هنري ادبیاتو د بېلا ـ بېلو ډولونو په باب مدون، سیستماتیک او منظم معلومات او د هغو تفسیر دی. د هغه مترقي تیوري ـ د علمي او انقلابي تیوري د ځلاندو پرنسیپونو په رڼا کې د ژوندي هنر (بدیعي ادب) پر مضمون او شکل باندې خبرې کوي، د هغوی رښتیني ماهیت څېړي او د تحلیل قوانین او میتودونه تر مطالعې لاندې نیسي.

د ادبیاتو نوې تیوري ـ چې له نویو هنري ادبیاتو څخه رازېږېدلې ده، د مطالعې سیستم یې نوی میتود دی او ایډیالوژیکه وسله یې، علمي او انقلابي نړۍ لید تشکیلوي.

لکه څنګه چې د فلسفې اساسي مسئله - د ماتریالیزم او ایډیالیزم ترمنځ نه پخلا کېدونکی تضاد دی ، په همغه ډول د ادبي تیوري اساسي مسئله د نوي ادبي تیوري او زړې ادبي تیوري ترمنځ ارتباط او مبارزه ده چې په وروستني تحلیل کې د پرولتري او نورو ټولو مترقي ادبیاتو او تیوریو په بري او د پانګوالي او نورو ارتجاعي ادبیاتو او تیوریو په بشپړې ماتې سره پای ته رسېږي .

د ادبیاتو د اتیوري ـ د نوي ادب پوهنې د یوې نه جلا کېدونکې څانګې په توګه د نړۍ د کثیرالشکله او کثیرالمله ادبیاتو او بیا په ځانګړې توګه ، د نویو ادبیاتو د مضمون او شکل په باره کې معرفت حاصلول د خپلې یوې مهمې دندې په توګه ټاکي . دغه تیوري په اصل کې د ټولو ادبیاتو د مختلفو انواعو او ژنو یوه مجموعي تیوري ده ، چې بیا هر ادبي ډول او ژانر ځانته تیوري لري ، د نمونې په توګه : د داستان تیوري ، د ډرام تیوري ، د شعر تیوري او داسې نور ، چې هر ښاخ یې د همغه ادبي او هنري ژانر د ایجاد زمانه او شرایط بیا نوي ، په پرمختګ او تکامل یې څېړنې کوي او د همغه مختلف شکلونه ، ترکیب ، تخنیک او ممیزات ښیي .

د ادبیاتو نوموړې تیوري ، د یوه لارښود علم په حیث نه یوازې شاعر او ادیب ته بلکې ټولنې ته د شاعرانو او ادیبانو د شعري او ادبي فعالیت په باره کې معلومات ورکوي او د همغوی ظرافت د مترقي تیوري په هینداره کې ځلوي .

که په نړیواله سویه د طبقاتي مبارزې تاریخ ته ژور نظر واچوو ، نو به دا ټکی ډېر ژر جوت شي چې ، د پرولتاریا طبقه ډېره زیاته انقلابي ده او په نړیوال ډګر کې د از بیار استثمار کېږي چې په هر هېواد کې د هغې واکمنې ټینګه شي .

همدا دول ، په ادبي نړۍ او د نوې ادبي تيورۍ په جهان کې هم پرولتاریايي ادبیات او تیوري ، د نورو تولو مترقي ادبیاتو او تیوریو د ملا هډوکی جوړوي او ددې استعداد لري چې ، نور تول مترقي ادبیات او تیوري په ځان پسې کش کړي .

«د شوروي ادبیاتو مؤسس ماکسیم گورکی » (۱) د شوروي اتحاد د پرولتاریايي ادبیاتو د پیاوړتیا په باب داسې لیکي :

« نور د شوروي پرولتاریايي ادبیات په روسي ژبې ، روسي ژبې ویونکو او اصلي روسي خلکو پورې محدود نه دي . دغه ادبیات په تدریجي توگه اړیوالي ځانگړتیاوې غوره کوي . دغه مهم تاریخي جریان په بشپړه توگه نوې د نده مطرح کوي او نوې غوښتنې وړاندې کوي . » (۲)

د پرولتاریايي ادبیاتو تیوري ، چې د مترقي ادبي تیوري او نوې ادبي تیوري په نامه هم نومول شوې ، په هېواد نې او پالمې سوبه پرې خپوري شوېدي ، خو په نړېوالې نړۍ په تېره بیا په سوسیالیستي هېوادونو کې یې ډېر زیات پرمختگ کړی دی ، لیکن زموږ په گران وطن افغانستان کې ، د نوې ادبي تیوري نطفه تازه د انکشاف په حالت کې ده . سره له دې هم ، داد بیاتو د نوې تیوري په برخه کې د یادونې وړ گامونه پورته شوي او پورته کېږي ، چې په جلا بحث کې به پرې خبري وشي .

(۱) ـ مترجم : د کتور یحیوایي ، آثار گزیده ، نویسندگان روس شوروي ، مسکو ، مؤسسه نشراتي (رادوگاه) ، ۱۹۸۳ م . ص : ۳ .

(۲) ـ نویسنده : ماکسیم گورکی ، مترجم : ابوتراب باقر زاده ادبیات از نظر گورکی ، تهران ، ۱۳۴۰ هـ . ص : ۲٦۰ .

د ادبیاتو د نوی تیوری د مترقی میتودولوژی ارزښتـــو نـه

د نوی ورځ (مترقی او ارتجاعی) میتودولوژی ترمنځ د مبارزې ربړلکه څومره چې په فلسفه او علومو کې یوه له اهمیت څخه ډکه مسئله ګڼله کیږی، په همغه تناسب یې په ادب پوهنه او له هغې ډلې څخه په ادبی تیوری کې څیړنه هم پوره ارزښتـناکه کارا و اغېزناکه پوښتنه ګڼلـی شو.

د ادبیاتو د نوی تیوری میتودولوژیک اساسی حکمـونه او کړنـې د علمی او انقلابی نړۍ لید د اینده ساز قوانینو او پرنسیپونو له کشف، ترتیب او تدوین نه مخکې، د یوه منظم او اګاهانه اکاډمیک سیستم په توګه نه ترسترګو کیـږی .

د لومړی ځـل لپاره د نړۍ د پرولتاریا او نورو خوار ځکښانو سترو لارښـوونکو (کارل مارکس او فریدریک انګلس) په خپلو

همیشنیو او انقلابي هڅو سره د نوي ادب پوهنې د بېلابېلو څانګو د لوی میتودولوژۍ د ایجادولو ژیکو اساسي اصولو بنسټ کېښود. د دغه ټکي په اصل کې له هغه ستر انقلاب سره رښتینې پیوند لري چې، مارکسیزم د ټولنیزو علومو په برخه کې منځ ته راووست:

« د دې انقلاب له بریالیتوب څخه مخکې لا دا فکر کېده چې د تاریخ ټول تحولات باید د فلسفي، مذهبي او سیاسي نظریاتو په تحول کې وپلټل شي، خو دغه پوښتنه بې ځوابه پاتې وه چې دغه نظریات د کوم عامل په وسیله تحول او تغییر خوري. مارکس دغه معماله دې پلوه حل کړه چې اصلي تاریخي پروسه باید د ټولنې په مادي ژوند یعنې د تولید په طرز کې وپلټل شي. په همدې اساس نو د تاریخي تحولاتو او اجتماعي تغییراتو واقعي علتونه باید په مجردو نظریاتو، افکارو یا سیاسي عقایدو کې و نه پلټل شي بلکې د ټولنې په مادي ژوند یعنې په هغه اجتماعي ژوند کې وپلټل شي، چې همدغه نظریات افکار او سیاسي عقاید یې انعکاس ګڼل کېږي.» (۱)

د مارکس او انګلس له همدې زیار سره سم د ټولنیزو علومو په مختلفو برخو کې نوي علمي پرمختګونه رامنځ ته شول، د نوي ادب پوهنې لپاره کلي قوانین او اصول وټاکل شول او نوي ادب پوهنې د علم په حیث دا کلي قوانین غني او متکامل کړل.

---

(۱) سملا نور، د مارکس ژوند، د پوهنې د کتاب خپرولو مؤسسه ۱۳۵۹ هـ. کابل، نولسم مخ.

د عامې قانو نمندۍ له پلوه ، علمي او انقلابي جهان بیني د ادبیاتو د نوې تیوري ایډیالوژیك او میتود ولوژیك اساس و گرځېد. په دې ارتباط (امیرنیك آیین) داسې لیکي :

«بوازې مارکسیستي فلسفه د یوه ځانگړي علم په توگه د مادي جهان د عمومي قانو نمندیو او د ټولو علومو سمې شیړ نې او بیانو لپاره میتود ولوژیك اساس دی .» (١) خو په خاصه توگه ، د ادبیاتو د نوې تیوري نوې علمي او طبقاتي میتودولوژیکو اصولو او احکامو ، د زړې ادبي تیوري پر ار تجاعي سنگر او کر غېړن هنعنوي میتود بانديې اورني گو زار ونه و کړل او په نتیجه کې یې نه جبرانېدونکي ماتې وخوړه .

پردې سربېره چې مارکسیزم د اجتماعي علومو په برخه کې ستر انقلاب منځ ته راووست ، د فلسفې په نورو برخو کې هم د کیفي بدلون نو منځ ته را تگ د ادبیاتو د نوې تیوري د نوې میتودولوژي د اصولو او احکامو په تا کنه او غنا کې د پادوني وړ برخه واخیستله . دا تکي د کارل مارکس او فریدریك انگلس په وسیله ، د ماتریالیزم او دیالکتیك له متقابل او ارگانیك پیوند سره ونه پېلېدونکې اړیکې لري . په دا چې ، د علمي جهان بیني له تدوین سره سم په ټولنه کې د شخصیتو نو رول ته په علمي بنه ارزښت ورکړ شو خوولسونه او ټوډې د تاریخي بدلونو نو خوځنده او تا کو نکي ځوا کونه و گڼل شول .

(١) - امیرنیك آیین ، ماتریالیزم دیالکتیکه ، از نشرات حزب توده ایران ، ١٣٥٨ هـ . ص : ٢٢ .

د نویو ادیبانو اساسي مؤلدین خلک وبلل شول او د هر ګوند ډول شویو هڅو او غوښتنو په انعکاس ورکولو او د ژوند کیسانو په وړاندې د مخکښي په رول لوبولو کې د ژمنو (متعهدو) شاعرانو او ادیبانو فعالیت وستایل شو. دې مسئلې نه یوازې په نویو ادیبانو، بلکې د نوي ادب پوهنې په ټولو څانګو او بالاخره د ټولنیزو علومو په هر ښاخ کې په ټېره د رڼه سترګه وکتل شول. په دې ارتباط پوره په سایکالوجي کې، چې د ټولنیزو علومو یوه غوره څانګه تشکیلوي، د دغه ټکي ارزښت داسې ښایي:

«په دغه مسئله کې د مارکسیزم اغېزه په هغه اندازه ستره وه چې د بورژوازي د ټولنیزي روانشناسي تیوریستان، د خپل باطني میل برخلاف ناچاره دي ته اړ شول چې له مارکسیزم سره خبرو او بحث ته کښېني او دا کار زموږ تر وخته پورې ادامه لري.» (۱)

د مارکسیزم په وسیله په فلسفه کې د انقلاب منځ ته راتګ د زیاترو شاعرانو او ادیبانو په شعري او ادبي فعالیت اغېزه وکړه. دغو د ادبي تخلیق لوری یې بدل کړ او د شاعرانه نظر اندازې جهان بیني یې پراخه کړه. د انقلابي شاعرانو په شعرونو او ادبي ایجاداتو کې د خلکو د کړو پر مخ د ریډلي انسان او د پرولتاري انترناسیونالیزم څېرې انعکاس وموند او د سولې او سوسیالیزم په ګلشن په خوند خوند وچغېدل او په خپلو ادبي اثارو کې یې د عصر پیغام زمزمه کړ.

(۱) — مترجم: د کتور بحابي، اساسات روانشناسي اجتماعي، چاپ مطبعه حزبي کابل، سال نشر: ۱۳۶۳ هـ. ص: ۱۸.

دد غو شعرونو او ننګونو تخلیق اساسي سرچینې همدا ستري ویاړ منې پرګنې تشکیلوي او شاعران او ادیبان په دغه سره لاره کې خپل رول لوبوي او دبوی وسیلې په توګه ، د شعر او ادب په جامه کې د عصر او د زیار ایستو نکو خلکو شوی هیلې او ارزوګانې منعکسوي.

په دې باره کې سلیمان لایق د شعر په ژبه ښه وایي :

«... د قوم په دفاع کې چې کوم نوی توفان راشي

د شعر په جامه کې زه نښیږمه نښیږم
د خلکو د قدرت په لاس لوېدلې بوبیرغ یم
د دوی په احساسا توکې ریږدمه رپیږم
زه ښه یم دا او لس دی چې هر لوري ته مې بیايي
د دوی ترارادې لاندې خو ځیږمه خوځیږم . » (۱)

داد دیالکتیکي (ډیالوتوډنوی تیوري) تیوري قیو ریستانو او میندو والو هم نوي ادبیات د خلکو د پراخو پرګنو د غور ځنګ په ارتباط و شیرل او د تولنیز پر مختګ د قوانینو مطابق یې داد دیالوتو پر مختیایي حالتونه په ډېره ښه توګه روښانه کړل . د وی ادبیات د خلکو د پرا تیکه محصول و ګڼل او داد دیالوتو له نوې تیوري سره یې د پالکتیکي اړیکې مشخصې کړې .

د کارل مارکس او فریدریك انګلس په ژوند د پاریس د کمون پرپا لیتوب (۱۸۷۱ م. د مارچ اتلسمه نیټه) د نوې ادبیاتو او

---

(۱) سلیمان لایق ، چو نغر ، د افغانستان د علومو اکاډیمي ۱۳۶۱ ه . کال ، دولسم مخ .

د ادبیاتو د نوې تیورۍ د مترقي سیستم و لوړې په جهان کې یو نوی پړاو پرانیست.

د دې سوسیالیستي انقلاب له غاړ یو چن کېدو څخه وروسته د نړۍ د زحمتکښانو لار ښود و. ا. لینین د کارل مارکس او فریدریک انګلس د افکارو په ادامه د هغوی ادبي او تیوریک نظریات متکامل او د «ګوندي سازمان او ګوندي ادبیات» په نامتو اثر کې د ادبیاتو د نوې میتودولوژۍ «طبقاتي او ګوندي پرنسیپونه» په بېخي روښانه توګه بیان کړل.

(یوري بار اباش) د لینین د ادبي او تیوریکو کارنامو یادونه داسې کوي:

«لینین په نویو تاریخي شرایطو کې، د سوسیالیستي پرولتري ادبیاتو په باب د مارکس او انګلس د افکارو دودې په څنګ کې هغه لومړنی شخص دی چې د ټولنې د روانې (روحي) ژوند مسئله یې د ادبیاتو دوې او پر مختیا سره یو ځای د کارګري غورځنګ سره وتړله او په دې برخه کې یې د پرولتري غورځنګ په نورو دندو رڼا واچوله. یوازې هغه ادبیات چې د پرولتري ګډ امر یوه برخه ده یوازې هغه ادبیات چې مخامخ یې د پرولتري غورځنګ سره پیوند موندلی او په بشپړه توګه یې له هر ډول زور زیاتي څخه خلاصون موندلی دی، کولای شي وواېي چې د خلکو د پرګنو د ګټو ښودونکی دی.» (۱)

(۱) - ژوندون، د ا. د. ج د لیکوالو د اتحادیې خپرنی ارګان ۱۳۶۳ ه. کال، دوېمه ګڼه، مضمون: د خلکو سره پیوند د نننۍ ښکلا پوهنې الفبې ده، د یوري بارا باش لیکنه، د ش. حسین ژباړه، لسم مخ.

داد بیاتو د نوي تیوري نوي تیوریسنان او پوهان د لینیني سپارښتنو پر بنا ادیب او شاعر «له طبقاتو لوړ!» نه ارزیابي کوي ، بلکې د یوې طبقې د نماینده په توګه یې تر مطالعې لاندې نیسي او په عمده توګه د هر ادبي او هنري اثر د محتوا او فورم په باره کې دا فکر کوي چې :

ایا دا اثر لیکوال د زیار ایستونکو پرګنو په لیکه کې ولاړ دی او که د لږه کیو استثمارګرو په قطار کې ؟ !

ایا لیکوال په خپل اثر کې هوار یکښو ولسونو ته د روښانه راتلونکې زیری ورکوي او که یې وینې ښبونکو لیوانو ته تطمیع کوي ؟ !

د پاملرنې وړ خبره دا ده چې، په طبقاتي ټولنو کې ادیب او شاعر له طبقاتي چوکاټ څخه نه شي وتلی ، بلکې هرو مرو د یوې طبقې په ګټه او ملاتړ کې ولاړ دی . په دې هکله م . صدیق روهي داسې لیکي :

«د پرولتاریا او زیار ایستونکو لارښود په (۱۹۰۵ ع.) کال کې د (ګوندي سازمان او ګوندي ادبیات) په نامه یو مقاله ولیکله او په هغې کې یې د (بیطرفي) اصطلاح وغندله . دهٔ د «ټکه هنر» د مفکورې د ردولو په ترڅ کې د (ګوندي ادبیات) پرنسیپ وړاندې کړ او څرګنده یې کړه چې، په معاصرو شرایطو کې هنر یوازې هغه وخت انکشاف کولی شي، چې د مترقي جنبشونو او تر ټولو زیات د پرولتاریا د مبارزې او ایډیالوژۍ سره اړیکې ټینګې کړي .»(۱)

---

(۱) - څېړندوی م . صدیق روهي ، ادبي څېړنې ، د ننګرهار (مها روښان) پوهنتون، ۱۳۶۰ هـ . کال، ۱۳۱ مخ .

هو، له مترقي غورځنګونو سره د هنر او ادبياتو ډيالکتيکي ارتباط په اصل کې د هغو سپېڅلو مفکورو ژور درناوی دی، چې مترقي نهضتونه يې د همدې تحقق په خاطر نه ستړې کېدونکې مبارزه کوي. د دغې مفکورو په باب (برتولت برشت) داسې وايي:

«سمې انديښنې نه مري، په ټينګه د انسان زړه او مغز په لاس راوړي. موږ ته د ژوند کولو لوست رازده کوي، د مستقبل پرلور لار راښيي او د راتلونکي ژوند پړاو سمسوي. په تېره بيا دغه چا انديښنې ډېرې ښېګڼې او پياوړې وي چې، زموږ تر نېکمرغۍ يې خپل ژوندانه وار ی کړی وي. دغه راز انديښنې تل بيا پېدونکې او سپېڅلې دي.» (۱)

همداوجه ده چې مارکسيستي ګوندونه د خپلو اعلاميو، رسالو او نورو آثارو په ليکلو او خپرولو سره د نويو ادبياتو د نوي ميتود-ولوژۍ فضا په جوش راولي او هم په دې برخه کې نور چپ او ديمو-کراتيکې قوتونه او اشخاص د مترقي ادبياتو په آينده پرمختګ کې رڼا اچوي. د پاريس د کمون په ادامه، د ځمکې د کرې پرمخ د اکتوبر د ستر سوسياليستي انقلاب بري (۱۹۱۷ م. د نوامبر اوومه نېټه) د نويو ادبياتو مترقي ميتودولوژۍ ته نوې ساه ورپوکړه. د دغه انقلاب په برياليتوب سره په شوروي اتحاد کې نوې زمانه پيل شوه. دې انقلاب د شوروي اتحاد د پېړيو تاريخ بدل کړ او په نړيوال تاريخ باندې پرېکړه کوونکې اغېزه وښندله.

---

(۱) - مفتاح الدين ساپی، ادبي او هنري څېړنې، د قومونو او قبايلو د چارو وزارت، ۱۳۶۳ هـ. کال، ۲۴ مخ.

ده‌مدې انقلاب له‌بري سره‌جوخت ، داد بیاتو د نوې تیوري په شمول د نوی ادب پوهنې په‌تولو برخو کې ستر بدلونونه رامنځ ته شول . داد بیاتود نوی تیوري د نوې میتودولوژی د منظم او سیستماتیک انکشاف پر مختلفی حالات پیل شواولا اوس هم دې وزله انسان د نجات په خاطر خپل تاریخي رسالت سرته رسوی اوپه مقابل کې داد بیاتو زړه تیوري اوزوړ عنعنوی میتودونه ارتجاعی ادبیاتو اوخوا کونو انګه اوملا- تړ کوی . که د نړی په هره برخه کې په مترقی ادبیاتو کې دوخت او زمان چغې اوژوندی انسانی ارمانو نه څپې‌و وهي اودغتا نود ظلم خلاف احتجاج په کې منعکس شي ، نوپه ارتجاعی ادبیاتو او تیور- یسنانو مرګونی حالت راشي اوسړی ته د کوزې پښتو نخوا د یوه معاصر شاعر(رحمت شاه سایل) هغه (د کاڼي کرښې) شعر و ر په یاد شي چې وایې :

« د څلور کونجه دنیا په هر یو ګوټ کې
چې غټان دي را زیږي یو استاذ یې یو دی
مظلومان که د مشرق که د مغرب دي
ژوندي یو دي، ژړا که یې یو آواز یې یو دی
ماشومان که د مشرق که د مغرب دي
دژړا او د خندا انداز یې یو دی . » (۱)

(۱) - رحمت شاه سایل، د لمبو په سوري ، ورقیر(درګی)، مطبعه ایجنسي ، د مردان اولسی ادبي ټولنه ، ۱۹۸۵م . کال ، ۱۲ مخ .

باید وویل شي چې، د ادبیاتو زړې تیورۍ له اوله څخه تراوسه پورې همیشه ارتجاعي موقف نه درلود، بلکې د تاریخ په یوه معینه شیبه کې یې مترقي نقش هم لوبولی دی، د نمونې په توګه:

د بورژوازۍ ادبیاتو تیوري د فیوډالي اشرافي ادبیاتو پر ضد مترقي او کارنده دریځ غوره کړی و، خو کله چې د پرګنو د راتلونکي سرنوشت مسئله په علمي بڼه مطرح شوه او د پرولتاریا او نورو خواریکښانو له واکمنۍ سره پیوند ورکړل شو، نو بیا د هماغو بورژوازي ادبیاتو تیورۍ چې یو وخت یې ترقي خوښوونکي خصلت درلود، ارتجاعي رول په غاړه واخیست او د زحمتکښانو د ارادو پر خلاف یې بې ځایه نارې سورې پیل کړې.

دا او داسې نورې څرګندونې د تاریخ د مترقي ځانګړتیاوو بیانوونکې دي. تاریخ نوې پدیدې ته په ډېر زیات ارزښت قایل دی ځکه هغه د زړې پدیدې په نسبت بادوامه، تنومنده او د ډېر پایښت قابلیت لري، خو د زړو عناصرو او پدیدو د کرکېچ او لاړ ځونو د ردولو په څنګ کې د مثبتو فکتورونو د راناوړې هم کوي او دا ځکه چې، د ډولو نوې یو ډول له نوي پدیدو سره اړخ لګوي. د اوسني عصر د ادبیاتو مترقي تیوري په واقعیت کې د نویوا د ادبیاتو لپاره د بلې ډیوې او قطب نما حیثیت لري او لکه څنګه چې د علمي او انقلابي نړۍ لید څخه پرته د پرولتاریا او نورو خواریکښانو د بشپړو انقلابي بریالیتوبونو تصور نه شي کیدلی، په همغه اندازه د شاعر او ادیب لپاره د شعر او ادبیاتو د نوې تیورۍ زده کړه او ارزښتناکه ده!

که څه هم د ادبي تيوريسن لپاره د شاعر او اديب په وسيله د شعر او ادبياتو تخليق د موضوع په توګه تيار زکوي او ادبي تيوريسن له هماغې شعري او ادبي پارچې څخه مواد را غونډ وي ، خو په عين حال کې د شعر او ادبياتو تيوريسن د شاعر او اديب پرا يډه هم خبري کوي او هغه ېشيني کولی شي ، نو ځکه بايد شاعر او اديب پر تيوري ځان سمبال کړي او کنه د هغوی د شعري او ادبي فعاليت لري او نږدې هدفونه به ګونګ وي ، نو د دې لپاره چې د شاعر او اديب ادبي هلې ځلې د پيشرفت او پرمختګ جاده په سمه توګه طی کړي او شاعرانه او ادبي فعاليت بې هدفمند ، آګاهانه او کره شي ، نو لږ ترلږه بايد د ادبي تيوريسن لار ښوونو ته غوږ کيږدي.

د لته په ماهيت کې د شاعر او اديب او د ادبياتو د تيوريسن ترمنځ متقابل او دوه اړخه تاثيرات موجود دي . د دوی ترمنځ د ديالکتيکي رابطې آګاهانه تينګښت د دې ضمانت کوي چې شاعر او اديب خپل ادبي کار په شعوري توګه کنترول کړي او د مستقبل پر او ر په ډېر جرئت او ډاډه زړه وخوځيږي ، د بېلګې په توګه : که د شوروی اتحاد نامتو اديب (ماکسيم ګورکي) ته د (لينين) له خوا تيوريکي معلوماتو نه وای ور کړل شوی ، د «ګوندي سازمان او ګوندي ادبيات» او نورو تيوريکو اثارو او لارښوونو پرېنايي نه وای رهبري کړی ، نو په يقين سره ويلی شو چې ، دومره ستر پر- مختګ نه به يې نه وو په نصيب شوی او بالمقابل د (لينين) لپاره د ماکسيم ګورکي ادبي مجلسونه ډېر زړه ورونکي وو!

کارل مارکس وايي :

«شاعران عجيب انسانان دي ، بايد دوی پرېږودل چې خپله لاره ووهي ، نه شي کېدلی چې دوی د عادي حتی تر عادي لوړو افراد وسره مقايسه شي !» (۱)

اودا څکه چې شاعراوادیب د شاعرانه اوهنري اداء ادبي ظرافت او داسې نورو ملحوظاتو په لحاظ له عادي کسانو څخه څوګامه مخ په وړاندې روان دي . د دې لپاره چې شاعراوادیب د دیوانې اثاروپه عنعنوي زده کړه اومطالعه اکتفاء و نه کړي ، نود اښه ورېښې چې ، داد بیا تو د نوې تیوري د پوهې په رڼا کې خپلې ادبي اوشعري هاندا و هڅې تقویه کړي او خپلو فطري استعداد و نو ته رشد ور کړي . داتیوري له شاعرانو او ادیبانوسره د دوی د ادبي بریا وو د ذاتي (د روني) ځانګړ تیاوو په تشخص او کره کو لو کې فوق العاده سرسته کولی شي .

شايد د پور تنیو ټکو د بیان په ترڅ کې د اخبره زموږ په ذهن کې راو ګرځي چې بیا نو د ادبي ناقد وظیفه څه شي شوه ؟ !

ځواب يې روښانه دی ا و هغه داچې ادبي ناقد د ادبي اثارو تحليل ته لاس ور کوي ، خو بيا هم د غو د ليکوالو ... حقیقي موخه ښکاره کوي ، هغه دا چې کارو- نوښتګنې او ځانګړتیاوې د ناقد د تیوري په رڼا کې ارزيابي او کره کوي يې او د ادبي ناقد پرنسبت نه او تیوري د ادبیاتو له تیوری او اصولو سره

همکار او نږدې دي، خو هېڅ وخت هم په تمامه معنا سره یو شی نه دي. لکه څنګه چې پراتیک بې له تیوري ړوند دی، په همغه ډول تیوري بې له پراتیکه د ګمراهۍ لور ته ځي، نو د ادبیاتو او د ادبیاتو د تیوریسنانو ترمنځ ګډه همکاري دا ده تیوریسن ته د دې توان ورکوي چې د شعر او ادب په هکله او د شاعرانو او ادیبانو د اجتماعي سایکا- لوجۍ په ارتباط له نویو مسئلو سره اشنا شي او د دې په څنګ کې شاعر او ادیب هم کولی شي، د ادبي او تیوریکو اثارو د مطالعې په مرسته په علمي مفهوم خپل ایجاد شوي هنري اثار او پدیدې وپېژ- ني، په اګاهانه او علمي سیستم خپل استعداد وازمویي او په ټولنه کې خپل موقف او رسالت لکه څرنګه چې ښایي هماغسې درک کاندي. ددې کار پایله ښکنه داده چې شاعر او ادیب به د زماني د توفاني څپو څکړو نواو سیلیو په منځ کې د ادبي فعالیت د خوندي کېدو چم او مهارت هم زده کړي.

اوس مو چې د نویو ادبیاتو او د ادبیاتو د نوې تیوري پر د- یالکتیکي پړاوالې خبرې وکړې، نو به پر دې ټکي هم وپوهېږو چې زموږ په ګران هېواد کې د ادبیاتو د نوې تیوري مترقي میتودو- لوژي له کومو مشخصو منابعو څخه سرچینه واخېسته !

د دې مسئلې د روښانتیا لپاره به د هېواد د ادبیاتو په اسمان کې د نویو ادبیاتو او نوې ادبي تیوري پر سرو ستورو باندې رڼا واچوو او په هغو کې به د ادبیاتو د نوې تیوري د نوې میتودولوژي تکاملي بهیر وڅېړو.

دغه سره ستوری او دادبیاتو د نوی تیوری د مترقی میتودولوژی اساسی سرچینی په لاندی ډول دی :

۱ - دوینبوځلمیانو د شور ځنګ د کینو او دیموکراتیکو غږو هاندا و هڅی ، د «انګار» په جریده کی د «څه غواړو ؟ ! » ترسرلیک لاندی د یوه مترقی او نسبتاً دیموکراتیک پروګرام خپریدل او دا سی نور.

۲-دافغانستان د خلک د یموکراتیک ګوند په تاسیس سره چی خپل کلی سرا سی اوسا ز ماني اصول او موازین یی د ۱۳۴۳ هـ کال د جدی په یوولسمه نیټه تصویب کړل، د ګران افغانستان د فیودالی ، بورژوازی او ارتجاعی ادبیاتو او زړی ادبی تیوری په ورستوسنګرو نو یی د مبارزو ادیبانو شاعرانو او دادبیاتو د نوی تیوری د تیوریسنانو د قلمو نو د خولی اوروننه وروغورځول او د ګوند خپر و نو په څپلو زوړ ندو څپو سره دغه لمبی د هیواد په ګوټ ګوټ کی خپری کړی، د وطن کارګرانو بزګرانو او ټولو خوار یکښانو ته یی دد غو لمبو پله ډیوه په لاس ورکړه او د وی دایډیالوژیکو او طبقاتی د ښمنانو مخونه یی د همدغو لمبو په داغوا و سوځندوو رانګو سوځول او ور توریی کړل.

۳ - د هیواد د ټولو محنت کښانو د مترقی نهضت انقلابی ادبیاتو او تیوری دادبیاتو د مترقی تیوری او نوی میتودولوژی فضا لا پسی سره کړه.

۴ - د ثور د ژغورنده ملی او د موکراتیک انقلاب په بری سره د نوی ادبیاتو او نوی ادبی تیوری د منظم او سیستماتیک انکشاف لپاره لاره پرانستل شوه او داځکه چی، «د ۱۹۷۸ م. کال د اپریل

د سیاستي پړاو وروسته پنځمه نوبته افغانستان نوی تاریخي پړاو ته واوښت...

په دغه ورځ د ټولو افغانانو کورو ته د امید رڼا ور ننوته هغه امید او اطمینان پیدا شو، چې په هیواد کې د نوي دموکراتیک نظام په منځ ته راتلو سره بالکل نوی ژوند شروع کیږي، چې د پخواني ژوند سره هیڅ شباهت نه لري.» (۱)

۵ ـ په ګران افغانستان کې د نویوا د بیاتوا او نوي ادبي تیوري د نوي میتودولوژۍ پله متکامله مرحله به د سوسیالیستي ریالیزم او سوسیالیستي ادبي تیوري هر اړخیز انکشاف او بشپړ تسلط وي.

۶ ـ سوسیالیستي ادبیات او سوسیالیستي ادبي تیوري به دغه کې د کړي پرمخ دامپریالیزم تر موجودیته پورې خپل طبقاتي خصلت وساتي، خو د سوسیالیستي ټولنې په دوهمه مرحله (کمونیزم) به شرایطو کې به د نوي دول انسان په وسیله د طبیعت د تسخیر ولو کاراو مبارزو ته زیات انعکاس ورکړي. د کمونیزم د دوران کمونیستي ادبیات او له هغه ادبیاتو څخه رازیږیدلي کمونیستي ادبي تیوري به له طبیعت سره په مبارزه کې د زحمتکښ انسان مال وي.

بې له شکه، زموږ د افغاني ټولنې د وروڼو ملیتونو په ادبیاتو او بیا په ځانګړې توګه په پښتو ادبي غورځنګ کې د نوي ادبي

(۱) ـ رسلان سیکویف، شپیته کلنه نه شلېدونکې دوستي، مسکو د (نووستي) د مطبوعاتي اژانس نشراتي اداره، ۱۹۷۹م. کال ۲۸ ـ ۲۹ مخونه.

تیوری په باب دمقالو اوآثارو په لنډه کول له نویو ادبیاتو او هغه مترقی جنبش سره ر ښتینی پیوند لری چی ، د خلکو د پراخو پرګنو د سپیڅلیو ارمانونو دترسره کیدلو په خاطر یی ، د کارګری طبقی اودهغی په سرکی د انقلابی پرولتاریا دحقوقو اوګټو د دفاع په سنګرکی دمخکښی رول لوبولی دی او په هره شیبه کی یی د دښمن سنګر تراورنیو ګوزارونو لاندی نیولی دی .

که پهګران افغانستان کی د نویو ادبیاتو دغورځنګ پروسه په غور سره مطالعه کړو ، نوو به ګورو چی ، زموږ د سورنی وطن دو رونو ملیتو نو په ادبیاتو په تیره بیا په پښتو ادبیاتو کی دسوسیالیستی ریالیزم نښی نښانی هغه وخت راڅرګندیږی چی، په افغانستان کی د ویښو ځلمیانو سیاسی نهضت د ادبی غورځنګ په بڼه منځ ته راځی .

په دی سیاسی - ادبی جنبش کی یوشمیر داسی نامتو شاعرانو او لیکوالو غړیتوب در لود چی، هغوی زموږ په اوسنی افغانستان کی داستبداد په مقابل کی د خلکو د کړکو او مبارزو دانعکاس و یاړ لری او هم ځینی داسی عناصر تنظیم و و چی ، یو څه چپ او د یموکراتیک افکار یی لرل او په را تلونکی کی د استبداد د رانسکورولو په نتیجه کی دیوه ملی او دیموکراتیک انقلاب په انجا مولو سره د نوی ټولنی د مادی او تخنیکی جوړښت د زمینی دبرابر و لو لپاره یی د بی کوره ، وږو او تږو انسانانو سرګښو مبارزوته روښانه اوځلانده انعکاس ور کړ.

پهدی ارتباط سرخیرونکی دوست شینواری .اسی لیکی :

« لومړی جریده چې دوېښو ځلمیانو د افکارو خپروونکې وه یعنې انگار د ۱۳۲۹ هـ . کال د حوت په نهمه نېټه له چاپه راووته. په دغه جریده کې مونږ داسې تکې گورو چې ، په افغاني مطبوعاتو کې یې في المجموع سابقه نه درلوده او د سوسیالیستي ریالیزم د ادبیاتو له مهمو خصوصیتونو څخه دي ، لکه د کورو او کالیو غوښتنه ، د حقیقي دموکراسۍ غوښتنه او تعریف یې : (د نژاد ، قبیلې ژبې او کورنۍ له امتیاز پرته د ملت د ټولو وگړو ترمنځ آزادي او برابري) د استعمار او استثمار پرضد مبارزې ته بلنه ، د یوه مترقي او دیموکراتیک گوند یادونه او داسې نورچې ، تردمخه یې په افغاني ادبیاتو کې سابقه نه درلوده .

البته ، که څه هم دوېښو ځلمیانو د افکارو په خپروونکې جریدې (انگار) کې ځینې دغه شان اصطلاحات لیدل کیدل ، چې د سوسیالیستي ریالیزم په ادبیاتو پورې منحصر دي ، خو په عمومي صورت دوېښو ځلمیانو ادبي غورځنگ د انتقادي ریالیزم دوره دی او انکشاف مرحله ده . » (۱)

له پاسنۍ بیان څخه دغه دری نتیجې اخوستل کیږي :

لومړی - دوېښو ځلمیانو د غورځنگ د مشرچپوا او دیموکراتیکو

---

(۱) - ژوندون ، د ا . د . ج د لیکوالو اتحادیې خپرنی ورگان ، ۱۳۶۳ هـ . کال ، لومړی گڼه ، مضمون : په پښتو او دري شعر کې د اجتماعي ریالیزم پیدایښت او پرمختگ ، لیکوال : مرغیرونکی د وست شینواری ، ۲۲ مخ .

غړو د تخیل او فکر مرغـه د نژاد ، ژبې، قبیلـې او ملیت په تنګو
چوکاټو کې نه دی بندی شوی ، بلکې له هغوی څخه بهر یې خپل
وزرونه رېږولي دي .

دویم ـ د «انګار» جریده دانتقادی ریالیزم او سوسیالیستی ریالیزم
دافکارو ترمنځ د اتصال کړۍ ده یعنې دغه جریده که څه هم دانتقادی
ریالیزم د دوران جریده ده . خو د سوسیالستی ریالیزم دافکـار و
دانعکاس پیلامه هم ګڼـل کېږي .

درېـم ـ په نوموړي جریده کې د سوسیالیستی ریالیزم افکار
دانتقادی ریالیـزم په بطن کې زېږي . د دغه ریالیزم په پیدا ښت
سره د افغانستان په ادبیاتو کې نوی مرحلـه پرانستل کېږي او د
دیالیکتیک د نفی ـ نفی له قانون سره سم د خلکو غوښتنو ته مثبت
ځواب ورکوي .

حقیقت دادی چې ، دوخت مستبد دولت دانګار جریدې د دغه
ډول افکارو د زغم توان نه درلود . هماغه و وچې ، له یو څه نشراتی
کارڅخه وروسته یې غاړیو چنه کړه ، خو د دغې مترقـی جریـدی
لیندی سازه خپرونو زموږ نوی نسل ته نوی پیغام ورکړ .

دوطن رښتینو زامنو خپل هڅې نوری هم ګړنـدۍ کړی او د
۱۳۳۲ — ۱۳۴۲ هـ . کلـونو په دوران کې دانقلابی او طبقاتی ناولونو
او کیسو په لیکلو سره زموږ دادبـی او سیاسی جنبش فضالا پسی
سره کړه .

دغـه هلی ځلی یوازې د کیسی او ناول په برخه کې نه ، بلکې
د شعر په جهان کې هم دخاصی یادونی وړ دی .

«په دې برخه کې ګرانه ده چې کره وویل شي چې، د سوسیالیستي ریالیزم لومړي شعرونه کوم دي، خو دا په یقین سره ویلی شو چې د پښتو د شعر په برخه کې د سوسیالیستي ریالیزم د ظهور او انکشاف ویاړ د سلیمان لایق په نامه پورې تینګ ارتباط لري، موږ د شعر په ډېرې کې د سوسیالیستي ریالیزم لومړي مکملې بېلګې په (چوڼغر) کې وینو چې، په ۱۳۳۱ هـ. کال کې خپور شوی و.

... د لرو پښتنو په شعر کې هم د سوسیالیستي ریالیزم څپې لیدلی کېږي او په دې لاره کې مرحوم صنوبر حسین کاکاجي ترنورو تولود مخه ځای لري بیا انقلابي شاعر اجمل خټک، عبدالاکبر خان اکبر سیف الرحمن سلیم، سعدالله برق، قلندر مومند، افضل حق شیدا رحمت شاه سایل او داسې نور په دې برخه کې دخاص یادونې وړ دي.» (۱)

پردې سر بېره، د پښتنو د نامتو مشر شهید خان عبدالصمد خان اڅکزي په عقیده:

« ادب لکه سیاست د جنګ د ډګر حیثیت لري، چې زور وري مبارزې پکې کېدلی شي » (۲) دی وایي چې: «لیکوال یا د سپاهي

(۱) - ژوندون، د ا. د. ج د لیکوالو د اتحاد د بې خبرتیا اورګان، ۱۳۶۳ هـ. کال، لومړی ګڼه، ۲۳ مخ.

(۲) - کابل، د افغانستان د علومو اکاډیمي، ۱۳۶۲ هـ. کال اتمه ګڼه، مضمون: د لرې پښتونخوا د ادبیاتو د پرمختګ په لاره کې مهمه مرحله، د ګ. ل. ګیرس لیکنه، د محمد شینواري ژباړه، ۵ مخ.

وی او قلم یې د توری او خنجر ځوند ی کاروړ کړی ، که ادب پوازې د ساعت تیری وسیله شی او ژوندته یې مخه نه وی ، په دې صورت کې ادب حتی د هیو اددانکشاف او تمامیت په لار کې خنډ واقع کیږی او دګټې نه په یې ضرر زیات وی . » (۱)

دی په یوه بل ځای کې زیاتوی چې :

« کوم ابتکار او اقدام چې موږ پیل کړی دی ، د هغه په لار کې فیوډالان ، خانان ، زمینداران او نوابان دیری اچوی او موانع ایجاد وی » (۲)

همدارنګه ، د حماسی اشعارو په باره کې دارا چاد ماستر عبدا لکریم را په داسی ده :

«د حماسی اشعاروښېښتن د عسکر او سرباز په نامه هم یادیږی ، کله چې په هیواد کې سیاسی ظلم او تیری منځ ته راشی ، کله چې د دښمن عسکر استبداد او تعدا پیل کړی او د هیواد سپیڅلی خاوره پایمال کړی او کله چې ملت د دښمن په مقابل کې خپل مقاومت دلاسه ورکړی ، په دغه حساس وخت کې شاعران را پیدا کیږی ، په کوهو ، واتونو او میو ځایو نوکې ودر یږی او مؤثر او انګیزمن شعرونه وایی او خپلو وطنوالو ته چغې وهی چې ، د زړور تیا او شجاعت نه کار واخلی او خپل مقاومت له لاسه مه ورکوی . د دوی

(۱) ـ د تیرمخ د وهم ماخذو ګوری !

(۲) ـ کابل ، ۱۳۶۲ ه . کال ، ۹ ـ ۱ ګڼه ، داولس په بیداری کې د پښتون مجلی رول ، د ګ . ق . ګیرس لیکنه ، د معتمد ترجمه ، ۷۳ مخ .

PROPERTY OF ACKU 4873

په دارو سره په ملت کې په خپل ځان باور ټینګیږي، ملت پورته کیږي او خپله ځمکه له دښمن څخه پاکوي او استثمار او استعمار ته ځواب ورکوي.»(۱)

مهمه خبره دا ده چې، په پښتو ادبیاتو کې د درد پېټي او خواریکښ انسان چغې پورته کیږي او انعکاس مومي.

کله چې په دېره پښتونخوا کې مترقي سازماني مبارزې لوړ پړاو ته رسیږي، نو د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند تاسیسیږي. د دغه ګوند د خپلو مترقي او انقلابي خپرونو په وسیله په افغانستان کې د سوسیالیستي ریالیزم د نسبتاً منظمې ودې او انکشاف ویاړ ترلاسه کوي، خو ډېر ژر دا سالمې خپرونې هم د خلکو د قسم خوړلو دښمنانو له خوا مصادره کیږي او بیا وروسته د ښتینو مبارزینو له خوا په مترقي لیکنو سره ادامه پیدا کوي.

د دغه وخت ادبیات، زموږ د ولس او د انقلابي غورځنګ د مبارزو څپې لا پسې پیاوړې کوي، د خلکو د پرګنو ذهنیتو ته ویښوونکی تکان ورکوي، د بې وزله انسان د ارادې د خپلېدو لپاره زیار ګالي او د مزدورانو د کاروان په بهیر کې په شعوري توګه دروي.

لنډه دا چې، د ثور تر پرتمین انقلاب پورې د مترقي او سپېڅلو پلو-یاوو څښتن لیکوال، شاعران او ادیبان، د زیار ایستونکو د روا حقو-

(۱) - کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ ه. کال، اتمه ګڼه، مضمون: د لرې پښتونخوا د ادبیاتو د بدلون په لاره کې مهمه مرحله، د ګ. ف. ګیرس لیکنه، د معتمد شینواري ژباړه، ۵۵ مخ.

تر دا مهالې لپاره د شعر او ادب په ډګر کې نه تسلیمیدونکې مبارزه کوی او د فرهنګ د ډیموکراتیزه کولو لپاره خپلې انقلابی مبارزې په پوره ویاړ او سرښندنې سره سرته رسوی، ځکه چې زموږ په خوا- په هیواد ګران افغانستان کې د ثور ویاړلی انقلاب بریالی کیږی نو له بله پلوه زموږ انقلاب او ادبیات هم، د نړۍ د انقلابونو او اد- بیاتو د یوې نه جلا کیدونکې څانګې په توګه تبارز کوی. په دې باره کې دستګیر پنجشیری داسې لیکی:

«لکه څنګه چې د ثور انقلاب د نړۍ د انقلابی بهیر یوه نه بیلیدونکې برخه ده او د اکتوبر له ستر انقلاب څخه سرچینه اخلی، دغسې د افغانستان نوی ادبیات هم د جهان د مترقی ادبیاتو د پرمختللونکې اروسی یو نه جلا کیدونکی جز ګڼل کیږی.»(۱)

همدا ډول، سلیمان لایق د پښتو د نوی ریالیستیک شعر د ځانګړتیاوو په باب داسی وائی:

«زموږ نوی ریالیستیک شعر د زیار ایستونکی انسان له ارمان سره سم له دروغو، مبالغو، ستاینو، ذهنی ګری او ضد بشری مفکورو سره نه پخلا کیدونکی دی.

د ثور انقلاب د خوځنده او داینمیک پرمختګ پس منظر حکم کوی چې، پښتو شعر به د انقلاب په دی مرحله کې د خپل کمال او جمال

(۱) - دستګیر پنجشیری، پیک دوستی، از نشرات اتحادیه نویسنده ګان ج.د.ا، سال ۱۳۶۳ ه. ص: ه مقدمه.

هغې پوړۍ ته ورسېږي چې زموږ د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې به یوه ځلانده دوره پرانیزي . » (۱)

په رښتیا چې د پښتو نوی ادبیات چې د ثور د پرتمین انقلاب په برې سره بې منظم او سیستماتیک انکشاف پیل شوی دی، د خوارېکښ انسان د هیلو د خوځښتو د سپېڅلو هینداره دی .

زموږ د ملي او دموکراتیک انقلاب په دوران کې ایجاد شوي ادبیات زموږ د انقلابي او دموکراتیکې ټولنې ځرګندونې منعکسوي ، نو ځکه پردې اکه ځکه چې د ثور انقلاب تېره شو که د فیوډالیزم در ښوا یستلو ته متوجه دی او په بهر کې د امپریالیزم پرضد دی، نو ځکه د دغه دوران انقلابي او دیموکراتیک ادبیات د خپل ماهیت له پلوه، په هېواد کې د ننه د فیوډالي درباري او اشرافي ادبیاتو پرضد او په خارجي سویه د امپریالستي ارتجاعي ادبیاتو پرضد دی ، خو مضمون یې هم له بورژوازي ادبیاتو سره په تضاد کې دی. سوږ هڅه کوو چې د ثور انقلاب دودی ستونزمنه او اوږده لاره تېره نه کړي، بلکې د پر — مختګ په نوي اولنډه لاره تکامل وکړي. « په ۱۹۶۹ م . کال کې ورونو ګوندو نوو لیکوال: او س دموکرتیک جنبش یوې نوې سرحلې ته داخل شوی دی او هغه دا چې د هغه مضمون د سرمایداري ضد دی . » (۲)

---

(۱)ـ د افغان پاد ، کابل پوهنتون ، ۱۳٦۰ هـ . کال، مضمون : په پښتو کې د نوي شعر را پیدا کېدل او د هغه اساس مضمون لیکوال : سلیما لایق ، ۳٦ مخ .

(۲)ـ د کابل پوهنتون په پښتو څانګه کې د استاد ذکرپاله درسي یاد ښتو نو ښځه .

د انقلاب په نتیجو شرایطو کی زمونږ دورونو ملیتونو ادبیات د دی حالت د غوښتنو انعکاس بلل کیږی نهد سوسیالستی تولنی، نو لکه څرنګه چی زمونږ د انقلابی دولت لوری نوی تولنی ته متمایل دی ، په همغه ډول زمونږ د تولنی داوسنیو شرایطو ادبیات هم په اجتماعی عدالت ولاړی تولنی ته متمایل ادبیات دی .

که چیری کوم اثر د سوسیالیستی ریالیزم پر بنا و ګورو نو هغه د سوسیالیستی ریالیزم د هغی نطفی د انکشاف معنا لری چی زمونږ د معاصر ادبی نهضت په ګیډه کی ایښودل شویده او اوس دی نطفی پرمختګ کړی دی او د پیشرفت لپاره یی داخلی او بهرنی شرایط څه ناڅه مساعد دی. د ریالیزم دا شکلونه په خلاق ډول یوله بل سره ترکیب کیږی او په ځینو مشخصو حالاتو کی باید ترکیب شی«... لینن وویل :

د دموکراتیکو وظایفو او سوسیالیستی فعالیت یوله بل سره ټینګ ارتباط لری ، که وظایف دموکراتیک وی ، نو د پرولتاریا دیکتاتوری باید غائی هدف وی. که چیری کارګری ګوند د سوسیالیستی فعالیت په ملی او دموکراتیکه مرحله کی وی او د ورځی د دموکراتیکو وظایفو د سرته رسولو سره یو ځای سوسیالیستی وظایف اجرا نه کړی نو کارګری ګوند د لاندی عمده خطرونو سره مخامخ کیږی؛

۱— په دموکراتیکه جبهه کی د کارګری ګوند منحلیدل .

۲— له تودو څخه د کارګری ګوند تجریدیدل»(۱) چی د دی وخت

(۱) — د کابل پوهنتون په پښتو څانګه کی د استاد ذکریا له درسی یادښتونو څخه .

ادبي پروسې د دغو شیبو او حالاتو له اغېزو څخه بچ نشي پاتې کېدلی .

خلاصه دا چې ، زموږ د ملي او دموکراتیک انقلاب دا اوسنیو حالاتو په جریان کې منځ ته راغلي هنري ادبیات د انقلابي او دموکراتیک میتود پر اصولو او احکامو ولاړ ادبیات دي او همدا شان د انقلابي دموکراتیزم په بطن کې د سوسیالیستي ریالیزم نطفه د سوسیالیستي دموکراتیزم پر لور انکشاف کوي .

زموږ د هېواد انقلابي او دموکراتیک ادبي غورځنګ که له یوې خوا له سترو پر مشکلونو سره مخامخ دی ، نو له بله پلوه سخت خطرونه هم ور ته متوجه دي !

په اصل کې د دغو خطرونو یو شمېر ایجاد ونکي د نویو ادبیاتو د زرینو وړانګو د خورېدو زغم نه لري ، نو ځکه هڅه کوي چې زموږ نوی او ځوان ادبي نهضت بې لارې ته سوق کړي .

د دوی زړو افکارو او اشارو له نویو ادبیاتو او اثرو نو سره په مخامخ لښته کې ماتې و خوړه نو اوس د دې لپاره چې زاړه افکار په نوې پرده کې وښیي ، د ډولونو په یو ډول په ادبي او هنري اثارو کې اندېښنه (مفکوره) له فورم او تصویر څخه قربانوي ، هڅه و ژني او شاربوچه کوي يې ، خو باید په یاد ولرو « کله چې بورژوازي له مارکسیزم سره په مخامخ مبارزه کې ماتې وخوړه او مارکسیزم په پوره ډول غالب شو ، نو بورژوازي عناصرو خپلو څېرو ته داسې

تغییر ورکړي، خلک ورباندې د کمونیستانو ګومان وکړي.» (۱)

دې ټکي ته په پښتو ادبیاتو کې ځانګړې پاملرنه په کار ده!

شاعر او ادیب باید د شعر او ادب د هنریت ترڅنګه خپل تاریخي رسالت هېر نه کړي او د اندیښې او تصویر ترمنځ دیالکتیکي تناسب باید په نظر کې ونیسي. رنګین تصویر او شاعرانه کلمات او عبارات په هغه وخت کې زموږ په زړه ښه لګېږي چې، آینده ساز مفکوره پکې افاده شوې وي او که داسې نه وي، نو داسې به وربښي، لکه یو څوک چې وچ لرګي ته د ناوې جامې او کالي وراغوندي!

نوي شاعران او ادیبان باید هغه د ویتنام د کمونیست ګوند او د ویتنامي انقلابي ادبیاتو د مؤسس (هو چي من) خبره «پولاد دې په رباکړي او په شعر کې دې وځلېږي.»(۲) له یاده ونه باسي. په دې ارتباط، د پښتو ژبې نازک خیال شاعر (حنان بارکزی) څه ښه وايي:

«په معنی زړه خوشحالېږي په حرف نشي
وي په مېو کې نشه نه په ساغر کې.»(۳)

---

(۱) ـ د کابل پوهنتون په پښتو څانګه کې د استاد ذکریا له درسي یادښتونو څخه.

(۲) ـ زیری، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۵۹ هـ. کال، ۳۸ ګڼه، مضمون: هوچي من شاعر او انقلابي، ترجمه: د روهـ ن، دریم مخ.

(۳) ـ کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۴ هـ. کال، ۴-۵ ګڼه، مضمون: د ابوالمعاني بېدل او مېرزا حنان بارکزي د ادب د دریاب د څو پوړي یوه کتنه، لیکوال: ژواک، ۹۶ مخ.

بله داچې، که په شعر کې شاعر يوازې تصوير ته خاصه پاملرنه وکړي، نوهغه به داسې مثال ولري، لکه عکاسان چې د يوې منظرې عکاسي وکړي او داسې به ښکاره شي، لکه د سينما په پرده او د تلويزيون په ښېو کې دراکد عکس ښودنه، خو که له تصوير سره احساس، سوز اوگداز ملگرې شي، نوهغه به داسې ورېښي لکه د سينما په پرده او د تلويزيون په ښېو کې د خوځنده او متحرك عکس ښودل او د شاعرانه مفاهيمو انديښې او تخيل انعکاس د شاعرانه تصويرونو او ترکيبونو له لارې نه ښه کيدلی شي، خو تصوير د احساس په تاثير په حرکت راځي. د شاعرانه مفاهيمو، انديښې او تخيل لاره په تصوير پاندې ده او د تصوير لاره په احساس پاندې ورغلې ده!

زموږ په معاصره ادبي پروسه کې يل منفي تمايل دادی چې، يو شمېر د گوتو په شمار کسان هغه کوي، چې فورم له انديښې هغه قربان کړي او د لوېر نې تمايل په مقابل لورې کې ځان ونيسي، خواصلی خبره دا ده، چې بايد د فورم او پايداتر منځ د يا لکتيکي تناسب په ځورا مهارت سره وساتل شي!

پورتني تکي د علمي ميتود او لوژی د اصولو او احکامو پر بنسټ پاندې مدلل او مستند شوي دي.

«علمي ميتود يوواقعيت يوازې په دې سبب واقعيت نه گڼي چې پلانکي صاحب تاييد کړي يا ويلي دي، بلکې په دې سبب يې واقعيت بولي چې، د علمي تجربي او منطقي استدلال له خوا يې ملاتړ شوی دی...

یوه مشهوره خبره ده چې یو وخت (ارسطو) د خپل استاد (افلاطون) پر نظریه باندې انتقاد وکړ، چا ورته وویل چې ایا ته د خپل ښوونکي احترام نه کوې، چې پر هغه باندې دې انتقاد وکړ. ارسطو یې په ځواب کې وویل، افلاطون را باندې ګران دی مګر حقیقت له ده څخه زیات را باندې ګران دی.» (۱)

په ځانګړې او لنډه توګه د ادبیاتو نوې تیوري د نوې میتود-ولوژۍ اساسي او عمده اصول په لاندې ډول دي:

الف – له مادي نړۍ سره د ادبیاتو دیالکټیکي اړیکې د ټولنې د اقتصادي او ټولنیز فعالیت پر بنسټ تکامل مومي.

ب – ادبیات – واقعیتونه د مجردو علمي مفهومونو غوندې نه بلکې د ژبې په وسیله، په مشخصو هنري څېرو کې منعکسوي.

ج – ادبیات په طبقاتي ټولنو کې تل طبقاتي خصلت لري.

د پاسنیو میتود ولوژیکو اصولو پر عکس احکام د ادبیاتو عینیت او وزاره سیتو د میتود یک اساسي اصول دي.

په واقعیت کې د زړې او ارتجاعي ادبي تیوري زوړ میتود د فیو-ډالانو، پانګوالانو، امپریالیستانو، مرتجعینو او د هغوی د آلي ټولې ګټو څخه دفاع کوي او د هغوی ګرغېړنې عملي منعکسوي مګر د نوې ادبي تیوري مترقي میتود د کارګرې طبقې او ټولو زیارګالو-نکو له حقوقو، غوښتنو او جنبشونو څخه خبري کوي او د هغوی په خدمت کې تري کار اخیستل کېږي.

---

(۱) – شېرنوال م. صدیق روهي، د شعر نې لارښود، پښتو ټولنه ۱۳۵۴ هـ. کال، ۴۱– ۴۲ مخونه.

اوس بیا د ادبیاتو د نوی تیوری د مترقی میتودولوژی دارزښتونو او مزایاوو په هکله په لنډو لیکو او څو جملو کې څو خبری وکړو او په ساده واره یې په بی اهمیت وبولو، چې په دې ارتباط یو عمومی منظره درته ترسیم شی :

۱- نوی ادبیات د علمی او انقلابی نړی لید د پرنسیپونو، اصولو او احکامو پر بنسټ مطالعه کوی .

۲- د ادبیاتو په توضیح او څیړنه کې طبقاتی معیار وړاندې اوساوزین له نظره نه غورځوی .

۳- د نویو ادبیاتو زیږیدنه او انکشاف د انقلابی او مترقی نهضتونو د مبارزو، د غرو او پاڅونونو په ارتباط تشریح کوی او له همغوی سره اورګانیک پیوند ورکوی .

۴- شاعران او ادیبان د بورژوازی د نو رمانتیسټی او نورو د ترقی ضد میتودونو له پیروی څخه ژغوری او په مقابل کې د سوسیالیستی ریالیزم د پرنسیپونو په رعایت ټینګار کوی .

۵- د ادبیاتو په پرمختګ او تکامل کې د اقتصادی پایی تاکونکی رول ته ځانګړی اهمیت ورکوی ، خو په عین حال کې د ادبیاتو په کیدون د مغ بنا (روبنا) نسبی خپلواکی هم نه ردوی .

۶- د واقعیتونو په افاده کې د شاعرانه او هنری ادا اغیزی غوره کنی .

۷- د آینده په خاطر د ژمنو (متعهدو) شاعرانو او ادیبانو تاریخی رسالت بیانوی .

۸ - په هر ډول حالاتو کې د نویو ادبیاتو مخکښانو زیار ستاینې او د معنوي ادبي فعالیت د یوه لارښود علم په توګه رهبري کوي.

۹ - د نوې ادبي تیوري په ډګر کې د استثمار او استبداد پر خلاف د خلکو کړکو او مبارزو ته انعکاس ور کوي.

۱۰ - د زړې ادبي تیوري د ارتجاعي او منفي معنوي میتود تیمګر-تیاوي، تاوانونه او نواقص روښانه کوي او په وړاندې ئې سنګر باندې بې دریغه اور سرې سکروټې ور غورځوي.

۱۱ - په یوه مشخص تاریخي دوران کې د نویو ادبیاتو تیوري د انکشاف سیر څرګندوي او له پرولتري شعور، فرهنګ او د زحمتکښانو له مبارزو او خوځښتونو سره ئې اړه ور کوي. لینن راڅرګنده کوي چې:

« د پرولتاریا فرهنګ په ناڅاپي توګه له ناپېژاندل شوي ځای څخه نه را ښکاره کېږي. دغه فرهنګ د هغه حاصلاتو او علمو چې خپل ځان د موضوع متخصص ګڼي، د هغه ټول نتیجه ده. د پرولتاریا فرهنګ باید د هغې ټولې پوهې منطقي پراختیا وي چې، بشریت ذخیره کړېده ... »(۱)

---

(۱) - ګرد آورنده و مترجم: مریم فیروز، مارکس، انګلس و لنین در زندګی خصوصی، تهران، از انتشارات حزب توده ایران، سال ۱۳۵۸ هـ. ص: ۱۷۱.

د ادبیاتو دنوی تیوری پرمختیایی حالتونه

دادبیاتو دنوی تیوری پرمختیایی‌حالتونه ، په لاندی ډول تصنیف‌کولی شو :

الف ـ دعلمی نړی لیدله تدوین‌څخه مخکی ، دادبیاتو د نوی تیوری نطفه ایزه وده او پرمختګ :

داهغه حالت دی چی، دادبیاتو دنوی تیوری نطفه د لرغونی یونان اوروم دغلامی په‌عصرکی ایښودل‌شوی، په (ساده اوخود بخودی‌بڼه) وده‌موندلی او په‌راوروسته‌کی د (ناسینالیزم) دپیروانو اودپانګوالی نظام دظهورپه زمانه کی‌د (میخانیکی ماتریالیزم) دمخکښانو له‌خوا په مترقی نظریاتو سره ادامه پیدا کوی .

په دغه حالت کی ماتریالیزم له دیالکتیک سره نه‌دی اغیزل شوی ، علمی جهان بینی د یوه علم په توګه نه وه تدوین شوی اوداد بیاتو دنوی تیوری دانکشاف لپاره لازم شرایطاو امکانات موجود نه وو، لوځکه د همدی تیوری پرمختیایی سیورو ـ و رو‌تـر سره کیده .

د ادبیاتو د نوی تیوری د لومړی برخې مخکښان له لر خونی یونان څخه هیر اکلیت (۵۳۰ - ۴۷۰ ق.م.) ، دیمو کریت (۴۶۰ - ۳۷۰ ق.م.) او ارسطو (۳۸۴ - ۳۲۲ ق.م.) دی. (۱) او له پخوانی روم څخه تیتوس لیو کری شیس کاروس (۹۸ - ۵۴ ق.م.) (۲) او نور دی .

د منځنیو پیړیو د تیاره فیودالی دوران پهوخت کی،چی په اصل کی له تولنی څخه د هنرمند د تیښتی او گوښه والیعصردی،داد بیاتو د نوی تیوری میتودیکه اساس (نامینالیزم) تشکیلاوی ،چی د هماغه وخت له (ایډیالیستی ریالیزم) سره یی په مبارزه کی انکشاف کری اود کلیسایی روحانیونو له پرله پسی فشارنی او بندیز سره یی مترقی نقش لوبولی دی .

کله چی د منځنیو پیړ یو د فیودالی مناسباتو په گیډه کی د رنسانس اوبورژوازی سیستم زری زرغونیږی، نوبیا که له یوی خوا فلسفی مبارزی خپله ټنه پدلوی اود(ایډیالیزم) او(میخانیکی ماتریالیزم) تر منځ یی هدت اوتوت زیاتیږی اوله بله پلوه د ادبیاتو د زړی او نوی تیوری د پوهانو تر منځ هم قو ریکی او نظریاتی مبارزی او

---

(۱) - نویسنده : دکتور طلعت رستم زاده صالح ادبیاتشناس اتحاد شوروی ،مترجم : محمدعالم لیوب،تیوری ادبیات ، پوهنتون کابل، پوهنځی زبان وادبیات، سال ۱۳۶۳ هـ.ص : ۲.

(۲) - اریانا، دا. د. ج د علومو اکادیمی، داجتماعی علومو مرکز، ۱۳۶۳ هـ. کال، دوهمه گڼه، مضمون: ماتریالیزم، لیکوال: م . انور نومیالی ، ۳۹ مخ .

مقابلې، دخپل تکامل په نوي پړاو ته راوچتېږي او دا کار داد بیالو د نوي تيوري په جهان کې د (ميخانيکي ماترياليزم) د تيو- ريسنانو او مينه والو له زيار او هڅې څخه پرته په درست ډول نشي تشريح کېدلى، د نمونې په توګه: په دغه لاره کې د انګرېزي ليکوال فرانسس بېکن (١٥٦١-١٦٢٦ م.) تللاندوله، نه هېرېدونکى دى.

محمد انور نوميالى د (فرانسس بېکن) د ادبي او تيوريکو کارنامو او هڅو نه يادونه داسې کوي:

«فرانسس بېکن د سرى او زرهوالى په تولو رنګو سره ماده وځلاوله او لکه مارکس چې وايي: په ځپله شاعرانه حسي ځلا کې انسان ته موسکا کوي ... او د فردوسي دا شعر چې (توانا بود هر کې دانا بود) د بېکن په فلسفي ادبياتو کې په ډېر ډول پيامنځ ته راغلى چې (پوهنه قوت دى).» (١) څو کاله چې د توماس هابز (١٥١٨-١٦٧٩م.) له خوا د فرانسس بېکن فلسفي تګلاره پرمخ ځي، نو بيا کارل مارکس وايي:

«پوهنه چې له حواسو را پيداوه، خپله شاعرانه ځلونه يې ورژوله او د رياضي د عالم مجرده فکري مسله څېړنې جوړه شوه...» (٢)

---

(١)-آريانا، د ا. د. ج دعلومو اکاډيمى، د اجتماعي علومو مرکز ١٣٦٣هـ. کال، دويمه ګڼه، ليکوال: م. انور نوميالى، مضمون: ماترياليزم، ٦٤ مخ.

(٢)- آريانا، د ا. د. ج دعلومو اکاډيمى، د اجتماعي علومو مرکز، ١٣٦٣هـ. کال، دويمه ګڼه، مضمون: ماترياليزم، ليکوال: م. انور نوميالى، ١٩ — ٢٠ مخونه.

سرڅېړونکی م. صدیق روهي د فرانسې یکن بوستال د دریو ادبي مکتبونو (رومانتیزم، نیچرالیزم او ریالیزم) د پېژندنې لپاره تر یوې اندازې پورې درست ګڼي او داسې لیکي:

«یکن وایي، چې ځینې کسان د ځینو په شان دي چې هرڅه له خپلې ګېډې راباسي.

ځینې کسان د میږیو په شان دي چې له بهر څخه دانې راټولوي او ذخیره کوي یې. دریمه ډله د مچیو په شان شیره له خارج څخه اخلي او په شاتو یې بدلوي. د دغه مثال تر یوې اندازې پورې د دغو دریو ادبي مکتبونو په مورد کې صدق کوي. لومړی ډله رومانتیک لیکوال هرڅه د خپل تصور او عندي نظر پر اساس بیانوي، خارجي واقعیت په نظر کې نه نیسي او هرڅه له ځانه جوړوي. دوهمه ډله نیچرالیست لیکوال دي چې د خارجي پېښو د بیانولو په ترڅ کې د ننداري حیثیت لري او د میږیو په شان مواد راغونډوي. دریمه ډله ریالیستان دي چې د یوې ښې څېړې او لازم مواد له خارج څخه راټولوي او بیا یې د خپل فکر په میزان تلي او وروسته یې په شکلي سبک نورو ته وړاندې کوي.»(۱)

ب ـ د ادبیاتو د نوی تیوري دا حالت د نړۍ د پرولتاریا او نورو زیار ایستونکو د سترو رهبرانو کارل مارکس (۱۸۱۸ـ۱۸۸۳م.) او فریدریک انګلس (۱۸۲۰ـ ۱۸۹۵م.) د مبارزو له لومړیو شیبو څخه راپیل کیږي او د جهان د خوا ریکښانو د ستر لارښود و لادیمیر ایلیچ لینین (۱۸۷۰ـ۱۹۲۴ م.) تر زرین عصر پورې ادامه مومي:

---

(۱) ـ څېړندوی م. صدیق روهي، ادبي څېړنې، د ننګرهار (میاروخان) پوهنتون، د ښوونې او روزنې پوهنځی، ۱۳۶۰ هـ. کال، ۱۰۳ مخ.

د اوخت د نوی ادبی تیوری دآګاهانه او سیستماتیك انکشاف دوران پیل کیږی او ددی کار اساسی علت هم دادی چی، د کارل مارکس او فریدریك انګلس په وسیله د طبقاتی مبارزی تیوری تدوینیږی او د پرولتا- ریا او نورو زیار کښانو له ګټو او را تلونکی سر نوشت سره پیوند ور کوی. دغه مشخښه ایډیالوژی په آګاهانه توګه د ادبیاتو د نوی تیوری ایډیالوژیك او میتودولوژیك اساس ګرځی.

دادبیاتو د نوی تیوری پرمختګ چی، په واقعیت کی د نړی د پرولتا- ریا او دهغوی د رهبرانو له زړورو کارنامو سره ورځ په ورځ انکشاف وموند، تر وروستی بری پوری نژدی اولری هڅونه په نښه شول.

کارل مارکس او ف. انګلس نه یوازی د نویو ادبیاتو د تیوری په انکشاف کی ستر رول و لوباوه بلکی د جهان د نامتو ادبیانو او لیکوا- لو آثار یی هم مطالعه کړل او په انتقادانه روحیه یی د هغوی لیکر- تیاوی را برسیره کولی، او ځینو ته یی ستاینلی او د طبقاتی او ایډیالوژیکو معیارونو پر بنسټ یی د هغوی دریځ ټاکه.

ف. انګلس وایی چی:

«هغه څه چی ما د تاریخ او اقتصاد په برخه کی د بالزاك له آثارو څخه په لاس راوړی دی، تر هغه په کمه نه دی چی د تاریخ لیکونکو، اقتصادی پوهانو او د احصائیو د راټولوونکو څخه یی حاصل کړی دی او هغه دارنګه (پلاخارك) وایی: کارل مارکس

غوښتل دخپل اقتصادی اثرتر لیکلو وروسته دبالزاک پرانسانی کمیډی پهتفریظ او انتقاد بوا ثرولیکی .» (۱)

همدا رنګه ، بوله هغولومړ نیو میلمنو شخهچی، د کارل مارکس کورته بی لارو موندله ، دآلمان ستر شاعر ها ینریش هاینی و . مارکس اوژنی پهورین تندی د هغه هر کلی و کړ او هغه هم پدی خاطر نهچی هغه بوداسی شاعرو چی، په اجتماعی او سیاسی لحاظ لهمارکس سره هم عقیده وا

... الشانور (۲) پهخپلو خاطرو کی لیکی چی :

بوداسی دوران راورسید چی، هاینی بههره ورځ دمارکس اود هغه د میرمنی دلیدو لپاره راته، خورکوای شی ، هغوی ته خپل شعرونه واولی او پدی باب د هغوی په نظر بوه شی . مارکس اوهاینی کولی شوی چی ، یو کوچنی لس کرښی شعر په ډیرغور تر نظر تیر کړی اود هغه هره کلمه وسنجوی او په تکراری توګه بی سم اوصیقل کړی، خوبو په لور حدته ورسیږی اود هغه نیمګړ- تیاوی اصلاح شی . پدی کار کی لازمه وه چی ، لهډیری حوصلی شخه کار واخیستل شی ، ځکه هاینی دهرډول انتقاد پهوړ ازنا ی پونا روغ ډوله حساسیت درلود ...

---

(۱)- کابل، دافغانستان دعلومو اکاډیمی ، ۱۳۶۳ ه . کال لسمه ګڼه ، مضمون : د ناول ، رومان او افسانی ترمنځ پرتو پیر یوه مقایسوی څیړنه، لیکوال: م. ابراهیم عطایی، ۸۱-۸۲ مخونه.

(۲) ـ دمارکس کوچنی لور وه .

مارکس او هاینې په دله یو بل سره ډېر ګرځېدل. هغه اغېزه چې مارکس پر هاینې وښندله، ډېره ژوره وه. شاعر په ۱۸۴۴ م. کال کې داسې وایي:

«زما شعرونو په لوړه سویه سیاسي محتوا موندله.»(۱)

د مارکس له پاره هم دغه بحثونه له پوره داسې شاعر سره چې، شل کاله له هغه څخه مشر و، ډېر ګټور وو. هاینې له انقلابي پاریس څخه ډېره تجربه درلوده، هغه د اجتماعي مسئلو په سیاسي اهمیت پاندې ډېر پوهېده.

فرانس مهرینګ (۲) د مارکس او هاینې د اړیکو په باب داسې لیکي:

هاینې له مارکس سره چې په پاریس کې هستوګن و، ورځنۍ اړیکې درلې او په همدغه ۱۸۴۴ م. کال کې وچې، د «ژمي داستان» په نامه د هاینې تاپاتي اثر خپور شو.

په دغه دوران کې د هاینې شعرونو هم په مارکس ستره اغېزه کړه. مارکس او انګلس په ۱۸۴۴–۱۸۵۰ م. کلونو کې زیاتره په مقالو کې د هاینې اشعار را نقلول.

مارکس او انګلس د هاینې عظمت درک کاوه او له همدې امله د هغه نېمګړتیاوې هم ور معلومې وې...

(۱) — گرد آورنده و مترجم: مریم فیروز، مارکس، انگلس و لنین در زندگی خصوصی، تهران، از نشرات حزب توده ایران سال ۱۳۵۸ ه. ص: ۱۷ — ۱۸.

(2) — Franz Mehring.

فریدریك انګلس په ۱۸۴۴ م. کال کی په خپله یوه مقاله کی چی په (نیو مو رال ورلد) (۱) کی خپره کړه، دهاینی په باب داسی لیکی:
دالمان ستر شاعر هاینی ان ورځ زموږ له لیکوسره یوځای شوی دی او دسیاسی شعرو نو یو دیوان یی خپور کړیدی چی، په هغه کی داسی شعرونه هم شته چی دسوسیالیزم زیری ورکوی.» (۲)
کارل مارکس نه یواری داد پیاتود پیژندنی په باب دژورو نظر یاتو خښتن و، بلکی په خپله یی هم دی توان درلود چی، شعرو وایی د نمونی په توګه:
«مارکس دالاندی شعرو وایه اوژنی (۳) ته یی وړاندی کړ:
هیڅکله نشم کولی دهغه څه په باب آرام یخ په وړاندی ولاړ شم
چی ځان می په تیزی سره هغه غواړی
هیڅکله ارام نشم پاتی کیدی
او بی له هوسا ینی دتوپان په څیر مخه
وربیږدی دهرډول خطرهر کلی وکړو
هیڅکله هوسا نشو، هیڅکله آرام نشو
هیڅکله په کانه او ګونګه ونه اوسو

(۱) — New Moral word.
(۲)- ګردا ورنده وستر جم: مریم فیروز، مارکس، انګلس ولنین د رزنده ګی خصوصی، تهران، از نشرات حزب توده ایران، سال ۱۳۵۸ ه.
ص: ۱۸- ۱۹.
(۳) - د کارل مارکس میرمن وه.

همدارنګه ، هیڅکله بې غوښتنې او بې کاره نه پاتې کېږو و
هیڅکله به دې همتو او تیټو کسانو
څنګ ته غاړه کېنږدو
د غوښتنې او کار او رڼې هیله
زموږ لپاره پاتې کېږي . » (۱)

د کارل مارکس نثر هم لکه شعر خوږ او پارونکی دی ، هغه په ۱۸۵٦ م . کال کې ، له منچستر څخه د ترېر ښار ته خپلې مېرمنې ته د یوه لیک په ترځ کې داسې لیکي :

زما نازولیه زړه !

... که ما کولی شوی چې ، تا په خپله سینه پورې او ښم حتی یوه کلمه به مې هم نه وای ویلی ، خو څنګه چې نشم کولی ، تا په خپلو شونډو ښکل کړم ، نو باید دا کار په لیکلو او ویلو ترسره کړم . زه ډاډه یم چې کولی شم ، شعر و وایم او د (اوویډ) (۲) د (لیبري تریستوم) (۳) د شعرونو اثر د ژړ ماني چغو په کتاب وابوم او دا تکی باید له نظره هم ونه غورځول شي چې امپراتور اوګوست هغه تبعید کړی و او زه مټال بېلتون څخه په

(۱) ـ مارکس ، انګلس ولېنن در زنده ګی خصوصي ، ص : ۲۳ .

(۲) ـ Ovide لاتیني شاعر دی چې ، له میلاد څخه مخکې په ۴۳ کال کې دنیا ته راغلی او ډېر شعرونه یې ویلي دي ، له هغې ډلې څخه د مینې هنر او د غمونو کتاب چې د هغوی زیات یې په تبعید کې ویلي دي .

(3) — Libritristum.

تبعید کې اوسم او (او وید) نشوی کولی چې، دغه ډول احساس ولري.
البته، په نړۍ کې ښځې ډېرې دي او د هغوی په شمېر ښکلې هم دي
لیکن زه به په کوم ځای کې داسې صورت په لاس راوړم چې، د هغه هره
کرښه او حتی د هغه هر کوټ په ما کې د ډېر خوا ږه او پر جسته یاد و نه
را ژوندی کوی؟ زه حتی ستا په نیاز لین مخ کې، پسای
ته نه رسېدونکې درد و نه اوله لاس ځخه وتلی خاطرې چې، هیڅ
شی به د هغوی ځای ونه نیسی گورم، لیکن ستاد خواږه مخ په
ښکلو لو سره کولی شم د هغوی هېر کړم ...» (۱)

د ك. مارکس (گویته) هم ډېر خوښېده. په ۱۸۶۵ م. کال کې
په انگلستان کې، په یوه پوښتنلیك کې له مارکس څخه پوښتنه
وشوه چې، تاته ډېر گران شاعر څوك دی؟

مارکس ځواب ورکړ:
«... شکسپیر، اشیل او گویته.» (۲)

دك. مارکس دادبی او تیوریکو اثار و یو لو ځانگړی خصوصیت دادی
چې، د قلم تېره څوکه یې طبقاتی او ایډیالو ژیکو دښمنا نو ته متوجه
ده. «زه په جرئت داویلی شم، چې که څه هم ده زیات مخالفین
درلوده، خو یو شخصی دښمن یې لا نه درلود.» (۳)

---

(۱) — مارکس، انگلس و لینن در زنده گی خصوصی، ص: ۲۹.
(۲) — وگ: پورتنی ماخذ، ۴۹ مخ.
(۳) — ملا انور، د مارکس ژوند، د پوهنې د کتاب خپرولو مؤسسه
۱۳۵۹ ه. کال، ۱۰۰ مخ.

دد ی لپاره چی د ادبیاتو د نوی تیو ری په هکله د ک. مارکس او ف. انګلس له ژور ادبی ذوق سره چه اشنا شو، نو به دیوشمیر مخوا ثارو یادونه وکړو، چی د ادبیاتو او هنرپه باره کی بی لیکلی دی:
لومړی -«مارکس -میراث ادبی» (۱)
دویم-«مارکس وانګلس، ادبیات سوسیالیستی و کمونیستی.»(۲)
دریم -«مارکس و انګلس، د رباره ء هنر» (۳) او داسی نور.
دادبیاتو د نوی تیوری پهدغه حالت کی د ک. مارکس او ف. انګلس علمی او آینده سازه نظریات، نه یوازی په عملی و اقعیت واوښتل، بلکی د پاریس د کمون (۱۸۷۱ م.) اود (کمون و الو) د وا کمنی پــه وخت کــی پــرو لــتا ریا یی ا د بیا ت او تیوری عملاً د فرانسی د سوسیالیستی انقلاب پهډګه او ملا تړ کي و د ر یدل. پهدی اړتباطای ۰ژوکوف لیکیچي :
«لومړنی پرولتار یایی انقلاب په ۱۸۷۰م. کال کي پهفرانسه کي منځ ته راغی . . . سره له دی چی د پاریس د کمون غړو قهرمانی او زړورتیا ښودله، لیکن انقلابی سخکښ یعنی خپل ګوندیی نه درلود

(۱) - لنین، پیرامون تا ریخچه مسئله د یکتا تو ر ی، مسکو اداره نشراتی (پروګرس)، ۱۹۸۴م. ص : ۰۷

(۲) -مارکس وانګلس، مانیفست حزب کمونیست، مسکو، اداره نشراتی پروګرس، ۱۹۸۰م. ص : ۵۲ .

(۳) -نویسنده : دکتور طلعت رستم زاده صالح، مترجم: محمد عالم لبیب، تیوری ادبیات، پوهنتون کابل، ص:۳۶ .

او وی نه شو ای کولای، چې د بزګرې طبقې د رهبری تر عهدې ووځي، نو بنا پردی، رهبري يې د داسې کسانو په لاس کې ور کوله چې هغوی پرولتاريانه وو، سره له دې تولود پاريس کمون د تل لپاره د نړۍ په تاريخ کې د لوی ستري پېښې په توګه ثبت شو.» (۱)

«د پاريس په کمون کې د پرولتاريا د انقلاب د ناکامۍ له عمده عواملو څخه يو هم دا وچې، کارګرانو د هغه هيواد بورژوازۍ ته موکه ورکړه چې، د خپلو قواوو په ټولولو پيل وکړي او بيا کارګران په ماتوو او وپښو ولړي.» (۲)

کله چې د پاريس کمون د مشخصو عيني او ذهني علتو له پرېنست دلو تماري بورژوازی له خوا غارپوجن شو، نو بيا يې هم په نړيوال ډګر کې د فرانسې او نړۍ خلکو ته نوی تجربې په لاس ورکړې او د نړۍ پرولتاريا او زحمتکښان يې د تعرض او عقب نشينۍ په هغر کې له نويو تاکتيکونو سره آشنا کړل.

دا د بيا تو د نوی تيوری د هغه حالت پاله مهمه څانګړتيا په دې کې ده چې، د کارل مارکس په رهبری په لندن کې د لومړنۍ

---

(۱) — مؤلف: ای. ژوکوف، مترجم: م. نوميالی، معتود ولو ژی تاريخ، از نشرات اکادمی علوم ج. د. ا، سال ۱۳۶۳ ه. ص: ۱۴۶.

(۲) — د کابل پوهنتون په پښتو څانګه کې د استاد ذکرياله درسي ياد ښتونو څخه.

انټرناسیونال (۱۸۶۴ م ۰)(۱) او د فریدریک انګلس په لارښوونه
په پاریس کې د دویم انټرناسیونال (۱۸۸۹ م ۰) (۲) د جوړېدلو
تجربو هغه تیوري بډایه کړه ۰

د دغو دوو نړیوالو کارګري غونډو له جوړېدلو څخه نه یوازې
د نړۍ د کارګرانو ترمنځ د نړیوالې او پیوستون د اصل د ټینګښت مثمره
نتیجه اخیستله کېږي، بلکې په ادبیاتو کې د جهان د ورونو ملتونو د
پرولتاریاو نورو خواریکښانو د ګډو هڅو او هڅوونکو مبارزو فعال
انعکاس، د ادبیاتو د اساسي دندو په لومړیو کرښو کې ځای نیسي.

د دغو هلو ځلو ترڅنګ د نړۍ د کارګري طبقې د مخکښو ګوندونو
اتحاد د پړاوساز ماتولو له سروژ بوڅخه، د کارګري ادبیاتو او تیوري
د انعکاس چغې پورته کېږي او د اور نیوقلمو لو په ادبي جبهو او سنګرو-
نو کې پر د ښمنو ادبیاتو او تیوري باندې برغل کوي او شیبه په شیبه د دغوی
پرله پسې ماتې منعکسوي، چې دا په خپل ذات کې د بورژوازۍ د مخ په زوال
او ماتې منطق زېږی هم دی. بله داچې، د دغو وزیارونو په بهیر
کې د پوښمېر نورو چپو او د پرو کرا تیکو عناصرو ادبي ایجادات
او تیوریکې خدمتونه. د نړۍ د کارګري ادبیاتو او تیوري یوه برخه
جوړوي، چې دا په خپل ماهیت کې د زیار کښانو د طبقاتي او ایډیالوژیک

(۱) - تالیف چند نویسنده جهان، تاریخ مختصر جهان، جلد سوم
از نشرات کمیته دولتی طبع ونشر ج. د. ا، سال ۱۳۶۲ ه. ص: ۵۳۸.
(۲) - لنین، اپورتونیسم وورشکست انترناسیونال دوم، مسکو
بنگاه نشریات پروګرس، ص: ۹ .

د تاریخ په دغه پړاو کې له خپلو ټولو مخکنیو توپیرونو کاملاً جلا او
مقابل قطب تر اور لاندې نیول دی.

ج- دادبیاتو دنوی تیوری دریم متکامل حالت دلینینیــزم دتیوری او لینینی ادبیاتودبری له دوران یعنی داکتوبر د سترسوسیالیستی انقلاب لــــه بریالیتوب څخه راپیل کیږی اومخ پهوړاندی درومی :

دادبیاتو د نوی تیوری دا حالت تر پخوانیو حالتونو ډیر نوی او متکامل دی او دا ځکه چې، پدی حالت کې لینینیزم د اوسنی عصر مارکسیزم وګرځید او لکه څنګه چې لینین مارکسیستی تیوری ته وده ورکړه په همدغه ډول یې مارکسیستی ادبیات په نویو شرایطو کې وغزول او نوت یې ور کړ، نو ځکه موږ وایو چې لینینی ادبیات او لینینی ادبی تیوری په ننني عصر کې تر ټولو پخوانیو ادبیاتو او تیوریو پرمختللي ادبیات او تیوری دی.

په دغه حالت کې، د اکتوبر د سترسوسیالیستی انقلاب بریالی شو. دی انقلاب د بشریت په تاریخ کې نوی دوران پیل کړ.

«د دی دوران شروع په روسیه کې د سوسیالیستی انقلاب بری او انجام یې په ټوله نړۍ کې د سوسیالیزم او کمونیزم بری وی.» (۱)

په دی باره کې لینین داسی لیکلی دی :

---

(۱) ـ ګلیزرمان، د ټولنیز پرمختګ قوانین: د هغو څرګندوالی او پکارول، مسکو، د (پروګرس) نشراتی مؤسسه، ۱۹۸۳م. کال ۲۲۴ مخ.

« ... موږ حق لرو چې مغرور واو سوا و مغروره هم یو ، ځکه
چې یوډ پرځه بخت زموږ په نصیب شوی دی ، خو دیوه شوروی
دولت په جوړیدو او پیل و کړواو په همدی توګه دنړی په تاریخ کې
نوی عصر پرانیزو ... » (۱)

دې دولتاریا بی ادبیاتو او تیوری اګاهانه او منظم انکشاف
چې د.ك.مارکس او ف . انګلس په عصر کې پیل شوی و ، دلینینیزم
دېری په مرحله کې د خپل تکامل نوی مرحلې ته داخل شو. دغه ټکی
ددی څېری جوت ثبوت دی چې ، مارکسیستی اولینینی تیوری او
ادبیات کوم جامد علم او هنر نه دی ، بلکی ورځ په ورځ تکامل
مومی او دېری لوړ وځو کو ته ځان رسوی .

« لینین ادبیاتو ته زیاته پاملرنه کوله ، شعر یې خوښاوه اوله
شکسپیر ، پوشکین ، بایرون او شېلر سره یې مینه درلوده، په ډېره علاقه
یې دهغو شاعرانو شعرونه لوستل چې ، ډېر شهرت یې نه لاره.» (۲)

لینین نه یوازی ادبی آثار مطالعه کول ، بلکی د هغو په باب یې
څېړنه هم کوله. دلینین لپاره ادبی بحثونه زړه وړونکی وو . هغه
دلوناچارسکی په باب ډېر ځله یادونه کړېده. یوځل لینین دلوناچار-
سکی په باب داسی وایی:
« لوناچارسکی به د ګوند برخوار اشی ... هغه با استعداد او

(۱) - مؤلف : آفاناسیف ، مترجم : س . ی ، سوسیالیزم علمی
چاپ مؤسسه نشراتی ح . د خ . ا ، ص : ۶۳ .

(۲) - مارکس ، انګلس ولینین د رزنده ګی خصوصی ، ص: ۱۳۰ .

فوق العاده انسان دی... » (۱) او ماکسیم گورکی ته داسی خطاب کوی :

«دالکسی ماکسیمو ویچ ! زه پوهیږم چی ، تاسی د هغو تولو پېښو پر خلاف د غه هیله نده هیره کړی چی ، په یوه شکل ماله ماخیستانو (۲) سره پخلا کړی

سره لدی چی ما په یوه لیک کی تاسی لدی فکر څخه منع کړی وی دغه کار ناممکن دی ! نو هیله کوم ، پدی باره کی تکلیف مه وباسی .» (۳)

لینن له ادبیاتو سره بې ساری مینه درلوده. دده « د ژوند لیک پانی» چی له لویری عمومی جګړی مخکی، «دده داسی معاش منبع ادبی آثار و . » (۴) ده په مجموع کی د هنر په باب داسی عقیده څرګندوله :

«هنر د خلکو مال دی . هنر باید د زیار ایستونکو تودو لری اوژورو کو نجوته ریښی ور وغزوی . هنر باید د هغو تودو لپاره د پوهی وړوی . هنر باید د زیار ایستونکو تودو له فکر ، احساس

---

(۱)-مارکس ، انګلس ولینن د رزند ګی خصوصی ، ص: ۲۰۰ .

(۲) -داپېپالیستو فیلسو فانو یو ډله وه چی، دا رنست ماخ د مکتب طرفدار وو .

(۳)- وګ : د تولنیز پرمختګ لو الین ، ۱۹۸۱ مخ .

(۴) - یوری اکسو تین- سویتلانا مار تینچوک ،دولاد یمیر- ایلیچ لینن د ژو ند لیك پاڼي ، مسکو د (نوو ستی)د مطبو عاتی اژانس نشراتي اداره، ۱۹۸۵ م . کال، ۵۸ مخ .

او ارادې سره يو اوبيايي په مخ بوزي. دغه هنر بايد په دوی کې هنر ميدان را پيدا اوور ده ورکړي .» (١)

لينين تل په دې ټکي ټينګار کاوه چې ، زموږ اخلاق او ګټې دوستان او د ښمنان د پرولتار يا او نورو خوار يکښانو له اخلاقو او ګټو، دوستانو اود ښمنانو څخه نشي بېلېداي، ګټې او اخلاق مو سره شريک دي، دوست اودښمن مو يو دی ، نو ځکه بايد ادبيات ګوندی اوطبقاتي شي .

لينين هيڅکله هم له طبقاتي او ايډ يالوژيکو معيارو نو څخه پرته ادبيات نه تشريح کول ، بلکې د هميشه لپاره يې د ادبياتو دمضمون او شکل دبيان په وخت کې ، دغه دوه طلايي اصلونه په نظر کې نيول .

لينين په (١٩١٩م.) (٢) کال په مسکو کې دد ريم انترنا ـ سيونال په پرانستلو سره دلته . مارکس او ف . انګلس کارنامې پرله پيا وځلولې او په نوی زمانه کې دنړی د کارګرو اوټولو ستمځپلو خلکو سرکښو مبارزو او هيلو ته روښا نه او ځلانده انعکاس ورکړ او په دغه مرحله کې يې دهغوی اساسي دندې په ګوته کړی .

---

(١) ـ د راز محمد پکتين ژباړه، سوالونه اوځوابونه، شوروی ـ اتحاد، مسکو، ١٩٧٨م. کال، ٦٠ ، ٢مخ .

(٢) ـ لوينين ، انترنا سيونال سوم ومقام آن در تاريخ ، مسکو بنګاه نشرات پروګرس ، ص: ١١ .

د دریم انترناسیونال ادبیات او تجربی، د ادبیاتو د نوې تیورۍ په تاریخ کې مهم ځای لری او همدارنګه په (۱۹۲۲ م.) کال کې په مسکو کې د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د شورا ګانو د لومړی کنګرې په تاءسیس سره د شوروی دوستو خلکو ترمنځ د وروری د اصول ټینګښت، د لینینی سیاست رښتنو یوه بله ارزښتنا که پانه ده.

شوروی ادبیاتو د امپریالیستی ارتجاع او یور ژوازی له ادبیاتو سره په مبارزه کې ورځ په ورځ دومره پرمختګ او تکامل وموندچې له جرمنی فاشیزم سره په مخامخ نښته کې د شوروی ولسونو غوښ رول نه یوازې د شوروی خلکو د بری زیری دی، بلکې پر فاشیستی او امپریالیستی ادبیاتو باندې، د شوروی ادبیاتو د بریالیتوب یو بل ګوهر کې هم دی.

د غه ادبیات له وینې ښیونکی فاشیزم سره په مقابله کې د خپل تکامل یوه بل پړاو ته داخل شول چې، دا پړاو د غښتلی سوسیالیستی سیستم له منځ ته راتګ څخه شروع کیږی. د د غه وخت ادبیات او تیوری په ګډه او واحد سنګر کې د زیاړ کښ انسان له ګټو څخه دفاع کوی او د سولی او سوسیالیزم د ګلشن څارنه کوی.

څرنګه چې، امپریالیزم په اوسنی وخت کې د خپل بحران په دریمه مرحله کې واقع دی، نود امپریالیستی ادبیاتو ننني بحرانی حالت له امپریالیستی بحران څخه پرته د مطالعی و ړ هم نه دی.

---

(۱)- تاریخ حزب کمونیست اتحاد شوروی، جلد ۲، از نشرات حزب توده ایران، سال ۱۳۵۷ ه. ص: ۱۷۶.

داوسنی عصر لیننی ادبیاتو اوتیوری د نړی دخلکو زړو نو ته لاره کړې، دهغوی ذهنونه یې روښانه کړیدی ، نوځکه له امپریالیزم سره په مبارزه کې نوی سنګرونه فتح کوی .

دلیننی ادبیاتو او تیوری ډیره غوره ځانګړتیا په دې کې ده چې د باداری ، فیوډالی او بورژوازی ادبیاتو پرخلاف ، دخوار یکښ انسان دحاکمیت اوپه تهاپی تحلیل کې دپې طبقو ټولنې د جوړیدو لپاره زیار گالی ، لیکن موږ گورو چې هماغو ادبیاتو (باداری، فیوډالی او بورژوازی) همیشه د استثمار گرې طبقی دواکمنی د ټینګښت لپاره هڅه کړی او کوی یې ،خوپه مقابل کې لیننی ادبیات د طبقاتو دمحوه کولو اوله یوه انسان څخه د بل انسان لهاستثمار څخه د خلاصې ټولنې په لور د پریا لیتوبونه تر لاسه کوی .

دادبیاتو اودنوې ادبی تیوری په جهان کې لیننی تیوری هغه پله ډیوه ده چې ، د گران افغانستان او نړی خلکو د خپلې تاکل شوی لاری دروښانه کولو لپاره را او چته کړی اود هغی په رڼا کې له تورو غارونو او خیمو څخه ځانو نه باسی. داسی پوښتنه رامنځ ته کیږی چې ، ایاد لیننیزم دتیوری د دغه بری رازپه څه کې نغښتی دی ؟ ازموږ په عقیده په ددغې پوښتنې لنډ ځواب داوی چې :

ـ دلیننیزم تیوری حقیقت دی او دولسونو د نجات او نیکمرغی په لاره کی بهترین تدبیر دی !

راځي ،دځينو خبرو په دغه لړکي د بو شمير هغوا ثارونوسونه ياد کړو چې د لينين له خوا دادبيا تو او هنر د تيوري په باره کي ليکل شوي دي او د نړۍ د مظلومو ډرګډو لپاره يې په ميراث پريښي دي :

لومړی -«سازمای حزبی وادبيات حزبی»(١)

دويم -«درباره ادبيات و هنر »(٢)

دريم -«ليوتو لستوی آيينه انقلاب روس » (٣)

انالېز او نتيجه :

دادبياتود نوې تيوري د نننۍ بڼې ريښې د لرغوني يونان اوقديم روم د مريتوب د عصر له منځ نه راتګ څخه راپيل کيږي ، پيادځيل دوران له زماني او مکاني شرايطو سره جوخت په ماده او خود بخودي بڼه وده کوي او په پيلا-پيلو ناڅرنوکي پرمختګ موسي شوېږ آګاهانه او سيستماتيک انکشاف د کارل مارکس او فريدريک

(١)-لينين،سازمان حزبی وادبيات حزبی،مسکو ،اداره نشراتی (پروګرس)، ترجمه به زبان دری : ١٩٨٣ م .

(٢)-نويسنده : دوکتور طلعت رستم زاده صالح ادبيا تشناس اتحادشوروی ،مترجم:محمدعالم لبيب، تيوری ادبيات، پوهنتون کابل پوهنځی زبان وادبيات ، ديپاتمنت زبان وادبيات دری،ص:٣٦ .

(٣)-وګ:پورتنۍ ماخذ ، پورتنی مخ .

انګلس د مبارزو له لومړیو ګامونو څخه را شروع کیږی او د لینین تر وخته پوری دوام پیدا کوی، بیا د خپل انکشاف سره سم د لینینی ادبیاتو او تیوری په وسیله څلا سومی او بیوه بل نوی تکامل یافته حالت ته ځان رسوی چی دا په تاریخ کی د لینینی تیوری د دوری د عصر په نامه شهرت لری او په را وروسته کی د کارګری طبقی د مخکښو ګوندونو، اتحاد پوهانو روسیته والو دهانداو هڅی په برکت پیشرفت کوی. خلاصه دا چی، که د دنیا د کارګری طبقی لارښوونکو د مترقی او ارتجاعی ادبیاتو ترمنځ په آګاهانه او علمی سیستم سره کرښه را کښلی کړه، نو د جهان چپواو ډیموکراتیکو ځواکو او هغه لا پسی وځلوله.

- که د دنیا د خوا ریکښانو لارښودونکو د نړی د انقلابی ادبیاتو عمده او اساسی لوری وټاکه، نو د جهان مترقی قوتونو د هغو په عملی کولو کی له خپلو قلمونو څخه د توپکو او کار واخیست.

- که د نړی د زحمتکښانو رهبرانو د مترقی ادبیاتو اساسی کرښی په نښه کړی، نو د دنیا مخکښو قوتونو هغوی ته نوره وده هم ورکړه او په لوبو حالاتو کی نوره اضافه هم پری وکړه.

- یو بل مهم ټکی چی له تیر بحث څخه په لاس راځی، هغه دا دی چی، د مترقی او ارتجاعی ادبی تیوریسنانو ترمنځ نه پخلا کیدونکی تضاد، د شخصی خوا بدی او مرور تیا خبره نه ده، بلکی د دوی ترمنځ ژور طبقاتی او ایدیا لوژیک اختلاف یی عمده او اساسی دلیل دی!

د نوي ادبي تيورۍ په انکشاف کې د ساده ماترياليزم او نامينالېزم ونډه

نوي ادبي تيوري چې د نويو هنري ادبياتو لپاره تيوريک اساسات ګڼل کيږي، له زړې ادبي تيورۍ سره په مقابله او مبارزه کې انکشاف موندلی او ننني پرمختګونه يې د همدغې قانونمندې مبارزې منطقي نتيجه ده. د هغو د ځينو تيوريو د خپل پيدايښت له هماغو لومړيو شيبو هغه ددوو متضادو طبقو د ګټو په دفاع کې منګرونه نيولي او يو په بل باندې يې بې رحمانه يرغلونه کړيدي.

د ديالکتيکي او تاريخي ماترياليزم له نظره د ضديتونو ترمنځ مبارزه د تکامل اصلي تګلوري روښانه کوي، نو ځکه د ادبياتو د تيورۍ دغه دوه متضاد قطبونه هم يو د بل په مقابله کې مطالعه کوو او په وروستني تحليل کې ګورو چې، نوي ادبي تيوري څنګه تکامل وموند او په کومه طريقه سره يې د بېوزلو پرګنو د انقلابي ادبياتو په سره ډګر کې د زړو افکارو پر ضد ګوزارونه وکړل او د ادبياتو زړه تيوري يې له پرله پسې ماتو سره مخامخ کړه.

داد بیاتو دنوی تیوری تیوریستان او پیروان پردی عقیده دی چی: که څه هم د ماتریالیزم - ایډیالیزم ترمنځ نه پخلا کیدونکی مبارزه تقریباً له میلاد نه دوه نیم زره کاله پخوا د لرغونی مصر، بابل هند او چین د طبقاتی ټولنو د منځ ته را تګ په نتیجه کی پیل شوه او بیا وروسته کی بی، د لرغونی یونان او روم د مریه توب په دوران کی منظمه - سیستماتیکه بڼه اختیار کړه، خو دغی مبارزی (د ایډیالیزم او ماتریالیزم دد کتور پدو ترمنځ) د هنر او ادبیاتو په ډګر کی د پخوانی یونان او روم د غلامی په عصر کی په ډیر قوت او شدت سره جریان لاره.

په دی ارتباط شوروی ادیبوه دکتور طلعت رستم زاده صالح داسی وایی:

«په لرغونی یونان کی د هنر ماتریالیستی تمایل ته یوهانو او فیلسوفانو لکه هیرا کلیت، دیموکریت او ارستو انکشاف او تکامل ورکړ او ایډیالیستی نظر یاتو د افلاتون په آثارو کی د خپل تکامل لاره وموندله.» (۱)

په دغه دوران کی، که له یوی خوا د ایډیالیزم او ماتریالیزم دد کتورینو ترمنځ مبارزه او مقابله په ډیره څرګنده او ښکاره بڼه

(۱) - نویسنده: دکتور طلعت رستم زاده صالح ادبیاتشناس اتحاد شوروی، مترجم: محمد عالم لبیب، تیوری ادبیات (برای دوره های لیسانس وماستری رشته دری)، پوهنتون کابل پوهنځی زبان وادبیات، سال ۱۳۶۳ ه. ص: ۲.

چالا نه وه، نوله پله پلوه د هنر او ادبیاتو په برخه کی د ماتریالیستی او ایډیالیستی تیوریو د انعکاس د مسئلی مطرح کول هم د دی لپاره وو چی، هره تیوری د هنر او ادبیاتو په ساحه کی هم د خپل ټول او طبقی سره سم کار او فعالیت وکړی.

د لرغونی یونان او روم ټولنی چی د تولیدی قوتونو د تکامل او د خصوصی ملکیت د ظهور په نتیجه کی یی د غلامی نظام بڼه اختیار کړی وه، په بشپړه توګه طبقاتی ټولنی وی او هم دا علت و چی د دوو متضادو طبقو (مرییانو - بادارانو) ترمنځ طبقاتی او ایډیالوژیکی جګړی پکی جریان لاره. هغه دولتونه چی د لرغونی یونان او روم د مریتوب په دوران کی منځ ته راغلی وو، کاملا ارستوکراتیک او د بړده دارانو د ګټو ممثل وو!

د پخوانی یونان او روم د طبقاتی ټولنو له همدی طبقاتی خصلت سره سم، بادارانو هڅه کوله چی هرڅه د باداری نظام په روحیه او خوښه پای ته ورسوی. دوی غلامان د (ژبی لرونکو شیانو) په نامه یادول او له هر ډول انسانی حقوقو څخه یی محروم کړی وو.

څرنګه چی، د لرغونی یونان او روم په ښاری دولتونو کی د ښوونی او روزنی سیستم د حاکمی طبقی په انحصار کی و، نو ځکه د بی وزلو پرګنو (غلامانو) بچیان په ډیره زیاته اندازه تری محروم وو.

بادارانو یا ریوست چی خپل ځانونه په ادبی او هنری کارونو مشغول کړی او مرییو له سختو جسمانی کارونو ته وګمارل. دوی جسمانی کارونه، نه خوښول او هغه یی د غلامانو فطری دنده بلله.

په همدې وخت کې د یونان بو شمېر فیلسوفانو هڅه وکړه چې، «د غلامۍ له نظام څخه په دې ډول هغه شکل تیوریکي دفاع وکړي او په هغه باندې د ابدیت مهر ولګوي. د غلامانو استثمار روا وبولي او د برده دارانو ګټې تضمین کړي» (۱) د بېلګې په توګه:

«افلاطون (۴۲۷ – ۳۴۷ ق. م.) چې د سقراط تر ټولو مهم شاګرد و او د طبقاتي منشا او فکري تمایل په لحاظ ارستوکرات و... په ۳۷۲ ق. م. کې د «دولت» په نامه خپل اساسي اثر نشر کړ، چې د فرض شوي «عادلانه دولت» مفصله شرح احتوا کوي. د دې «ښه او ښکلي دولت» تشریح د حاکمیت د ارستوکراتیک شکل سره د افلاطون ژوره مینه او د هر ډول ولسي حاکمیت په مقابل کې د هغه ژور نفرت ښيي.

که څه هم دی د اشرافي نسبو د معنوي حاکمیت طرفداري نه کوي، خو غوښتل یې چې حاکمیت دې د معنوي ارستوکراسۍ (فیلسوفانو) په لاس کې وي... کله چې ثابته شوه چې د دولت دا تشریح شوی ایډیال په عمل کې نه شو پیاده کېدلی، نو افلاطون په «قوانینو» کې خپلو سیاسي او تر ټولو افکارو ته د برده دارۍ د موجوده نظام د واقعي امکاناتو سره سمون ورکړ.» (۲)

---

(۱) ـ مترجم: رنا ګل رنا، د ښوونې او روزنې فلسفه، کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځی، شپږ ویشتم مخ.

(۲) ـ د پورتني ماخذ دوه دېرشم، درې دېرشم او څلور دېرشم مخونه کتلی شي!

اپلاتون چې دعینی ایډیالیزم مؤسس گڼل شوی دی او یوازنی هغه څوك وچې، فلسفه یې د یوه جلا علم په څېر وپېژانده. په خپل مشهور اثر (جمهوریت) کې د شعر او شاعرۍ د پېژندنې او نورو هنري مسایلو په باب خپل نظریات په مفصله توگه څرگند کړي دي. ده «د وجود د ماهیت د توضیح کولو لپاره د شکلونو (مثل) نظریه وړاندې کړه. د ده په عقیده، شکلونه (مثل) مادي وجود نه لري او مطلق دي. مطلق شکلونه په زمان او مکان پورې اړه نه لري، بلکې ابدي او لایزاله دي. محسوس شیان عبوري، نسبي او په زمان او مکان پورې مربوط دي.

په دې اساس د هغه محسوسه او فاني نړۍ چې موږ یې ژوند کوو د یوې بلې حقیقي نړۍ سیوری دی او هغه حقیقي نړۍ هم د شکلونو یا مفکورو په بڼه وجود لري. انسان کولی شي د تداعي او تأمل له لارې معلومات پیدا کړي او دا هغه معلومات دي چې، د انسان څېر ته نې روح په بدن کې له حلول څخه د مخه وړاندې پوهېده.

د هنر وظیفه داده چې، ایډیال شکلونه انځور او تمثیل کړي. شاعران چې شعر وایي دا په اصل کې د هنر در النوع پیغامونه دي چې د دوی له خولې اوریدل کېږي. په دې اساس د شعر منبع الهام دی او د یوه عادي شخص لپاره ممکنه نه ده چې، د اشعارو داسې قیمتي مرغلرې له خپلې خزانې د نظم په تارکې ووېيي.» (۱)

---

(۱) ـ څېړندوی م. صدیق روهي، ادبي څېړنې، دننگرهار (ننگرهار) پوهنتون، ۱۳٦۰ هـ. کال، ۲۹ مخ.

مرحله دی چی، د لرغونی یونان او پخوانی روم د سرپوتوب په عصر کی په مجموع کی هنر ډیر سینه وال درلودل او د زیاتسرو پرده‌دارانو د زیاتی پاملرنی وړو، خو بیا هم د یونان په مرکز (اتن) کی د شعر او ادب رنگینی نری د ډیرو باداراتو توجه ځان ته راارولی وه، د مثال په توگه :

«د هومر له اشعارو څخه د لوړنی اوست د کتاب په حیث استفاده کیدله. دغه په ځنگه کی د اسوپ (Aesop)، هیز یود (Hesiod) او په همدی ډول د سولون (Solon) اشعار لوستل کیدل.

د دی اشعارو ایتیکی (اخلاقی) محتوا تر ټولو د مخه د شاگردانو په اخلاقی روزنه کی، چی د یونانی تعلیماتو مهمه برخه جوړ وی مرسته کوله.»(۱)

راځی د پخوانی یونان د شعرونو د ایتیکی محتوا په هکله د افلاتون نظریات هم وگورو. په دی باره کی سرشیرونکی م. صدیق روهی داسی لیکی :

«افلاتون په خپل نامتو اثر (جمهوریت) کی پرهغو شاعرانو انتقاد کوی چی په خپلو اشعارو کی بی اخلاقی ارخونو ته پاملرنه نه ده کړی. د مثال په توگه د دی د لرغونی یونان په نوموتالسی شاعر هومر باندی انتقاد کوی چی د ده ځینی شعرونه په اخلاقی لحاظ غټی نیمگړتیاوی لری ځکه چی په هغو کی ارباب الانواع او

---

(۱)- مترجم: رنا گل رنا، د پوهونی او روزنی فلسفه، کابل پوهنتون د پوهونی او روزنی پوهنځی، ۲۴۰ مخ.

قهرمانان له دروغو، تېکی او تقلب څخه کاراخلی، په ښځو لوز-
ونو او تعهداتو پاندی پښی ږدی. د ښځو سلګرو په مقابل کی توره
استعمالوی او دا سی نور. افلاتون توصیه کوی چی ماشو-
مانو ته دی د غه ډول شعر ونه، نه لوستل کیږی، ځکه
چی د هغو په معصوم ذهن کی داخلاقی فساد د زر څونیدلو زمینه
برابروی. » (١)

تر افلاتون راوروسته ارسطو (٣٨٤-٣٢٢ق. م.) د لرغونی
یونان دیوه نامتو فیلسوف په توګه شهرت لری.

«په عمومی ډول دده فلسفه د عینی ایډیالیزم یوډول دی، خود
لیڼین د تعریف له مخی دارسطو ایډیالیزم یو ځانګړی شکل دی:
په ډیرو برخو کی دافلاتون دایډیالیزم په پرتله ډیرعینی، ډیرمختللی
اوعمومی دی. له دی کبله د طبیعت په فلسفه کی زیات وختونه د ما تر-
یالیزم په خوا ولاړوی. همدا را زیل ځای وایی چی:
ارسطو ما تریالیزم ته ډیرراننږدی شوی دی.
دارسطو دعقیدی له مخی، ټول شیان د شکل او مضمون د یووالی
مجموعه ده. دارسطو ایډیالیزم د شکل په کلمه د کتورین کی تر ټولو
ډیرښه څرګند شوی دی هغه شکل چی ده د موجودیت ماهیت ګڼلی او
هغه ته یی د جاودانه او د تغییر نه کیدلو قابلیت ور کړی و» (٢)

---

(١)-څیړندوی م. صدیق روهی، ادبی څیړنی، د ننګرهار (میا ر و ځان)
پوهنتون، ١٣٦٠ ه. کال، ٣٠ مخ.

(٢)-لیکوال: ای خلیا بیچ، مترجم: امین الله محك، د فلسفی لنډ تاریخ ته
یوه کتنه، مسکو، د پرو ګرس نشراتی اداره، ١٩٨٣م. کال، ٣٣-٣٤ مخونه.

ـ که څه هم ارسطو خپل ځان د افلاطون شاگرد گڼي لیکن بیا یې هم د افلاطون د (مثل) په تیوري باندې حمله وکړه خو د دې توان یې و نه درلود چې ټوله ایډیالیستي تیوري یې ور رد کړي او د ایډیالیزم او ماتریالیزم ترمنځ د تزلزل له حالته ځان وباسي ... همدغه علت دی چې په وروستیو زمانو کې دده د فلسفې د کمزورو څخه متضادو فلسفو استفاده وکړه. د رنسانس په زمانه کې دده ماتریالیستي تمایلاتو د ساینس د انکشاف لپاره اسانتیاوې پیښې کړې خو د ایډیالیستي اصولو څخه یې د سکولاستیزم لپاره کلیسایي روحانیونو پوره کار واخیست. ارسطو ډېرې لیکنې او زیات تالیفات لري چې تر ټولو مهم فلسفي اثر یې د (متافزیك) په نامه یادیږي-

ارسطو د خپل وخت د یو نامتو متفکر په حیث د ادبیاتو او هنر په باب هم تیوریك نظریات وړاندې کړي دي چې، (د شعر فن) مشهور اثر یې ځوره ښکارندوی ده.

د اکثرو ادبي مورخانو په عقیده ارسطو خپل اثر د شعر فن (Poetics) د افلاطون د نظریې د رد او لپاره لیکلی دی. که څه هم ارسطو په ښکاره ډول د خپل استاذ افلاطون نوم نه اخلي، خو په ښکاره توگه د هغه له نظریې سره مخالفت څرگندوي. دده په نظر: په شعر کې اخلاقي کمزورتیاوې باید د شعر په ماهیت او بدیعي ارزښ باندې سیوري و نه غورځوي. ارسطو د خپل اثر (پویتیکس) په لومړۍ برخه کې وايي چې: د دې اثر عمده هدف دادی چې، په خپله شعر او د هغه ډولونه، د هر یوه ډول اساسي خصوصیات د یوه ښه نظم د ترکیب (Plot) جوړښت او د نظم د بیلا بیلو برخو شمېر او ماهیت وڅېړل شي.

دارستو په پوئټکس یاد شعرفن کی د یوه ادبی اثر ترکیب او جوړښت په مفصله توګه څیړل کیږی. دده په نظر، شعر له طبیعت څخه تقلید دی او دغه تقلید باید په ایډیال شکل سره ترسره شی. دی ادبی اثر شکلی، منطقی او قضایی اړخونو ته پاملرنه کوی.)(۱)

مرحوم (مولانا) عبدالقادر د کتاب الشعر((Poetics)) د پښتو ترجمی په (پیژندګلو) کی د (حکیم ارسطاطالیس) علمی مقام داسی ستایی:

«دارسطو ذهن دهری مسئلی ژوری ته رسیده. ده له صرف زړی مسئلی د خپل ذهن په قالب کی نوی کړی دی، بلکی ډیری نوی مسئلی او نظریی یی هم په خپله وضع کړی او ایجاد کړی دی او بیا یی په مختصرو ولی جامع الفاظو کی داسی بیان کړی دی، چی، یو لفظ ځای په ځای ورانډی و روسته کړی، نو هرڅه وران یږی.» (۲)

هرنګه چی د کلاسیسیزم((Classicism)) دادبی او هنری مکتب زړی د لرغونی یونان دغلامی په تولنه کی زرغونیږی او په فیودالی دوران کی وده کوی، نوځکه دهغه دوران له فلسفی عقل او منطق څخه ماشیوا، مطالعه کیدی هم نشی. همدا علت دی چی د کلاسیستو لیکوالو لپاره دارستو څوندی د مشهور تیوریس

---

(۱) ـ څیړندوی م. صدیق روهی، ادبی څیړنی، د ننګرهار (میار وهان) پوهنتون، ۱۳۶۰ ه. کال، ۳۱-۳۲ مخونه.

(۲) ـ مؤلف: ارستو، مترجم: مولوی محمد اسرائیل کتاب الشعر، پیژند ګلو، پیښور، پښتو اکیډیمی، ۴ مخ.

او فلسفي ليکوال لهٔ خوا «د وحدت د دريو گونو توانينو» پرنسيپونه وضع کيږي، د بېلگي په توگه:

«کلاسيک ليکوال بايد په خپل اثر کي (د موضوع پر وا لـې د زماني پر والي او د ځای پر والي) مراعات کړي. په دې ډول چې ليکوال مجبور دی په خپل ادبي اثر کي تو له موضوع په يوتا کلي ځای کي راولي او يو ازي د يوه عمل شرح او بيان وکړي. له يو وخت نه بل وخت ته، له يوه ځای نه بل ځای ته او له يوه عمل نه بل ته انتقال و نه کړي» (۱)

ب. کرپلوف د کلاسيسيزم د تيوريسنا نو په هکله د کارل مارکس نقل قول داسي بيانوي:

«په هره اندازه چي د کلاسيسيزم تيوريسنانو د يونان کلاسيکه نمايشنامه او د ارسطو (د شعر فن) غلط درک کړی وو، کوم تصادفي کار او يا تاريخي غلط فهمي نه وه، بلکي تاريخي جبر و. کلاسيستو نمايشنامه ليکونکو ارسطو (غلط درک کړ) ځکه د ارسطو غلط درک کول، په بشپړه توگه له هنري ذوق او د شکلا پوهني له اړتياوو سره چي د وخت د مشخصو ټولنيزو او فرهنگي حالاتو پر اساس يي تشکل موندلی و، بشپړ سمون درلود.» (۲)

---

(۱) - څېړندوی م. صديق روهي، ادبي څېړني، د ننگرهار (ميا روښان) پوهنتون، ۱۳۶۰. کال، ۵ ۲ ۳ - ۳۲۶ مخونه.

(۲) - ژوندون، ارگان نشراتي اتحاديه نويسنده گان ج.د.ا، سال ۱۳۶۴، شماره اول، مضمون: نظريات مارکس و انگلس در باره هنر و ادبيات، نويسنده: ب. کرپلوف، مترجم: پوهاند رحيم الهام، ص: ۱۷.

د لرغوني یونان د هنر او ادبیاتو په رنګینو بڼو کې یوازې د هنر د ایډیالیستي طرحې تیزس نه و موجود، بلکې د هنر او ادبیاتو د ماتریالیستي د کتور ینو مسئله هم په ډیر شدت او قوت سره مطرح کېدله. همدا سبب دی چې نن ورځ یې د قدیم یونان د ماتریالیستو فیلسوفانو په اثارو او افکارو کې انکشاف او تکامل څېړو، د نمونې په توګه :

« پخوانیو ماتریالیستو فیلسوفانو هنری خلاقیت د طبیعت تقلید ګانه او دهیرا کلیت د خبرې پر اساس د طبیعت پیاتخلیق چې له خپل اصل سره سمون ولري . » (۱)

هیرا کلیت (۵۴۴ – ۴۸۳ ق . م .) چې د لرغوني یونان د «ملی‑ تومس» د فلسفي ښوونځي په ماتریالیستا نوښې پل پراو پر انسیزې دامې عقیده ښر ګندوي :

« پوهنه په احساس شروع کېږي او په فکر بشپړ یدو ته رسېږي . په شیانو کې یوازنی شی ابدي او دا یې تل کېږي او هغه د تغییر قانون دی، چې هرڅه ترلاندې دی ... هیرا کلیت دا ضداد و مبارزه د ټولو شیانو ماهیت باله او د ا ضداد واندول یې هغه حالت ګانه، چې کوم شی ته په موقتي توګه واقعي موجودیت ورکوي ... هیرا کلیت سربېره پر هغه چې نړۍ یې مادي بلله، د هغې قانونمندۍ ته یې هم توجه اړولې وه ... » (۲)

---

(۱) ـ نویسنده : د کتور طلعت رستم زاده صالح ، مترجم: محمد عالم لیب، تیوری ادبیات ، پوهنتون کابل، ص : ۳ .

(۲) ـ اریانا ، د ا . د . ج د علومو اکاډیمۍ، د اجتماعي علومو مرکز، ۱۳۶۳ ه. کال، دویمه ګڼه ، مضمون: ماتریالیزم ، لیکوال: محمد انور نومیالی ، ۴۴ مخ .

هغه لیکي :

« عدالت یعنې مبارزه ، تول شیان د مبارزې پر اساس منځ ته راځي او باید همدا رنګه وي . » (۱)

- هغه نامتو اثر چې، هیرا کلیت (د طبیعت په باب) لیکلی ، د لرغوني زماني د ډیرې عمیقې فلسفي زیاتې برخې یوه ځای شوي دی -

تر هیرا کلیت را وروسته د یمو کریت (۴۶۰ - ۳۷۰ ق.م.) د لرغوني یونان سترماتریالیست فیلسوف دی. ده نه یوازې دادیاتو او هنر د ماتریالیستي تیوري په جهان کې د خپلو افکارو نظراندازي وکړه ، بلکې د خپل وخت د ارتجاعي او ایډیالیستي تمایلاتو پر ضد یې د مبارزې بیرغ هم وړ باوه .

د شوروي اتحاد نامتو تیوریسن (ای . خلیابیچ) د دیموکریت په هکله داسې وایي :

«دیموکریت د مریي لرونکې طبقې په سودا ګرې او کاسبې ډلې پورې اړه لرله او زیاتره یې هوسه ، چې مولده قواوو ته وده ورکړي. همدا وجه وه چې د ځمکې لرونکو ارتجاعي ډلو سره د مخالفت په خوا کې ودرید . » (۲)

---

(۱) - تالیف چند نویسنده جهان ، تاریخ مختصر جهان ، جلد اول، ناشر: کمیته دولتی طبع و نشر ج .د . ا ، ۱۳۶۳ ه . ص : ۸۱ .

(۲) - لیکوال : ای خلیابیچ ، مترجم : امین الله محکم ، د فلسفې لنډ تاریخ ته یوه کتنه ، مسکو ، د پرو ګرس نشراتي مؤسسه ۱۹۸۳ م. کال ، ۲۳ مخ .

دی زیاتوی چی :

«مارکس د یموکریت دیونانیانو پدمنځ کې لو مړنی دایرة ـ المعارفی مغزه شخص بللی دی .»(۱)

د شعر او ادب په ادبی بڼ کی لهماتر یالیستی افکارو څخه پوازی اوپوازی پهلرغونی یونان کې ننګهاو ملاتړنه کیده، بلکې «دروم هر څمکه د ماتر یالیزم فلسفی نهضت دشعر په بڼ کې خپلې غوړ یدنې پیل کړی . (لیو کری شیس ۹۸ - ۵۴ ق . م .) رومی شاعروچې په فلسفی افکارو کې یې دا پیکور اود یمو کریت د نظر ـ یاتو پیروی کوله اوله دهڅخه هغهفلسفی ـ شعری اثریاته شوی دی چې د شیا نو طبیعت(Denatura Revam) نومیږی.

وایی چې ، د (اتومیزم) نظر په اساس دده اثر په تاریخ کی ژوندی وساتله او هرو خت یی د پوهانو توجه ځانته اړو له ـ دده داشعا روله جملی څخه یوه نمونه چې فلسفی مفهوم افا ده کوی منظومه پښتو ترجمه یی دا سی ده :

له هری زمانی څخه هر یو جنس راز یږیدای شی

داونی تل ترتله پر حاصل پاندی را تلای شی

میوی یی دایمی دی رنګارنګ شکلو نه اخلی

له هرشی څخه هر شی همیشه پیدا کیدا ی شی .»(۲)

---

(۱) ـ وګئ : د فلسفی لنډ تاریخ ته یوه کتنه، ۲۳ مخ .

(۲) ـ اریانا، د افغانستان دعلومو اکاډیمی، ۱۳۶۳ ه . کال دوهمه ګنه ، ۴۹ ـ ۵۰ مخو نه .

د لرغونی روم دمر یتوب په دوران کی په لږ تو پیر سره د پخوانی یونان په دول حالا تو جریان لاره. که په هره اندازه د پخوانی روم د غلامی دعصر تل ته ور ولو یږو، په همغه پیمانه په درو می تولنی له فکری ذخیرو سره لاښه اشنا شو.

کوم هنر چی د لرغونی روم د غلامی په تولنه کی د یرمینه وال درلودل هغه « د نطاقی-خطابی هنر»و. د دغه هنر د زده کړی لپاره یادارانو ځکه کوښښ کاوه، څو د مریبونو په استثما رولو کی د یوی مهمی وسیلی په توګه کار ورو کړی.

د قدیم روم «د ګرامر ښوونځی» چی د برده دارانو د نازو لیو بچیانو لپاره یکی تدریس کیده، دلاتینی او یونانی ژبود تدریس په څنګ کی «د هومر، هسیود او ورو سته بیادورجل، هوراس او نورو اثارلو ستل کیدل.

د شاعرانو دهغو اشعا رو د لو ستلو په مـر سته، چی دد رسی مواد و په حیث پیژندل شوی وو، زده کوو نکی په دی پو هول کیدل چی سمی او انتخابی خبری و کړی .. او په همدی دول «دخطابی هنر» اساسات، چی په جمهوریت کی یی اهمیت ورځ په ورځ زیاتیده هم زده کول.»(١)

یوها نو د روم د امپراتورانو د عصر ادبیات «د رومی ا د بیاتو طلایی عصر» ګڼلی او وایی چی:

---

(١) ـ مترجم: رنا ګل رنا، د ښوونی او روزنی فلسفه، کابل پوهنتون، د ښوونی او روزنی پوهنځی، ٣٧ -٣٨ مخونه.

«په روم کی داو گستوس حکومت د رومی ادبیاتو له طلایی عصرسره نږدی و.» (۱)

اوس به وگورو چی په لرغونی روم کی غلامانو ته کوم شی ورښوول کیده.

د روم وا کمنانو سربیره نه عهد تا «د پیاوړتیا ښوونځیو» کی شاملول چی، په هماغه ځای کی د علم او ادب د زده کړی هیڅ ځرلګ هم نه ترسترګو کیده او یوازی او یوازی د جګړی د قابلیتونو د زده کړی او د جنګی مسابقو پروګرامونو پکی چریان لاره.

سره له دی تولو «د پیاوړتیا ښوونځیو د غلامانو د آزادی په مبارزه کی مهم رول لوبولی دی، د مثال په توګه: د ۷۳ څخه تر ۷۱ ق.م. پوری په (کپوا) کی له دی ښوونځی څخه سپارتاکوس (Spartacus) داد غلامانولوی لارښود راوتلی دی.

سپارتاکوس په دی پوه شوچی، هغه قابلیتونه چی په سخت تعلیم کی یی ترلاسه کړیدی، د غلامانو د ازادی غوښتونکی مبارزی د تنظیم لپاره یی په کاروا چوی.» (۲) کله چی په اروپا کی د سرپیونود تهرمانانه مبارزی په برکت د غلامی نظام رانسکوریږی، نو بیا د لرغونی یونان او قدیم روم تولنیز او اقتصادی سیستم د اجتماعی ژوندانه

(۱) ــ تاءلیف چند نویسند هجهان، تاریخ مختصر جهان، جلد اول، کمیته دولتی طبع ونشرج.د.ا، ۱۳۶۳ ه. ص: ۱۲۵.

(۲) ــ مترجم: رنا ګل رنا، د ښوونی او روزنی فلسفه، کابل پوهنتون، ۳۳مخ.

یوه بل تاریخی دوران ته تکامل کوی او ورسره سم هنر او ادبیات هم د همدغه نظام (فیودالیزم) له روحیې سره عیار یږی.

دغه عصرچې د غلامی نظام په پرتله متکامل دی، د فیودالانو پرضد د بې وزلو او خوار یکښو بزگرانو د مبارزو په وسیله مشخص کیږی. دی تاریخی دوران نه یوازې نوی تولنیز مناسبات وزیږول بلکې د متضادو فلسفی سیستمونو (ایدیالیزم - ماتریالیزم) بنسټ ته یې هم پراخوالی ورکړ، د مثال په توگه:

په منځنیو پیړیو - د میلادی لومړنیو پیړیو څخه پیاتر څوارلسمې پیړۍ پورې چې د تاریکی دورې په نامه یادیږی... نامینالیزم د ماتریالیزم او ریالیزم بیاد ایدیالیزم نماینده گی کوله.

څرنگه چې په دغه مشخص تاریخی دوران کې لاهوتی خواد سکولاستیزم د ارتجاعی پلویانو فشارونه زیات وو نو له بله پلوه کلیسایی روحانیونو د ټولو ونیاو روزنې په تولو څانگو لکه تیولوجی، علم او هنر کې هم د دولونو په پوړول خپل ایدیالونه او منطق اظهار ول نو ځکه «په منځنیو پیړیو کی هنرمند مذهبی اصول او ارزښتونو ته هنری ژوند ور بښی.» (۱)

اوهم د اعلت دی چې «د لویدیځې اروپا په منځنیو پیړیو کې د ماتریالیستی شکلا پوهنې برپاوی برباد یږی او د ادبیاتو تیوری هم د تیولوژیکی نظریاتو تراغیزی لاندی راځی.» (۲)

(۱) - د کتور میترا، ریالیزم وضد ریالیزم د و ادبیات، کمیته دولتی طبع ونشر ج. ۱، ص: ۱۱.

(۲) - نویسنده: دکتور طلعت رستم زاده صالح، مترجم، محمد عالم لبیب، تیوری ادبیات، پوهنتون کابل، ص: ۴.

سره له دې تولو سره گورو چې ، په دا سې ناوړه حالاتو کې هم چې د مفتخورو فیودالانو او د کلیسا د ارتجاعي کشیشانو د بشري واکمنۍ دوران دی ، زیار کښ بزگران او د هغوی مخکښان د خپلو روا حقوقو د لاس ته راوړلو لپاره روښانه دریځ او تحلیل لري ، د نمونې په توگه :

سوپ د دغه وخت « په واقعبینانه اشعارو کې د دا سې بزگرانو سره مخامخ کیږو ، چې له خپلې طبقې سره مینه لري. »(۱)

راځي ، د دغه تاریک عصر د طرز تفکر او د شعر او ادب د پېژندنې په سلسله کې د هغه بوډا بزگر نصیحت واورو ، چې خپل زوی ته یې فیوډالي دربار ته له تگ څخه منع کړي دی . دی خپل زوی ته دا سې سپارښتنه کوي :

« ...ای زما زویه !

که غواړې چې نجیب واوسې ، نو په خپله وفاداریت دې ته کوم چې نجیب عمل وکړه ، سمدلاسه ته د تول اشرافیت تاج دی. »(۲)

د دغه هوښیار بزگر له ایډه سازه لار ښوونو څخه چې را تېر شو ، نو بیا و یې گورو ، د نامتو لیزم مشهور و تیوریسنانو لکه : دنس سکاتس (۱۲٦٥ - ۱۳۰۸ م .) ، ویلیام اکام (۱۲۸۰ - ۱۳۴۹ م .)

---

(۱) - مترجم : ورنا گل رنا ، د ښوونې او روزنې فلسفه ، کابل پوهنتون ، د ښوونې او روزنې پوهنځی ، ۵۸ مخ .

(۲) - ورکې : د پورتني ماخذ ۵۹ مخ .

او داسی نور و ، نه یوازې د خپل وخت پرخړ اډاتو سلنه ی وو هلې بلکې دهغوی د ر دولو لپاره یې علمی منطق هم خپل اساس وګرزاوه خو په مقابل کې یې د منځنیو پیړیو د ایډیالیستي ریالیزم پوهانو لکه : انسلم (۱۰۳۳ - ۱۱۰۹ م ۰)، توماس اکوین (۱۲۲۵ - ۱۲۷۴ م۰) او داسی نور و د کلیسا د حاکمیت اود فیوډالی طبقاتی ګټود تحفظ په خاطرهم ډیر زیات زیار وته وګالل ۰

د څوارلسمی میلادی پیړی په ورو ستیوو ختونواو د پنځلسمی میلادی پیړی په اوایلو کې چې د فیوډالی نظام دزوال اوډپانګوالی نظام دظهوراو پیدا ینبتو ختونه دی ، په اروپا کې هغه دوران پیل شو، چې په تاریخ کې د « رنسانس » په نامه شهرت لری ۰

دهنر اوادبیاتو په ډګرکې د ر نسانس دعصرله پیل سره سم نه یوازې پوهانو اوفیلسو فانود فیوډالی نظام دورستو اړیکود تیت اوپرک کولو لپاره لاره رو ښانــه کړه ، بلکې دفیوډالی دوران تولیدی ځوا کونه د خپل تکامل هغه پړاوته رسیدلی وو ، چې نورنو دزړو تولیدی اړیکو په تنګه چوکاټ کې نه ځا یدل ، نوځکــه یې د هغوی د بدلون په خاطر بغاوت وکړاو په نــتیجه کې له فیوډالیزم څخه پانګوالی ته داو ښتون پروسه، داجتماعی انقلاب په وجود کې عملی کړه ۰

په دی ارتباط، د نړی د څوار ویکمیانو لا رښود (فریډ ریک انګلس) لیکی چې :

«لومړنی سرمایه داری ملت ایټالیا و . د فیوډالی د منځنیو پیړیو پای او د پانګوالی د معاصر دوران پیل په یوه ستره څیره کی تجسم مومی . دغه څیره ایټالیایی دانته د منځنیو پیړیو وروستی شاعر او په عین حال کی د نوی عصر لومړنی شاعر دی . اوس هم د ۱۳۰۰ کال په شان نوی تاریخی عصر پیل کیږی . آیا ایټالیا به نوی دانته چی د دغه نوی عصر یعنی د پرولتاریایی عصر د زیږیدو د ګړی زیری وکړی ، مونږ ته راکړی ؟» (۱)

دغه تاریخی دوران (بورژوازی) د زرپرستو سرمایه دارانو د ستم او استثمار پر ضد د پرولتاریاوو د مبارزو او پر اساس په نښه کیږی .

---

(۱) - کارل مارکس - فریدریک انګلس ، مانیفست حزب کمونیست ، مسکو ، اداره نشراتی (پروګرس) ، ۱۹۸۰ م . ص ۲۳ - ۲۴ .

په نړۍ کې د نوي ادبي تیوري سرې سپرغۍ

((... له سپرغیو څخه به لمبې پورته شي ...)) و.ا.لینین

د ټولنې د ادبي تیورۍ منظم او سیستماتیک انکشاف، له څلورو
مشخصو منابعو څخه سرچینه اخلي:

«۱ ــ د مارکس او انګلس (او د دې تیورۍ د نورو موسسینو) نظر
ونه د ادبیاتو او هنر په باره کې.

۲ــ د هغو مترقي اشخاصو هلې ځلې، چې په سیاسي ژوند کې فعاله برخه لري
او غواړي چې له ادبیاتو څخه د سیاسي وسلې په توګه کار واخلي.

۳ ــ د ادبیاتو د ماهیت او رول په هکله، د مترقي ګوندونو او
د ټولنو له خوا خاصې غوښتنې.

۴ــ د مترقي اشخاصو له خوا د ادبي تیورۍ وده او تکامل.
دوی غواړي چې د مترقي تیورۍ عمومي او نسبي ولادا او د مترقي اشخاصو

دتجربو عملی نتایج دادب د تیوری د لاغښتلی کولو لپاره په کار روا چوی.» (۱)

دنړی د کارگری طبقې لارښوونکو (کارل مارکس او فریدریك انگلس) د کارگری طبقې په انقلابي مبارزه کې د ادبیاتو رول خورا ستر گانه او پرهمدې اساس یې ، په یوه ستر تاریخي او نړیوال اثر کې چې (د کمونیست گوند مانیفست) نومیږي «د سوسیالیستي او کمونیستي ادبیاتو»(۲) ترسرلیك لاندې یو لړ ډیری مهمې او ارزښتناکې سیاسي مسئلې بیان کړي.

پردې سربیره ، «ایس - ایس پراور دمارکس دادبي پوهې او ذوق په هکله یو کتاب لیکلی دی چې ، کارل مارکس او دنړی ادبیات (داکسفورد پوهنتون چاپ ، ۱۹۷۶ م. کال) یې نوم دی. که څه هم له دې کتاب څخه وروسته ، دمارکس د ادبي معلوماتو په باره کې نوری لیکنې هم شوېدي ، خو یوه مهمه خبره چې پراور په خپل کتاب کې بیان کړې ده ، هغه دا ده چې تر کومه ځایه پورې چې خبره په خپله په مارکس اودده په ادبي ذوق پورې اړه پیدا کوی، نودغه

(۱) ـ کابل ، دافغانستان دعلومو اکادیمی ، ۱۳۶۱ ه. کال اتمه ـ لمړه گڼه ، مضمون : دمترقی ادبي تیوری په باب معاصرو هڅو ته یوه کتنه ، دچړ یمی هالورن لیکنه ، دسلیمان خیل ژباړه ۸۲ - ۸۳ مخونه .

(۲) ـ مارکس او انگلس ، د کمونیست گوند مانیفست ، مسکو د(پروگرس) نشراتی مؤسسه، ۵۲ مخ.

معلومات باید نه یوازې په هغو معلوماتو پورې محدود وګڼو، چې مارکس د مشخصو ادبي اشارو په باب بیان کړي دي، بلکې لازمه ده چې د مارکس هغه ژور ادبي ذوق ته پاملرنه وشي چې د ده په ټولو آثاروا و لیکنو کې تیت شوی دی.

د یونان مشهور درامه لیکونکي او همدارنګه ګویته او شکسپیر هغه لیکوالان دي، چې مارکس یې ډیر ځله یادونه کړېده. د ده په ټولو فلسفي، سیاسي، اقتصادي او شخصي لیکنو کې، د دغو لیکوالانو اثر له ورایه ښکاري، مارکس په دې عقیده و چې، مهم ادبي آثار که څه هم په ستر و تو لنیزو قوتونو او پدیدو پورې تړلي وي، خو په هغو کې داسې ارزښت پروت دی چې د دغو قوتونو په غیږ کې نه ځایږي.» (۱)

د آلمان د ادبیاتو نامتو تیا تر پوه او ډرام اتیست برتولت برشت، یو له هغو ادیبانو څخه دی، چې له ادبیاتو څخه د سیاسي وسیلې په توګه کار اخلي.

دې په ادبي او هنري نړۍ کې، ډېر ا پلمو نو د حل کولو لپاره له نوي میتودا و نو یو وسایلو سره موافقه لري او په دې باره کې داسې وائي:

«زمانه تیریدونکې ده، که داسې نه وای، نو د هغو ځلکو لپاره

---

(۱) - کابل، ۱۳۶۰ ه کال، اتمه - لسمه ګڼه، مضمون: د مترقي ادبي تیوري په باب معاصر و هڅو ته یوه کتنه، د جرمني ها تورن لیکنه د ملیما نخیل ژباړه، ۹۰ مخ.

په ډېره مشکله وه، چې د قیمې میزونو د اخیستلو توان نه لري، میتود ـ و نه او طریقې د وخت په تیریدو سره خپل مؤثریت له لاسه ورکوي او زړې انګېزې خپل قوت بایلي. نوي ستونزې چې را پورته کیږي نو د هغوی د حل لپاره بیا پیدا نوي وسایل و لټول شي. واقعیت (حقیقي دنیا) خپله څېره بدلوي او د هغې د ښکاره کولو لپاره طریقې او میتود ونه باید په هغه تناسب سره ځان بدل کړي. »(۱)

برتولت برشت په بل ځای کې، د یو لکتیك په ستاینه کې داسې وایي:

« ـ که لا تر اوسه ژوندی یې، هیڅکله مه وایه هیڅکله

ـ هغه څه چې یقیني دي، یقیني نه دي

ـ هیڅ څیز به لکه څنګه چې دی، پاتې نشي..

ـ او «هیڅکله» بدلیږي په «یواځې همدا نن ورځ» باندې. »(۲)

د ډېرې پاملرنې ورتکې دا دي چې، د پاریس د کمون بریالیتوب (۱۸۷۱م. ـ د مارچ اتلسمه نیټه) د بشر په تاریخ کې د نوي تو ـ لنیز سیستم او نوي فرهنګ پوه نوي مرحله پرانستله.

د نړۍ د کارګري طبقې لومړي لار ښود کارل مارکس لا ډېر د مخه اټکل کړی و چې:

---

(۱) ـ کابل، ۱۳۶۱ هـ. کال، اتمه ـ نهمه ګڼه، ۹۴ مخ.

(۲) ـ د افغان یاد، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۶۰ هـ. کال، مضمون: په پښتو کې د نوي شعر را پیدا کېدل او د هغه اساسي مضمون، لیکوال: سلیمان لایق، ۳۶ مخ.

«د سوسیالیزم سره یو ځای د پرمختګ نوی دوره پیل کیږی.»(۱)

په رښتیا چی، د پاریس د کمون پریښه د بشر په تاریخ کی د عطف ټکی دی. دغه د کارګری انقلاب کډله یوی خوا د کارل مارکس او فریدریک انګلس دافکارو صحت وښود، نوله بله پلوه یی په راتلونکی کی دجهان کارګری طبقی او بزګرانو ته دغه تجربه هم په لاس ورکړه چی، باید یوله بل سره انقلابی وحدت وکړی اودبورژوازی او استثمارګرو په مقابل کی، دومره بی رحمه وی لکه د کارګری طبقی او تولو زیار ایستونکو ستر رهبران چی وو.

پله داچی، دنړی کارګره طبقه او بزګران باید په علمی او انقلابی جهان بینی سمبال وی اود خپل کمونیست ګوند ترلارښوونی لاندی خپلو کارونوته سازمان ورکړی.

«مارکس او انګلس سره له دغه چی د (کمون) اشتباهات یی انتقاد ول، خود (کمون والو) قهرمانی یی هم ستایله. دوی که څه هم په دی پوهیدل چی امکان لری، (کمون) به ناکامه شی، خو بیا یی هم په زیات اهمیت ورته کتل. دوی د (کمون) پیښه د نړی په تاریخ کی یوه نوی مرحله بلله.»(۲)

---

(۱)-د پلیما کب-والود پولیکنه، دعبدالخالق ژباړه، تولنه ښکه مخ په وړاندی د روسی؟ مسکو، د پرو ګرس نشراتی موسسه، ۱۹۸۲ م. کال ۱۰۶ مخ.

(۲)-ملا نور، د مارکس ژوند، د بیهقی د کتاب خپرولو موسسه ۱۳۵۹ ه. کال. ۸۳ مخ.

په ادبی نړی کی ، د پاریس د کمون له تجربو څخه د غه نتیجه هم اخیستل کیږی چی ، باید پرولتار یا یی ادبیات دی وزو بزر گرانو او نورو غیر پرولتری هوار یکښانود ادبیاتو د نوی روح او د ملاتیر په توګه کار ور کړی او باید د کمونیستو ګوندو نود لارښودنی او هڅونی په مرسته یی ، لاپسی ځنی کړی .

په دا که ویلی شو ، چی د پاریس د کمون د پرپالیتوب لوړی څپی په ادبیاتو کی منعکسی شوی ، ځکه هغه اعلامیه چی د فرانسی او اړی خلکو ته یی ، د پاریس د کمون دپری زپری ور کړاو په بین المللی ډ کر کی یی د پاریس د کمون څېره منعکسه کړه ، د لوړوارزښتو نوا - ومزایاوو په څنګه کی یی ادبی او هنری ارزښت هم درلود .

هغه انقلابی ادبیات ، چی د پاریس کمون وزیږول ، د بورژوازی پرا پیلو ژبك منکر باندی یی سخت ګوزارونه و کړل .

د فرانسی دغه نوی ادبیات او ددی ادبیاتو نوی ادبی تیوری د سوسیالیستی انقلاب له پیل څخه د پاریس د کمون په ډګه او ملاتړ کی ودریدل او دا انقلاب د پرپالیتوب په دوره کمه موده کی یی د زیار کښ انسان په ګټه ، خپل تاریخی رسالت پرځای کړ ، خو کله چی دغه کارګری انقلاب د مشخصو علتونو پر اساس ، د بورژوازی له خوا ځپل شو ، نود فرانسی د سوسیالیستی انقلاب د دوران نوی ادبیاتو او تیوری ، د فرانسی او جهان خلکو ته نوی تجربی په لاس ور کړی .

باید وویل شی چی ، دا کتوبر د ستر سوسیالیستی انقلاب پر پالیتوب (۱۹۱۷ م . کال دا کتوبر ۲۵ نیټه) د پاریس د کمون

په ادامه د اوږدو له اوږه عمل کې یې ثابته کړه چې، انقلابي ترینې
او اصیلې پرولتاریا له بزګرانو سره د پولاد په یووالي په نتیجه کې
د خپل ازموېل شوي او پیاوړي مخکښ ګوند تر لارښود لاندې
د پانګوالې د کرغېړن او ناوړه حاکمیت مقاومت، په بشپړه توګه
مات کړ او د تاریخ تورې او ژورې همېشنۍ کندې ته یې
د ابد لپاره وسپاره.

د اکتوبر د ستر سوسیالیستي انقلاب په بریا سره د ځمکې د کرې
پرمخ سوسیالیزم د دویم ځل لپاره وزیږېده. د دې انقلاب بریالیتوب
د بشر په تاریخ کې یوه داسې ستره پېښه وه، چې په ټوله نړیواله توګه یې
ټول جهان سره ولړزاوه او په نتیجه کې د شوراګانو په هېواد کې
د ډېر زیات کړېدلي او ربړېدلي انسانانو د ول حاکمیت ټینګ کړ.

له دغې نوې واکمنۍ سره سم، د ټولنیز، اقتصادي او فرهنګي
ژوندانه په ټولو اړخونو کې نوي بدلونونه رامنځته شول. د نړۍ
خوارېکښانو نوې تکیه ګاه وموندله او مارکسیزم - لېنینیزم
د روسیې د زیار کښانو د دولت رسمي ایډیالوژي شوه او هم په ادبي
نړۍ کې سوسیالیستي ریالیزم د واکمن میتود په حیث اعلان شو.

هرکله چې، د اکتوبر انقلاب د جهان په تاریخ کې د نوي زماني
پیل ګڼل کیږي، نو له همدې وخته د نویو ادبیاتو او نوې ادبي
تیوري د منظم او سیستماتیک انکشاف پر مختللی دوران هم شروع
کیږي او د نویو ادبیاتو او نوې ادبي تیوري د بشپړ تیاری بهیر
د پر ستر حالت دی

د اکتوبر د ستر سوسیالیستي انقلاب لارښود (ولادیمیر ایلیچ-

لینین) لکه څنګه چې مارکسیزم ته دلینینیزم په مرحله تکامل ور کړاو« لینینیزم داوسني عصرمارکسیزم وګرځید . »(۱) په همدې ډول یې د کارل مارکس اوفریدریک انګلس ادبي نظریاتو او تیوریو ته هم وده او تکامل ورکړ .

دنوی ادبي تیوري په باره کې دلینین د(ګوند ی سازمان او ګوندی ادبیات) نامتواثریو داسې ستر شهکار ګڼل کیږی چې ، په هغه کې په علمي او منطقي دلایلو سره ، دغیر طبقاتي ادبیاتو پوچه نظریه ، له خوشې ماتې سره مخامخ کړه .

لینین په ځه مشهور اثر کې هغه کسان سخت وټکول چې ، د تو لنې دمسایلو په هکله یې « سانتریستي » دریځ درلود .

لینین دا په ډېرده روښانه کړه چې په طبقاتي ټولنو کې د ادبیاتو خصلت طبقاتي دی او هغه ادیبا ن او شاعر ان چې خپل ادبي کار او فعالیت «له طبقاتو لوړ ! » ګڼي ، په حقیقت کې د ویني څښونکو په ژرنده اوبه ورسموی .

د لینین دغه اثر په اردوژ به هم ژباړل شوی او د (ادبي مسایل) (۲) په مهم اثر کې دسرېزې پرځای راوړل شوی دی .

لینین په تزاری روسیه کې د ګوندی او غیر ګوندی مطبوعاتو د تعبیر مسئله داسې توضیح کړه :

---

(۱) ـ د آفاناسیف ترمشری لاندی د پوهنیور شوروی لیکوالو ګډه لیکنه ، د نادر شهکاریزی ژباړه ، دعلمي کمونیزم مقدماتي کورس مسکو ، پرو ګرس ، ۱۹۸۴م. کال ، ۱۲ مخ .

(۲) ـ لینین، ادبي مسایل ، مسکو ، ۱۹۷۴م . کال، سریزه .

«د علمي او غیر علمي مطبوعاتو ترمنځ د توپیر د شتوالي په حال کې د ګوندي او غیر ګوندي مطبوعاتو په هکله مسئله، په ډیره ساده، جعلي، د روغتیا او زیانمنه توګه حل کېده. ټول مخفي مطبوعات ګوندي وو، د سازمانونو له خوا خپاره شوي او د هغو ډلو په وسیله صورت نیوه چې د ګوند له عملي کار سره تړلي وو. په داسې حال کې چې ټول علني مطبوعات غیر ګوندي وو، ځکه چې ګوندي توب تر بندیز لاندې راغلی و، لیکن د ګوند پلوه «کشش» درلود.» (۱)

په نوي روسیه کې، پرلینن سربېره د روسیې د سوسیالیستي ادیب ماکسیم ګورکي او نورو ادبي او تیوریکي خدمتونه، نه هېرېدونکي دي، ځکه د نوي ادبي تیوري په پرمختیایي پروسه کې ستره برخه واخیسته.

ماکسیم ګورکي د علمي او انقلابي نړۍ لید د علمي او انقلابي پرنسیپونو په رڼا کې پراخ بیا توضیح وکړی او د خپل انقلابي تحلیل په هره شیوه کې، طبقاتي پرنسیپونه له نظره ونه غورځول.

د نوموړي بیا تو او د هغوی د نوي تیوري په هکله د ماکسیم ګورکي یو شمېر نظریات د (ادبیات از نظر ګورکي) په غښتلي اثر کې له ورایه ځلیږي.

---

(۱) - لینین، سازمان حزبي و ادبیات حزبي، مترجم: نادر جلالي، مسکو، اداره نشراتي پروګرس، ۱۹۸۳ م. ص: ۳.

دماکسیم ګورکی ادبی او علمی کار نامی په دې تل لپاره د نوي پواد بیاتو او نوی ادبی تیوری په تاریخ کی په زرین خط لیکل شوی وی ، ځکه د طبقاتی دید ګاه پر بنسټ یې د شوروی ادبیاتو اساس کښیښود ، چی په ټول معنا طبقاتی او سوسیالیستی خصلت لری .

نن ورځ هم د نوی ادبی تیوری تیوریسنان او پیروان د ماکسیم ګورکی او دهغه د لارښود استاد ولادیمیر ایلیچ لینین لاره په پوره مقالت سره پرمخ وری او د مارکسیزم - لینینیزم د ځلاندو پرنسیپونو په رڼا کی د ادبیاتو اصلی ماهیت او مضمون لا پسی روښانه کوی ځکه «مارکسیزم - لینینیزم زموږ د عصر هغه پیاوړی ایډیالوجی ده ، چی د نړی په ټوله پیچلو سیاسی ، اقتصادی او فلسفی جریانا- تو کی موږ ته د علمی حقایقو او عملی مبارزو او وری راښیو دلای شی ... دغه ایډیالوجی د ورځنی تو پیر له نورو سره دادی چی ، ټولنی ته د طبقاتی تنازع په هینداره کی ګوری او ټولنیز تحولات د همدی تنازع پربنیاد تاریخ پرلاړ ور اندی بیایی .»(۱)

نوی ادبی تیوری ، د شاعرانو او ادیبانو د تخلیق په بابت طبقاتی تحلیل او ریخ لری ، ځکه نوی ادبی تیوری هر ادیب او شاعر طلانه ګڼی چی د پرولتری ادبیاتو منبع ته راورو نکی سره زړ بو لی او بایدد وی ایجاد شوی آثار د نړی د ادبیاتو د پرمختیایی بهیر او هدف لپاره د لارښو د حیثیت ولری.

(۱) -- ملانور ، د مارکس ژوند ، د پوهنی د کتاب خپرولو مؤ سسه ۱۳۵۹ ه . کال ، دسریزې لومړی مخ .

هغه ادیب او شاعر چې د استثمارګرې طبقې د ګټو د دفاع کې خپل تخلیق شوی اثر ټولنې ته وړاندې کوي، نه یوازې طلانه‌دی، بلکې د ده لیکنه تریاک دی چې ټولنه د سرسام کېدو لور ته بیایي. د دغه ډول لیکنو عمر ډېر لنډ دی او د جاوداني آثارو په لړکه کې نشي درېدلی.

لکه څرنګه چې خلک د تاریخ جوړوونکي دي، د غسې د دوی ادبیات هم جوړوونکي، آینده‌ساز او همیشني دي، ځکه‌چې خلک په طبقاتي ټولنو کې ترستم او استثمار لاندې زیار را ښکوونکي دي او د ټولې لپاره د ادبي اثرونو د منځ ته راتګ اساسي سرچینې همدا ستري وياړ- منې پرګنې دي‌چې، شاعر او ادیب د مخکښ انسان په توګه خپل رول پکې لوبوي.

نوی ادبي تیوري پردې ټکي ټینګار کوي چې، «شعر او ادب په ټولنه کې د نورو ټولنیزو ونډو په څنګ کې دوه ونډې هم سرته‌رسوي، چې یوه یې معرفتي او بله هم تربیتي ده.»(۱)

په عمومي ډول د مترقي ادبي تیوري پیروان په دې خبره باندې موافقه لري چې، د ادبیاتو د پوهېدلو لپاره یوازې دا کفایت نه کوي چې ادب د بشري دایمي ژوندون د انعکاس یوه وسیله وګڼو، داسې یوه وسیله‌چې، په هغې کې د زماني شرایطو اثر نه‌وي موجود، بلکې ادبیات باید د هغې ټولنې په څېر کې، چې له هغې څخه راپورته کېږي مطالعه شي.

---

(۱)- دستګیر پنجشېري، پیک‌دوستي، اتحادیه نویسنده گان ج.د.ا، ۱۳۶۳هـ. ص: اول مقدمه.

دروسیی یوه مترقی لیکوال (پلخونوف) ددی پیړی په سر کی دغه مطلب داسی روښانه کړی دی:

دهر ولس هنر دولس د ذهنیت په ذریعه تاکل کیږی شی او د یوه ولس ذهنیت دهغه په وضعی اوشرایطو پوری اړه لری او هغه شرایط په وروستنی تحلیل کی دهغو ځانکړو تولیدی قواوو او تولیدی مناسباتو د څرنګوالی په نتیجه کی جوړ یږی.»(۱)

«دمترقی تیوری یوه تعریف شوی تشریح په دی شکل سره بیانیږی چی، ددغی تیوری مدافعین ترټولو زیات اقتصادی پدیدو ته پاملرنه کوی او دانسانی شعور تولیدات لکه فلسفه، هنر او ادبیات کم اهمیته موضوعات ګڼی. لدی استدلال څخه داسی معلومیږی چی دمترقی تیوری پیروان ادبیاتو ته په نسبی توګه، په لږ اهمیت سره قایل دی. باید وویل شی چی، دغه ډول تفسیر ددغی تیوری په هکله صحت نه لری.»(۲)

اودا ځکه چی، ادبیات د یوی روبنایی پدیدی توګه نسبی خپلواکی لری او په ټاکلیو حالتو نو کی ممکنه ده، چی له اقتصادی پدیدو څخه مخکی و لاړ شی او یا وروسته پاتی شی.

د فلسفی لیکوال (امیرنیك آئین) هغه بیان چی د (ماتریالیزم تاریخی) په نامتوا ثر کی د (اشکال ـ اګاهی اجتماعی ـ هنر) ترسرلیك لاندی راغلی دی، دهنر او ادبیاتو د نوی تیوری یوه برخه ده.

---

(۱) ـ کابل، ۱۳٦۱ هـ کال، اتمه ـ لهمه ګڼه، مضمون: د مترقی ادبی تیوری په باب معاصرو هڅوته یوه کتنه، ۸۵ مخ.

(۲) ـ وګ: پورتنی ماخذ، ۸۳ مخ.

دی په نو موړی اثر کې دهنراو اقتصادی‌پایې دارتباط په باره کې داسې وایی :

«له اقتصادی پدید وسره دهنر اړیکی ، باید هیڅکله هم و چې مستقیمې او میخانیکی وله‌ګڼل شی. دا ډول تعبیر هیڅ وخت‌هم مارکسیستی نه‌دی . برعکس، دهنر په‌وسیله‌دټولنې‌داقتصادی بدلو- نونود حالتونو انعکاس ، تل‌د یوی وسیلې په توګه سر ته رسیږی او په یوه علمی تحلیل کې باید دغه‌ټول‌اړ خونه‌په نظر کې‌وی.»

(۱) ځکه«لکه څنګه‌چې علمی ټولنپو هنـه‌موږ ته راښیی:هنر او ادبیا ت دټولنې دتولید او اقتصاد د تکامـل سطـحه مستقیما نه منعکسوی ، بلکې دټولنې‌ژوندانه‌ټولواړ خونـو اوحالتو نو ته هنر پت‌ور کوی .»(۲)

راځی، پدی ارتباط د(د کتو را کیز ین) نظرهم ولولو، هغه لیکی :

«دهنری څیری ځانګړ تیاپه‌دی کی‌ده، چی‌په‌هغی کی‌نه‌یوازی واقعیت‌لکه څنګه‌چی‌دی‌انعکاس‌مومی‌او کاپی کیږ ی، بر بیره پر دی له‌منعکس‌شوی‌واقعیت‌سره‌یو ځای دهنر مندارپکی (تخیل) هم‌افاده کیږی.» (۳)

---

(۱) ـ ا میرنیک آذون ، ماتر یالیزم تاریخی ،از نشـرات حزب توده‌ایران ، ۱۳۵۸ ه. ص: ۳۴۳.

(۲)ـ دستګیر پنجشیری، پیک دوستی، اتحادیه نو یسنده ګـان ج د. ا، ۱۳۶۳ ه. صفحه سوم مقدمه .

(۳)ـ نویسنده: د کتـو را کیزین ، مترجم : احمدشاه‌پا سیڼی اساسات‌استیتیک‌علمی، پوهنتون کابل ، پوهنځی علوم اجتماعی ۱۳۶۰ ه . ص: ۲۹ .

بله د پره مهمه مسئله ، چې د نوي ادبي تیورۍ د تیوریسنانو او مینه‌والو ډېره زیاته د توجه وړده، هغه د ادبیاتو د ملي او پرولتري انترناسیونالیستي والي موضوع ده. په دې باب د برازیل د مشهور لیکوال (جارج آمادو) خبره د یادولو وړده، دی وایي:

زموږ لپاره د مسئلې د شکل ملي‌والي یوه اساسي موضوع ده که چېرې داسې نه‌وي، هغه‌نو بیا زموږ کتابونه برازیلي نه دي او د خولې وطنپرستۍ په بې‌معنا حالت کې‌به بشوي یو. که وغواړو چې زموږ کتابونه، نکلونه او شعرونه د انقلاب لپاره خدمت وکړي نو باید چې تر هرڅه اول برازیلي وي او هم دغه د دې ضمانت کوي چې ، بالاخره بین المللي هم دي.

د نوي ادبي تیوري د تکاملي مسیر په دوام کې د (احسان طبري) لیکنې هم د ډېرې ستاینې وړ دي او د مېهن د مترقي څورځنګونو د پیروانو او د نوي ادبي تیورۍ د مینه والو لپاره د پاملرنې یوه حیثیت لري. د نوموړي لیکوال کومه لیکنه چې د (مضامین تیوریك و آموزشي- مجموعه مقالات) په اثر کې راغلې ده، ده‌ر اوادبیاتو او استتیك د نوي تیوري په هکله ډېر ارزښتناك مواد لري.

(احسان طبري) د (مسائلي از فرهنگ وهنر و زبان) نومی اثر کې هم . د هنر په تولنیز رول او د شعر د نوي تیوري په باب، د یادونې وړ تکې په ډېره علمي- طبقاتي توګه روښانه کړي دي .

په ایران کې په احسان طبري سر بېره (دکتور میترا) هم د (رپالیزم وضد رپالیزم در ادبیات) د اثر په لیکلو سره، د نورو مسایلو په څنګ کې د نوي ادبي تیوري په باره کې هم خدمت کړی دی.

دلو موږ ی دغه اثر د ادبیاتو د نوې تیوری یوه غوره منبع ده .

همدارنګه ، د (د کتورا ګیزین) هغه کتابچې (اساسات استتیک علمی) نومیږی ، د نوې ادبی تیوری د مینه والو او پیروانو د ډیر په درد خوری .

بل اثر چې نوم یې (زیبایی شناسی نوین) دی او د شوروی اتحاد د لسو پیاوړو لیکوالو له لسو مقالو څخه ترتیب شوی دی ، په لوی سیستم په استیتیکی موضوعګانو باندې خبری کوی او د ادبیاتو د نوې تیوری څرګند لهوراپه پکې ځلیږی .

په همدې توګه ، د شوروی اتحاد د نامتو فلسفی لیکوال (آفاناسیف) هغه اثر چې (د علمی کمونیزم بنسټونه) نومیږی ، په ۲۳۸ مخ کی د «استیتیکی (جمالی) روزنه» ترسر لیک لاندی ، پـه سوسیالیستی ټولنه کې د استیتیکی روزنې غوره ممیزات ښی او د کمونیزم پـه شرایطو کې د استیتیکی او جمالی استعدادونو په هکله داسې تکی لری ، چې د هنر او ادبیاتو د نوې تیوری پیروانو ته یو بله ډیوه په لاس ورکولی شی او داسې نور اثرونه ·

لنډه داچې ، د نوی ادبی تیوری په منظم او سیستماتیک ډول مطالعه کې نړیوالی هڅې شوې ، چې د پرولتاریا او نورو بې وزلو پرګنو له جنبش او د رهبرانو له زړینو کار نامو سره یې نه شلیدونکی ارتباط وجود لری او هم په دې لاره کې د نوروچپو او دیمو کراتیکو عناصرو زیار او هاند ډیری زیاتې ستاینې او ویاړ وړ دی .

دویم څپرکی
ادبیات او سایکالوجي
د ادبیاتو کلاسیک
مفهوم او ارزښت:

د ادبیاتو د تعریف او پېژندنې په باب ډېرڅه ویل شوي دي، ځینو ادبیات ثقافت بللی، په داسې حال کې چې، ادبیات د هنري ونې د یوې مهمې څانګې په توګه، د کلتور یوه برخه جوړوي او ان تر دې چې، یو شمېر کسان د دې پرځای چې ادبیات «تعریف» کړي، د ټولـنیز شعور په یو لـړ لوړوالي خونوې رڼا اچولې ده او داسې نور «تعریفونه». د دغه ټکي د سرخېړونکي م. صدیق روهي له نظره درې اساسي علتونه لري:

«لومړی ــ هنري کیفیتونه درک کېدای شي، مګر تعریفېدای نشي. د هنرمند کار همېشه د ساینس پوهانو کار سره توپیر لري. د مثال په توګه: ساینس پوه کولی شي، د یوې هندسي تابلو مساحت معلوم کړي او ارقام یې ولیکي، لیکن د تابلو د ښکلا د معلومولو لپاره هماغسې دقیق مقیاس نشي رامنځ ته کولی. ښکلا خپل ځان ارقامو ته نه سپاري. البته، دا بله خبره ده، چې تاجران هرومرو یوه بیه ورته

تاکې او تجارت پرې کوي ، مګر دغه بیه یوازې تجارتي قرارداد منعکسوي، د ښکلا د داخلي معیارونو په واسطه د ارزیابۍ کېدلو معنا نه لري . البته ، اکثر ساینس پوهان زیار باسي چې کیفیتونه د کمې کولو له لارې ارزیابي کړي، لیکن هنري کیفیتونه که نا ممکنه نه وي ، په مشکله سره کمي کېدای شي .

دویم ـ دا علت هم د لومړي علت په شان دی. هنر د افرادي ذهني او شخصي ذوق سره نژدې پیوند لري. البته، دغې خبرې معنا دا نه ده، چې ګویا ښکلا یا هر ډول هنري کیفیت عیني واقعیت نه لري، بلکې د دې خبرې مفهوم دا دی ، چې هنري معیارونه د علمي معیارونو په تناسب فردي شخصي ته ډېر ور نژدې دي. د مثال په توګه : ځینې کسان د هند د کلاسیکي موسیقي مینان دي او ځینې نور په مشکله سره کولی شي، چې د هغې اورېدو ته ځان ټینګ کړي او مجلس خوشې نه کړي. همدغه مثال د ځینو نورو هنري څانګو په برخه کې هم تطبیقولی شو . . .

دریم ـ د هنرمند د کار میتود او د افادې طرز د ساینس پوهانو د کار له میتود او د افادې له ډول سره توپیر لري . . . »(۱)

د پورتني بیان له لوستلو څخه داسې جوتیږي، چې تعریف دومره شي پېژندلو ته وایي او د هنري پدیدو کیفیت درک کېدای شي اسانه تعریفېدای شي ، لیکن په دویمه برخه کې دا ټکي روښانه کېږي

(۱) ـ څېړندوی م. صدیق روهي ، ادبي څېړنې، د ننګرهار (میروـ ښان) پوهنتون ، ۱۳۶۰ هـ . کال ، ۷ـ۸ مخ .

چې، هنري کیفیتونه که نا ممکنه نه وي، په مشکله سره کمی کیدای شي.

زما په نظر، دعلمي - انقلابي نړۍ لیدله مخې، هیڅ امکان نه لري چې یوشی دې موجود وي، خو دپېژندلو او تعریف وړ دې نه وي - هرو مرود رڼګ کیدای، تعریفیدای او پېژندل کیدای شي. هغه شوک چې دیوشي تعریف نشي کولی او پاېي نیمګړی کوي، بې له شکه چې دهغه دادراك په توی پوری مربوطه خبره ده.

دېره په ښه وي چې تو لنیزی پوهنې دعلمي - انقلابي تیوري پرښت په روښانه توګه مطالعه اوو څېړل شي. مثلا «په شوروي - اتحاد کې داجتماعي علومو للاری او میتودولوژی اساس مارکسیزم لیننیزم دی.» (۱)

داد پیاتو لپاره، چې ما کسیم ګو رکی پی «انسان پېژ ندنه» (۲) ګڼی، دیوه کانکریتې تعریف جوړول اسانه کار نه دی، بلکې دېرې ستونزې څوارې، دساری په توګه:

(دادبي تاریخ تیوري) نوسی اثرلیکوال، پدخپل قلمي اثر کی دادب «تعریفونه» دکره کتنې دپر نسیو نوپر پښت نقد کړل او دهغو په ځای کې یې دادب دغه تعریف څوره وپاله:

---

(۱) - مترجم: راز محمد پکتین، سوالونه او ځوابونه، شوروي - اتحاد، مسکو، د (پروګرس) نشر اتي مؤسسه، ۱۹۷۸ م. کال، ۸۸ مخ.

(۲) - عرفان، ارګان نشراتی وزارت تعلیم و تربیه، ج. ا ۱۳۶۴ ه. شماره: نهم ودهم، مضمون. میتودولوژی اموزش وبررسی ادبیات، نویسنده: طلعت رستم زاده، مترجم: محمد عالم لیب ص: ۹۳.

« هر هغه وینا که شفاهي وي که تحریري چې هنري ارزښت ولري ادب دی .»(۱) خو موږ ګورو چې ، په نوموړي تعریف کې د « هنري ارزښت » مفهوم د ادب تر لفظ نه ډیر پېچلی دی ، ځکه له سړي سره پوښتنه پیدا کیږي ، چې « هنري ارزښت » څه ته وایي او د هغه نورمونه او معیارونه کوم دي او بله دا چې ، ادب که د ژوند په ارتباط و نه څېړل شي ، بې معنا دی او د خلکو لپاره د انقلابي مبارزې په ډګر کې نه یوازې دا چې ګټور نه تمامیږي ، بلکې لکه تریاک سړی سرسام کوي ، نو باید په نوموړي تعریف کې د ژوند پېښې کلمه وای . سره له دې هم دغه تعریف د یو شمیر ادبپوهانو له خوا د منلو وړ دی ، خو نن ورځ دا د ادبیاتو هغه کلاسیک (لومړۍ درجه ارزښت لرونکی) تعریف چې د سر څېړونکی م . صدیق روهي له خوا هم شوی دی ، ډیر زیات منه‌ـ وال لري او د دې کار اصلي علت هم دا دی چې دا د ادبیاتو تعریف یې د علمي - انقلابي تیوري پر بنسټ روښانه کړی او دا ځکه چې ، د نړۍ د کارګري طبقې او ټولو زحمتکښانو نو د دوران جوړوونکی ایډیالوژۍ د بشر د نجات لپاره بهترینه لاره ښودلې ده . هماغه تعریف داسې دی :

« ادبیات یو ژبنی هنر دی ، چې واقعیتونه په شکلي او جذباتي رنګ کې وړاندې کوي او د انسان ایستیتیک (۲) غوښتنو ته ځواب وایي . » (۳)

---

(۱) - پوهاند حبیب الله تږی ، د ادبي تاریخ تیوري ، د کابل پوهنتون کتابتون ، قلمي اثر .

(2) — Aisthetikos

(۳) - څېړندوی م . صدیق روهي ، ادبي څېړنې ، ننګرهار (میاـ ررهان) پوهنتون ، ۱۳۶۰ هـ . کال ، د سریزې لومړی مخ .

په هر حال، ادبیات ژوندي هنردي او طبقاتي ډربخې یې د ټولنې له طبقاتي ویش سره سم بېل شوي دي. هغه ادبیات چې د خلکو مال دي، ټول یې په ټولنه کې د بشري کمرا هیو او انساني بدبختیو د را سپړلو او ور کولپاره هڅنتلې مبارزه کړې چې د خپلې مبارزې په تناسب یې دپام ملرنې وړ بریالیتوبونه هم گټلي دي. د هغه خو محدود او مترقي ادبیات د هغو ادبیاتو په شان نه دي چې، وچ او سنفي تمایلات منعکسوي بلکې د ټولنیز او اقتصادي ژوند انځه د اوښتون او بدلون لارې چارې په گوته کوي، او همدا سبب دی چې ارزښت او اهمیت یې هم بې ساری دی.

ماکسیم گورکي چې د سوسیالیستي ریالیزم یو مخکښ دی، له هغو لیکوالو ادیبانو څخه و چې، خپل کار او فعالیت یې د پراخو پرگنو په گټه پای ته رساوه. ده که له یوې خوا اولسونو ته د روښانه راتلونکي ډیوه په خپله هنري ژبه روښانه کولې، نو له بله پلوه یې هغه پېښې هم تمثیلولې، چې خلکو به منځ ته راوړې یعنې ماکسیم گورکي یوازې د مترو تاریخي پېښو شاته نه وولاړ، چې هغه بیان کړي، بلکې په زیاتر ځپانو کې د یو مخکښ او بې جوړې سینه ناک هنري بلبل په شان چغېده او هغوی یې د رڼا آینده لور ته سمول.

د ده هوډ د ننگیالي خوشحال خان خټک په څېر ماتې نه منله. د دې خبرې د ثبوت لپاره به په خپله د ماکسیم گورکي خبرې او د خوشحال خان خټک یو دوه ژوندي شاعرانه بیتونه د بېلگې په توگه راوړو.

ماکسیم ګورکي وايي:

«زما نه په یادیږي، چې په ځواني کې مې یوه شېبه هم له ژوندانه څخه شکایت کړی وي. هغه کسان چې زه د هغوی په منځ کې اوسېدلم، له افسوس او فریاد سره یې مینه درلوده، لیکن یو وخت وپوهېدلم، چې هغوی د تنګی له مخې دغه کار کوي، څو خپله مرسته له نورو څخه وسپموي. ما هڅه وکړه چې له هغوی څخه پیروي ونه کړم. ژر وپوهېدم چې زیاتره هغه کسان چې افسوس او فریادونه یې کاوه، هغه څوک وو، چې د مقاومت توان یې نه درلود. ادبي شول کولی او یا یې نه غوښتل، چې کار وکړي، یوازې دې ته لېوال وو، چې د نورو په شتو (آرامه ژوند) وکړي.»(۱)

په رښتیا چې، د ماکسیم ګورکي ژبه د ولس ژبه وه، د ده غوښتنې د پرګنو ژوندۍ هیلې او د ده لیکنې د خپل وخت د مهمو تاریخي پېښو نوی بیان دی، د مثال په توګه:

«د ۱۹۰۱ - ۱۹۰۲ م. کلونو په اوږدو کې په ارځوني روسیه کې د پرولتاریا طبقې د انقلابي مبارزې تر اغېزې لاندې، بېلا بېل طبقات او قشرونه هم په حرکت راغلل. بزګران چې له بې وزلۍ څخه ډېر ستومانه شوي وو، د خپلې مبارزې شدت یې زیات کړ. د خارکوف او پولتاوا په ښارونو کې یې د ځمکوالو شتمنیو ته اور واچاوه، د هغوی غلې یې ولجه کړې او د وسله وال پوځ او پولیسو په وړاندې

(۱) - د ثور انقلاب حقیقت، ۱۳۶۲ هـ. کال، د عقرب څلورمه نېټه، دري څلوېښتمه ګڼه، اتم مخ، د ماکسیم ګورکي له خبرو څخه.

یی مقاومت پیل کړ. داهغه وخت وچی، د پوهنتون د محصلانو غورځنګ پراختیا و موندله اود پولیسو د ناوړه چلند په وړاندی یی د اعتراض په نامه په اعتصاب لاس پوری کړ. ددی ډول و یاړ منی مبارزی په نتیجه کی په هر ځای او هره برخه کی د انقلاب پری احساسیده.

ماکسیم ګورکی دغه مهم تاریخی حالت (د تو پان مرغه تراڼه) کی د (پریزی چی توپان ډیر سخت وخوږیږی) تراخیز من شعار لاندی بیان کړ، چی البته داد هغه وخت د انقلابی ایښی او تمیله لموندده»(۱)

همدارنګه، د ریالیست شاعراو لیکوال خوشحال خان خټک په افکار ـ وکی هم یو مهم خصوصیت دادی، چی انسان ته په ژوندانه کی دمبارزی اومقاومت درس ورکوی. دی هیڅکله ماتی اوناامیدی نه منی. دغه تکی دده په لاندینیو بیتونو کی له ورایه ځلیږی:

خوشحال خان خټک وایی:

ښه ځوانان په خپل هودپری نه پردی له لاسه

که یی سرځی د ځولی ژمری تر ژامه

اویادا چی:

چی نیولی می داهود د ننګ و نام دی

که له ځوله هوده واوړم کنږک یم.

سپینه خبره داده چی، موږ دانساناتو په ژوندانه کی د دغسی مبارز مفکورو اغیزی ګورو. دغه ډول چوړ وو نکی فکرونه

---

(۱) ـ دشوروی اتحاد د کمو نیست ګوند تاریخ، د(توده) د ګوند خپرونه، لومړی ټوک، ۹۵ مخ.

دراتلونکو لسلونو په څو ونه او ر وز نـه‌کي دېرزیات اخیز نا ک دی ، څکه موږ ګورو چي ، د نن نه‌دېر کلونه پخوا دوی دوا ړو له نړی څخه سترګي پټي کړی دی ، مګرد دوی مینه تا کواو انسانی لغمواوس هم نړی په سر اخیستی ده . د نړی په هره برخه کي چي کوم څیړونکي اومحقیقین د ګران افغانستان د ادبیاتو او تاریخ او د شوروی اتحاد دادبیاتو او تاریخ په باب څیړنه کوی ، نو خامخا په ددوی د تحلیق مهمه برخه جوړ وی.

سیدرسول رسا د شعر دا همیت او تاءثیر په باب ، چي د ادبیاتو یوه څانګه ده ، داسي لیکي :

«د شعرد تاءثیرنه څوك انکار کولی شي؟ د شعرد تاءثیرنه انکار کول داسي دی لکه چي سړی غرپه ګوتو د پټولو کوښښ و کړی .

د موږ په څګړه کي چي د پښتو بوی تري کوم کار کړی دی هغه د لښکرونه ، نه‌شو کېدلی اوتو پخانواو رسالو نه‌شو کولی.»(۱)

لنډه دا چي ، پر مختللي او مترقي ادبیات یوا زی هغه څه نه شر ګندوی ، چي خلک یې منځ ته‌راوړی ، بلکي ولسو نو ته‌دروښانه را تلونکي لیری ورکوی او ژوند ی پیغامونه ور ته‌زمزمه کوی یعني دا چي ادبیات د معنوی تاءثیراتو لپاره بهتر ینه وسیله ده ، نو څکه داسي ادبیات چي د تکامل په مسیر کي واقع د خوار یکښانو هیلي او خوښتني منعکسوی ، نه مری او تل ژوندي پا تي کېږی داډول ادبیات پوله او سرحدنه پېژنی اود ټولو ګډمال دی .

---

(۱) سیدرسول رسا، ادبي تنقید، پښور، خیبر با زار، ۱۱۰ مخ .

په ادبياتو کی مضمون او شکل

د مضمون او شکل ديالکتيك د هستی يو عام قانون دی چی ، د ديالکتيک او تاريخی ماترياليزم له نظره ډير زيات اهميت ورڅ دی . مارکسيستی ديالکتيک په روښانه توګه داڅرګندوی چی د مضمون او شکل ترمنځ ديالکتيکی يووالی او نه بيليدونکی پيوند موجوديت لری . مضمون او شکل يو بل باندی متقابلی ديالکتيکی اغيزی ښندی ، خو د مضمون رول ځانګړی ارزښت لری ، ځکه د مضمون اغيزه ټاکونکی وی . شکل هم که له يوی خوا د مضمون څرګندونی هينداره ګڼل کيږی ، نو له بله پلوه په مضمون باندی هم ، په فعاله توګه تاءثير اچوی . د همدی موضوع د شعر په برخه کی ، د پښتو ادب د کلاسيکی دوری نازکخيال شاعر کاظم خان شيدا د شعر په ژبه داسی بيانوی :

«مضمون د شعر لکه پيکردی
رنګين الفاظ يی لکه زيوردی
ورته ضروردی دادواړه څيزه

پیکر کښځو دلرپا تردی .»(۱) څرنګه چې مضمون تل په حرکت اوتکامل کې وی ، نودمضمون له دی پرمختګ سره سم شکل هم بدلون مومی اوخپل ځان له مضمونه سره برابروی .

دپورته یوتکو پهاستناد ، «مضمون‌دیوه‌شی دټولوتشکیلوونکو عناصرو ،خواصو ،داخلی جریانا تو ،اړیکو، تضادونو اومیلانونو (Tendencies) مجموعی ته ویل کیږی . شکل ، دیوه مضمون دعناصرو او دهغو ترمنځ داړیکو د نظم او جوړښت داخلی اړیکی اومیتود ،دیوی پدیدی دعناصرو او جریانونوخپل منځی‌اودبهرنی چاپیریال سره دهغو متقابل عملونه څرګندوی.»(۲)

دماری په توګه :

«تولیدی قوتونه‌دیوه‌مشخص تاریخی‌دوران‌مضمون اوتولیدی مناسبات دهغی څرګندی تاریخی دوری شکــل ګڼل کیږی .»(۳) کهڅه هم ، دمضمون او شکل ترمنځ دیالکتیکی یووالی اوډوه‌اړخه اړیکی ترلمړرو ښانه‌دی اود فلسفی‌دتکامل په‌مسیرکی دغه‌مساءله تورهم رو ښانه شو یده ، لیکن په دغه برخه پوه تواني جریان کی

(۱)-دافغان یاد ،کابل پوهنتون ،دژبو او ادبیاتو پوهنځی ۱۳۶۰ ه. کال ،مضمون پدپښتوننی ادب ،لیکوال:بریښ، ۲ ۶مخ .

(۲)- کابل،دافغانستان‌دعلوموا کاډیمی ،۱۳۵۸ه.ش. کال،ځلورمه ګڼه،دمضمون سرلیک : مضمون او شکل،لیکو ال : شیرندوی م . صدیق روهی ،لومړی مخ .

(۳) - آفانا سیف ، اصول فلسفه مارکسیزم،ص: ۱۰۳ .

داسې نظریات هم موندلی شو، چې په مېتافیزیکي مېتود د بناوو څود د پالکتیکي اسلوب پهو سوله یې څوڅه ماتې وخوړه.

«د یونان مشهور عینې ایډیالیست (افلاتون) دلو مړی ځل لپاره دڅورمادي شکلونو نظریه وړاندې کړه چې د (مثل) په حکمت باندې شهرت لري (مثل د لومړي او دوېم حرف په ضمه تلفظ کېږي د مثال یعنې شکل او صورت جمع ده) د افلاتون په عقیده محسوسات ظاهري او تیرېدونکي شیان دي، نه اصلي او حقیقي ... د (ارسطو) مشهوره نظریه چې په (دایروي حرکت) باندې بنا شوې ده، شکل ثابت گڼي، لیکن په عین حال کې دی د افلاتون د (مثل) نظریه ردوي او په ځای یې نوې نظریه وړاندې کوي.

(چارلزداروین) انگلیسي نامتوا تو والیست په خپل اثر (دانواعو مبداء) کې د (ارسطو) نظریه له ماتې سره مخامخ کړه او دا یې ثابته کړه چې، دانواعو شکل هم تغییر کوي.

(فریډریک انگلس) بیا وروسته د تکامل نظریه بشپړه کړه او هغه یې په تولنیز ژوند کې هم تطبیق کړه.» (۱)

علمي استیتیک، هنر د یوې تولنیزې پدیدې په توگه ارزیابي کوي او د مضمون او شکل مقولې ته د مېتود د ولو ژې له نظره ځانگړې ارزښت ور کوي او پردې تکې ټینگار کوي چې، په هنر کې اساسي د پالکتیکي تضاد د مضمون او شکل ترمنځ تضاد دی.

---

(۱) — کابل، دافغانستان دعلومو اکاډیمي، ۱۳۵۸ هـ. کال، څلورمه گڼه د مضمون عنوان: مضمون او شکل، لیکوال: څېړندوی م. صدیق روهي.

په ادبیاتو کې د مضمون او شکل دیالکتیک په ښه توګه سره ځان ښرګندوي ، د مثال په توګه :

ـ کله که موږ یوه ادبي ټرټه یا یو شعر ولولو او فکرو کړو چې ادیب او شاعر څه شی تعریف او توضیح کړي دي نو په حقیقت کې مو د مضمون په هکله غور او پلټنه کړې ده او که وایو چې څنګه یې توصیف او تمثیل کړي دي یا په بله شکه چې د شکل په باب مو فکر کړي دي ـ د همدې ټکي پربنسټ ، « د یوه هنري اثر داخلي هنري مفهوم د مضمون محتوا ښرګندوي او شکل هغه مادي او هنري جوړښت او اوډنې ته ویل کیږي چې ، د مضمون ټاکلي معنوي مفهوم افاده کوي. » (۱)

په ادبیاتو کې هم د نورو پدیدو په شان ، مضمون او شکل د تل لپاره په یوه بڼه او یوه حالت پاینت نه موسي ، بلکې د نوی او زاړه ترمنځ د مبارزې او جګړې په نتیجه کې زوړ مضمون او شکل خپل ځای نوي مضمون او شکل ته پریږدي ، د ساري په ډول : کله چې په یوه فیودالي ټولنه کې ژور اقتصادي بدلون نه راشي ، نو د فیودالي ټولنې ادبیاتو ته سخت ګوزارونه ور کوي او د احکه چې ، د فیودالي ټولنې غنعنوي ادبیات د ویښو و لسونو هنري تنده نشي ماتولی . د پرګنو زړونه او ذهنونه دې ته تخنیږي چې ، د شاعر او ادیب د اسې

(۱) مؤلف : دکتور اکیزین ، مترجم : احمدشاه یاسیني ، اساسات استیتیک علمي ، پوهنتون کابل ، پوهنځی علوم اجتماعي ، دیپارتمنت فلسفه ، ۱۳۶۰ ه ش . ص : ۳۱ .

شاعرانه چغې او څپرونه واوري، خود هغوی د زړونو پردې وربولې شي . په رښتیا چې ، ددوی احساسات او عواطف یوازې نوی شیان نوی مفکورې او نوی پیغامونه راپارولی شي ، داسې مفکورې او پیغامونه چې ددوی دمبارزو په سختو کړلیچونو کې د لارې دروښانو لو بلې ډیوې وي.

البته ، ددا سې نوی مضمون لپاره د نوی شکل د منځ ته راتګ سخت ضرورت احساسیږي، ځکه نو ر نوی مضمون د زاړه شکل په چوکاټ کې نه ځاییږي، هرو مرو زوړ شکل ړنګیږي او نوی شکل راتو کیږي، خود نوی مضمون دافادې توان ولري ، مګر له دې کار سره سره هم دتکامل سیر ته د پای ټکی نه ایښودل کیږي او دا ځکه چې هر نوی د تل لپاره نوی نه پاتې کیږي بلکې دتکامل په جریان کې زړیږي او بل نوی دهغه ځای نیسي. دا سلسله په کراو مراتو تکراریږي او د تاریخي تکامل مترقي خصلت هم په دغه ټکی کې نغښتی دی .

سلیمان لایق په دې باب داسې نظر لري :

« هره هنري پدیده په شکل او محتوی کې خلاصه شوېده، نو ځکه د هر هنري ، ادبي او شعري اثر زوړوالی او نوی والی د امعنالري چې ، دهغه محتوی او شکل او یاد غودوو لازم او ملزوم خواووپوا ړخ زوړیا نوی دی، خو باید دا حقیقت جوت شي ، چې هر نوی د یوزاړه دوام دی او هر زوړ د یو نوی سلف دی . » (۱)

(۱) ـ د افغان یاد ، کابل پوهنتون ، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ۱۳۶۰ هـ . ش . کال، مضمون : په پښتو کې د نوی شعر را پیدا کیدل او د هغه اساسي مضمون، لیکوال : سلیمان لایق ، ۳۱ - ۳۲ مخونه .

بله داخبره د يادونې وړ ده چې، د نوي پېړۍ په منځ ته راتګ سره د زړې پېړۍ ټولې خواوې له منځه نه ځي، بلکې دغو ره اړخونو د رناوې يې ګېږي، د نمونې په ډول: که چېرې موږ د پښتو ادبياتو په اوسنۍ دوره باندې خبرې کوو، نو سمدلاسه ګورو چې دغه ادبي دوره يوه تاريخي زمانه په ګېږ کې نيسي او د يوې ځانګړې ادبي دورې خصوصيات څرګندوي. يوازې يې د لرغوني او کلاسيکي ادبي دورې سره مضمون توپير نه لري بلکې اشکال يې هم سره بېل دي.

سره له دې هم، په معاصرو ځت کې د لرغوني او کلاسيکي ادبي دورې د مثبتو لورمو نودر ناوي کېږي او په درنه سترګه ورته کتل کېږي. د پښتو ادبياتو د لرغوني او کلاسيکي ادبي دورې ملي حماسې نه يوازې داچې له منځه نه دي لوېدلې، بلکې د تکامل په مسير کې يې انقلابي رنګ غوره کړاو په انقلابي حماسو واوښتې يعنې پښتو ادب چې په ملي حماسو راپېل شوی و، انقلابي حماسو ته يې وده ورکړه او پر مختګ يې وموند.

مارکسستي ديالکتيك د ديالکتيکي نفي رښتينی مفهوم په لاندې ډول په لاس را کوي:

«د لېنين د خبرې پر بنسټ، په مارکسستي ديالکتيک کې نفي پوچه او بې بنسټه نه ده، بلکې د ارتباط او تکامل د مرحلې په توګه، د هغې له ټولو مثبتو اړخونو سره په نظر کې نيول کېږي.» (۱)

---

(۱) ـ آفاناسف، اصول فلسفه مارکسيزم، ص: ۹۸.

د نوی اوزاړه ترمنځ دمبارزی رمز، اَن د پښتو شعر په لنډیو کی هم مطالعه کیدی شی اولانه یې تپه ددی خبری دثبوت لپاره جوت اوژوندی مثال دی :

پټنګه خاوری دی په سر شوی

شمعې ته جوړ شول په ښیښو کی محلونه

په دغه لنډۍ کی کله یوی خوادسا ینس اوتکنالوجۍ پرمختګ په ډیره ښه بڼه منعکس شوی، لو له بله پلوه د شاعر داحساساتو او جذباتو خوږلنی هم لری .

د پښتو ادب په کلاسیکه دوره کی د نازکخیالی اوشعری فنکاری په ډګر کی، پښتوشعرد لوړ تخیل، ژورفکر اونوی اداءرنګینی پیدا کړه، خوکله نا کله دځینو فنکار وشاعرانو څخه لورم ته دومره زیات تمایل پیداشوی چی، دمعنااو حقیقت پیغله یې له لاسه ورکړیده اودغه دهغه وخت دشعراوادب د نازکخیالی او فنکاری دعروج د زمانی اودهندی سبک له ځینوخصوصیاتو سره ارتباط لګوی.

ځینی ادیبان اوشاعران د یوه سیستم په توګه په فورمالیزم عقیده لری اوپه خپلوادبی اوشاعرانه تخلیقی لیکنو کی یی په شعوری توګه مراعاتوی . دوی په خپلو هنری لیکنو کی د ژوندانه اساسی پراېلمونه اود زیار کښانو غوښتنی لکه څنګه چی ښایی هغسی د هنر د تاریخی رسالت د سرته سورلو په خاطر نه طرحه کوی .

باید ووایوچی، داوسنی عصرادبیات نوی مضمون اونوی شکل غواړی، نورد پخوا پیر یا نواو د پوانو خیالی او افسانوی مفهومو نه دولسونو د زړونو ژ ننګه نه شی لری کولی، داډول تشبیهات

او استعارات د یو خاص وخت محصول دی. نوی شعر باید نوی مضمون او نوی شکل ولري او باید فکري او لفظي نوښت ولري.

باید په ادبي ډګر کې، د پانګوالي ادبیاتو د فورمالیستي او نورو ارتجاعي میتود ونو پر ضد له سترې کېدونکې مبارزې سره چې د بورژوازي د مداحینو خوښتنې منعکسوي او د زیار ایستونکې انسان هیلې په نظر کې نه نیسي، خو باید په یاد ولرو چې له فورمالیزم سره په مبارزه کې، د فورم کارنده او فعال رول له نظره ونه غورځوو.

په دې باره کې د (پلخانوف) نظر داسې دی:

«هر څومره چې په یوه هنري اثر کې فورم (شکل) له ایډیا سره متناسب او متوافق وي، په همغه اندازه به د هنري اثر ارزښت هم زیات وي، د نړۍ ټول مشهور هنري آثار ښکلي دي او په هغو کې د مضمون او شکل ترمنځ توافق او اورګانیک یووالی لیدل کېږي.»(۱)

نوی شعر باید نوی محتوا او نوی فکر ولري، داسې فکر چې د تکامل په مسیر کې واقع وي او د وخت او زمان غوښتنه وي او هم د داسې مضمون لپاره د نوي شکل د منځ ته را تګ سخت ضرورت احساسېږي چې د مضمون دافادې توان ولري نو باید چې ځوان شاعران او ادیبان هڅه وکړي، څو د تکامل له کاروانه وروسته پاتې نشي او ځانګوته په خپله عادلانه مبارزه کې د پرې زړې وکړي.

شعر چې د هنري ادبیاتو یوه له پیاوړو نکې برخه ده، د ټولنې له اقتصا-

---

(۱) - کابل، د افغانستان د علومو اکاډېمي، ۱۳۵۸ هـ کال، څلورمه ګڼه د مضمون سرلیک: مضمون او شکل، لیکوال: څېړندوی م. صدیق روهي.

دي او فرهنګي پرمختګونو سره سم ، په خپل وار سره د مضمون او شکل له مخې نوښت مومي ، چې پښتو شعر هم د يوه ژوندي هنر په توګه د ټولنې د تکامل په مسير کې واقع دی او د مضمون او شکل له پلوه نوښت يې د هېواد د اقتصادي او کلتوري پرمختګ سره سم مخ ته راغلی دی .

د ثور انقلاب په برياليتوب سره د ګران افغانستان د مېړنيو او نه ايلېدونکو خلکو د اقتصادي، ټولنيز او فرهنګي ژوند د دموکراتيزه کولو په لور يو څه ګامونه پورته شول ، چې د پښتو شعر هم د څو کمي او کيفي تغييراتو له اغېزو څخه بچ شوی نه دی .

پښتو شعر د مضمون او شکل له مخې نوښت وموند، د پښتو شاعرۍ څو ګامه پرمخ اوچت کړل او د پښتو شعر يې نوي انقلابي سبک ته راکش کړ .

«په پښتون ملت کې ضد استعماري پاڅون او د انکشاف بين المللي عواملو نوي شعر ته زمينه برابره کړه . دغه شعر د استعمار په مقابل کې نوی مضمون وموند او دې نوي مضمون نويو اصطلاحاتو ، نويو قالبونو او نوي عاطفي ته لار پرانستله . په دې شعر کې فردي عواطف په جمعي عواطفو بدل شول او د لرغوني خال وخط په اړخ کې د ولسونو د ازادۍ ارمان سر را اوچت کړ .

په دې کې متفکرو شاعرانو ، چې د خپل زمان رښتيني زامن وو د غزل ، قصيدې ، مخمس ، مسدس او نورو شعري وزنونو قالبونه او د دې په اړخ کې د فولکلوري سندرو قالبونه د آزادۍ د ارمان د بيان لپاره استعمال کړل او کله چې د ملي استقلال ارمان د زيار ايستونکي

انسان د خلاصون له ارمان سره یوځای شو، نو د مضمون لا نوی کیدل د ژرو قالبونو له حوصلې څخه ووتل او پښتو شعر خپل نوی ابتکاري قالبونه ومو ندل. .

د ثور انقلاب روان واقعیتونه، چې د زیار کښو د ارمانونو ویندوی دی، د نویو حوادثو او واقعیتونو د بیان نویو وسایلو ته اړ و. په شعر کې د غه نوی وسایل له نوی شکل او نوی محتوی نه پرته بل څه نه دی . همدې ضرورت زموږ د انقلاب د دوران شعرته نوی شکل او نوی محتوی او مجموعاً نوی سبک ورکړ ...» (۱)

د ثور انقلاب د روان بهیر په پښتو شعر کې ، خلک دامې قوت ګڼل کیږي ، چې د خپلې قهرمانانه او انقلابي مبارزې په برکت د تولنیز ژوند انعور ستې او زړې بڼې د ناپودې کندې ته سپاري او تولنې ته له یوې مرحلې څخه بلې ته پر مختګ ورکوي . په دغه ډول ادبیاتو کې خلک د تاریخ اصلي جوړ وونکي ګڼل کیږي چې ټول مادي او معنوي ارزښتونه منځ ته راوړي او د تولنې د ټاکاو پایښت امکانات برابروي .

د دغه انقلابي او دموکراتیک سبک مخکښ شاعران او ادیبان د دې لپاره ز یارونه کاږي چې ، د هرڅه لپاره نوی لغت جوړ کړي او په اصطلاح ادبیات سوچه کړي، بلکې د شکل د داسې نوښت هڅه کوي چې

---

(۱)- د افغان یاد ، کابل پوهنتو ن ، ۱۳۶۰ ه . کال، مضمون: په پښتو کې د نوی شعر را پیدا کید ل او د هغه اساسي مضمون، لیکوال: سلیمان لایق، ۳۰ مخ .

دی، چې د مضمون د انا دی توان ولري او که څوك د ځه د تکامل له مسیره لري او خطا کار دې یالکتیك قانون او یا یې اصل ګڼي، نوموړ په داګه ویلای شو چې دې یالکتیك قوانین او اصول یې غلط تعبیر کړي دي او ده لپاره دا ټکی پېشنهاد ولی شو چې باید په خپل نظر علمي او نوی کتنه وکړي.

همدارنګه، د دغه مبارز سبك مخکښان د عامیانه او بازاری ایکښونه دود سره هم سخت مخالف دي، ځکه د دوی هاند او هڅه د دې لپاره ده، چې عامفهمي تخلیقي لیکنې وکړي. د دې کار لپاره دا لازمه بریښي چې، د ولسونو سو په لوړه شي، څو د هنري اثارو د درك توان ولري او د دې کار اساسي علت هم دا دی چې، ټول انسانان په یو وخت کې د دې توان نه لري، څو په هنري آثارو کې هنري مفهوم نه درك کاندي، بلکې د دې کار لپاره د استیتیکي درك یوه لازمه سویه په کار ده.

ځرنګه چې، خلك د ژوندانه په هره تاریخي دوره کې خوځوونکي ځواکونه دي او د نوی مضمون او نوی شکل منځ ته راوړونکي دي. دغسې د نوی اقتصادي سیستم پر بنسټ د نوی فرهنګ په منځ ته راتګ سره، شعر او ادب ته هم، د مضمون او شکل له مخې نوی ساه ورپوکوي او د نویو ادبي غورځنګونو مخکښان، په ادبیاتو کې د نوی مضمون او نوی شکل د ایجاد لپاره مؤثر او اغیزناك رول په غاړه لري.

ادبیات د نوي ژوند لپاره

ژوندی هنر (پدیمی ادب) چې د تولنیز شعور پر بنسټ ولاړ دی، له نن ورځې نه په پېړیو پخوا پیل شوی او تاریخ یې د خمکې د کرۍ پر مخ، د لومړني انساني تولنې د تشکل له سباوون سره همزولی دی، هغه وخت دوه بېل د ښمن دولونه غوره کوي، کله چې په بشري تولنه کې د استثمار کراو استثمار۔ کېدونکي ترمنځ یو له بله بېلا کېدونکي او متخاصم تضاد منځ ته راځي. دغه دوران د تولنیز تکامل په تاریخ کې د غلامۍ د دورې په نامه یادوي. په دې وخت کې شعر او «ادب هم په دوو برخو وېشل کېدل پیل کړل: د باد شاهانو او ممتازو په ژبه له یوې خوا، د خوارانو او زیار۔ کالو نکو په ژبه له بلې پلوه وغځېد.» (١)

د شعر او ادب له دغه طبقاتي خصلت سره سم، د بادارې ادبیاتو تیوري یعنې د «نګه ادب» مفکوره منځ ته راځي. د اتیوري د لومړنیو

---

(١)ـ مفتاح الدین ساپي، ادبي او هنري څېړنې، د قومونو او قبایلو د چارو وزارت، ۱۳۶۳ هـ.ش. کال، ۱۱ مخ.

مستبد وانسانانو (پرده دارانو) دشعر اوادب ، گټواوو اکمنی په ننگه او سلا ترکی د ریږی او عمده هدف بی دا دی چی ، ژبنی هنرله اصلی ژوند څخه لری وساتی ، خو په مقابل کی یی «ادب دژوند لپاره» مساله مطرح کیږی . ددغی تیوری پلویان هڅه کوی چی ادب ته له ژوند سره پیوندورکړی او دا کار زموږ تروخته پوری ادامه لری او پهرا تلونکی کی به هم دوام پیدا کړی.

دغه انتقا گونوستی مفکوری دلومړی ځل لپاره دلرغونی یونانی تولنی په چا پیریال کی منځ ته راغلی او دیونان نامتوفیلسوفان لکه (ارستو - افلاتون)د فلسفی پر بنیاد ، دوه رنگ نظریات وړاندی کوی .

«دارستو په نظر تر ټولو ښه علم او هنر هغه دی ، چی له مادی تولید او فزیکی چارو سره یی فاصله زیاته وی یعنی فیلسوفان او هنرمندان باید «ننگه علم »او «ننگه هنر» ولټوی . کوم هنر چی دژوندانه تیاوو ته وقف شوی وی، ترټولوټیټ هنردی او دمریبو-نوله موقف سره توافق کوی .

سره لهدی چی افلاتون د(مثل) دنظریی پهوړاندی کولو سره د فورمالیزم اوشکل پرستی تیوریکی تاداوکښیښود ، خو په عمل کی د« ننگه هنر » سره مخالف دی . . . افلاتون ادب دژوند لپاره غواړی او ارستو ادب پهخپله غایه بولی . . .

البته، داقضاوت پهعاجل او سطحی وی چی ووایو ، دادب په باره کی دارستونظرد پورژ وازی له « ننگه هنر » سرهیو ځانته دی

...د «ژنګه هنر» او د «هنر د هنر لپاره» مفکوره د هغې په لوڅه او ښکاره بڼه د کپیټالیزم له ودې سره پیل کېږي . . . » (۱)

په هر حال، «له نولسمې پېړۍ څخه مخکې چې په واقعیت کې له ټولنې څخه د هنرمند د تېښتې دوران و، «هنر د هنر لپاره» نظریې په اروپايي ادبیاتو او هنر کې چنداني اعتبار نه لاره. په منځنیو پېړیو کې هنرمند مذهبي اصولو او ارزښتونو ته هنري ژوندون بښي، پر همدې اساس یې له هغې ټولنې سره چې پر مسیحیت یې تکیه درلوده، کله نا کله توافق کاوه ! .» (۲)

ـ کله چې نولسمه پېړۍ پیل کېږي، نو د دوو دښمنو طبقو تر منځ مبارزه په پرشدت موسې او ورسره سم د مساپلو په مقابل کې یو عمومي تنفر، بې پروايي او بده کتنه په یو خاص شکل او ګډه ساحه کې د «د هنر د هنر لپاره» تر تیوري لاندې منځ ته راغله او د نولسمې پېړۍ د ادبي فضا یو اړخ یې په بشپړه توګه اشغال کړ ... خو پر دې بله خوا د نولسمې پېړۍ د نوموړو حوادثو او پېښو څخه، علم، هنر او تیوري بل ډول او سنجته نتیجه واخیستله او په هنر کې د (بالزاك ـ دیکنز) او نورو ریالیستانو په څېر هنرمندانو، د ریالیزم تر عالي بېرغ لاندې د خپلو ټولنو سیاسي او اجتماعي هراړخیز بیانونه ورکړل او په پېلو

---

(۱) ـ څېړندوی م. صدیق روهي، ادبي څېړنې، د ننګرهار (میا روښان) پوهنتون، ۱۳٦۰ هـ. کال، ۲۹ ـ ۳۰ او ۳۲ مخونه.

(۲) ـ دکتور میترا، ریالیزم و ضد ریالیزم در ادبیات، چاپ مطبعه دولتي ج ۱۰، ص: ۱۱ ـ ۱۲ .

پداو اثرونو کې یې ډېرجدی مسایل وخېړل او د ریالیزم هنری مکتب
هم، له دغه ځایه څخه په سم ډول په راورو سته کې تکامل وموند ـ

د دې لپاره چې د « ادب د ادب لپاره » په مفکوره څه پوه شو، نو
په دې وه داسې شاعر خبرې د بېلګې په توګه راوړو، چې هغه نه یوازې
« د هنر د هنر لپاره » تیوری منی، بلکې له هر ډول رښتینو پېښو څخه
سترګې پټوی او داسې وایی :

ـ د نیاد نمایش پرده ده، انسانان پرهغو پالدې بازی کوی او
تراحساساتو یې بازیوا وخېروته زیات اهمیت ور کوو اوهم داسې
وایی چې : د شعر په فن کې یوازی او یو ازی وزن او قافیه مهمه
ده او د شعر څخه صرف د ذوق او خوند د اقناع مقصد دی. د ده هدغه
ډول قضاوت د هنر او ادب پرخیالی پلو پاندې زیات تاثیر اچولی دی.

په دې ارتباط ، دستګیر پنجشیری داسې را ښیی چې :

« په اوسنی وخت کې ، غیرسیاسی او غیر طبقاتی ادبیات د فرد په
وسیله د فرد استثمار او د ستمګرو د واکمنی پا ینت ته خدمت کوی
دغه ډول هنر او ادبیات ، په لومړی درجه کې د بورژ وازی او امپر—
یالیستی انحصاراتو په ژرنده او به ورسوی . »(۱)

مهمه خبره داده چې، د شعر او ادب د تخلیق هدف باید روښانه
اومشخص وی او ډېرستر عالی ارمان پکې انعکاس شوی وی، نه خیالی
اوله واقعیت نه په پراوونولری !

(۱) ـ دستګیر پنجشیری ، پیکه دوستی ، از نشرات اتحادیه
نویسنده گان ج.د.ا، ۱۳۶۳ هـ .ش. صفحه. دوم مقدمه .

پدې باب، د نړۍ د خواریکښانو ستر لارښود (لینن) لیکي چې:

«انسان ارمان ته اړ دی، مګر له طبیعت سره سم یوه انساني ارمان ته، نه له طبیعت څخه لوړ ارمان ته.»(۱) نو د ټول لپاره باید د یوه ادبي او هنري اثر، د فني، بدیعي او نورو هنري ځانګړتیاوو په څنګ کې، د هغه فکري محتوا ته خاصه پاملرنه وشي. په همدې باره کې احسان طبري وايي چې:

«د یوه هنري اثر له فکري محتوا څخه مقصد دا دی چې هغه اثر څه ویل غواړي، څه درد لري، له څه شي څخه ننګه کوي، کوم شی محکوموي، څه شي ته تاسي ور بولي او هدف یې څه شی دی.» (۲)

ددغه ټکي په باب (لونا چارسکي) داسې نظر لري:

«هغه لیکوال چې کولی شي، پېچلې او با ارزښته ټولنیز فکرونه په یوې داسې عامفهمې او توانايي سره بیان کړي چې، د ملیونونو کسانو زړونو ته لاره پیدا کړي، ډیر ستر دی او یو لیکوال چې په نسبتا ساده او ابتدايي محتوا سره د ملیونونو کسانو په زړونو کې ځای

(۱)- ده مقاله ازده نویسنده اتحاد شوروی، زیبایی شناسی نوین ۱۳۶۳ هـ.ش، ص: ۱۹۹.

(۲)- احسان طبری، مسائلی از فرهنګ وهنر وزبان، ۱۳۵۹ هـ. ص: ۱۴.

ونیسی، هم ډیر ستردی ...»(۱) اوداېری هغه ته د تجربې په وسیله حاصل‌شوی دی. د (رضابراهنی) په‌عقیده :

«انسان هرشی چې زده او کشف کړی اوګټه یې تری اخیستې ده، د تجربې له برکته دی.» (۲)

دډېری پامرلرنی وړتکی دادی چې، دهغو ادیبانو اوشاعرانو لیکنې چې له‌ژوند سره اړخ لګوی او دهغه لپاره وی ، پیاهم په دی خبره کې غور په کار دی چې :

شعر او ادب دکومې طبقې دژوند لپا ره تخلیق شوی دی ؟!

دفیوډالی او اشرافی ژوند لپاره او که دبزګری او کارګری ژوند په‌خاطر ؟ !

د بورژوازی او امپریالیستی ژوند لپاره او که د پرولتری اوسوسیالیستی ژوند لپاره ؟ !

د طبقاتی ټولنې د ژوند او کـه د بې طبقو ټولنې د نوی ژوند لپاره ؟ !

حقیقت دادی چې ، رسالتمند شاعران او ادیبان په خپلو ادبی او هنری آثارو کې د زیارکښ انسان ژوند انځوروی ، داستبداد په مقابل کې د هغه د غرو او سرکښو مبارزوته انعکاس ورکوی اوله استثمار او استبداد نه دخلاصې ټولنې د سباوون لپاره په زره پوری پیغام لری .

---

(۱) ـ لوناچارسکی، درباره ادبیات، کمیته‌دولتی طبع ونشر ج. د.ا، ۱۳۶۳ هـ. ص : ۱۸.

(۲) ـ رضا براهنی، طلادرمس، تهران، ۱۳۴۷ هـ.ص : ۸۸.

د هیواد په دننه کی ، د و رونو ملیتونو انقلابی پیو ستون ته اوله هیواد څخه بهر ، د جهان دور ونو ملتونو انقلابی پیوستون او د پرولتری انترناسیونالیزم تینګښت ته روښانه او ځلانده انعکاس ورکوی. داډول شاعران اوادیبان دنوی ژوند لپاره زیار ګالی او باید هم ادبیات دنوی ژوند لپاره وګمارل شی، نه د هرژوند اودهرچا د ژوند لپاره ! همداعلت دی چی (لینین) له هنری ادبیاتو نه جدی مراقبت اوڅارنه کوله .

« له هنر او ادبیاتو سره د لینین جدی مینه او له هغوی څخه دهغه کلکه څارنه ،دخواریکښی بشریت له سرنوشت سره دده له بی ساری مینی څخه سرچینه اخلی او له هغه سره نه شلیدونکی پیوند لری . » (۱)

په تاکید سره وایو چی، یوه شاعر اوادیب ته هغه وخت د نبوغ دروازه پرانستل کیږی چی ، هغه په ریالیزم باندی پوه و لګوی اوبیاله هغه څخه سوسیالیستی ریالیزم ته تکامل وکړی او داکار له واقعیتونو څخه دسم اودرست برداشت اوپخی تجربی په وسیله ممکن دی. راځئ ، پدی هکله د (آفاناسیف) خبری ولولو، هغه لیکی:

«دانسان دهنری نبوغ ترټولو ګران او ارزښتناک برپالیتوب ریالیزم دی . یوازی ریالیزم په تیره بیا سو سیالیستی ریالیزم

---

(۱) ـ دکتور ا.ح ، دیدار با سپیده (نوشته ها وتر جمه ها) کمیته دولتی طبع ونشر ج.د.ا ، ۱۳۶۱ هـ. ص : ۲۸ .

دجمالی روزنی، لههنری تخلیق سره دخلکو دپراخو پرګنو دمعاشرت د تا مینولو امید وارونکی و سیله ده» (۱)

هنر او ادبیات ،چی په طبقاتی ټولنو کی طبقاتی خصلت غوره کوی او محدوده کسبی پدیده ګڼله کیږی، د سوسیالیزم په ډیرو متکامل ترینو حالاتو اود کمونیزم په شرایطو کی به د زیار کښانو مال وګرځی .

په طبقاتی ټولنو کی ،د ګوتو په شمیر شاعران اوادیبان موندل کیږی چی د هنری اثارو د تخلیق توان لری، مګر په حقیقت کی له یونیم پرته نور ټول خلک د هنری ادبیاتو دایجاد استعداد لری خودومره خبره ده چی د هغوی د استعدادونو دڅرګیدلو لپاره لازمه زمینه نه ده برابره شوی او دوخت ظالمو اوویښی څښونکو نظامونو دغه استعدادونه د«خوپسی» غوندی خپه کړی اوبیابی تورې خاوری پری وراړولی دی .

بله خبره داده چی ، ادبیات یوه روښنایی پدیده ګڼله کیږی خوپه طبقاتی ټولنو کی ترستم لاندی زیار ایستونکی له سختو اقتصادی پرابلمونو سره مخامخ دی نوځکه بی پدی برخه کی، په هراړ خیزه توګه خپل توپانی استعدادو نه په کار نه دی اچولی اوپه هغوی پی از میښت نه دی کړی .

د کمونیزم په شرایطو کی به ،له استثنا ءتو پرته نور ټول

---

(۱) ـ آفاناسیف، دعلمی کمونیزم پښستونه، دپروګرس نشراتی مؤسسه، ۱۹۸۲م. کابل، ۲۲۴مخ .

خلك دادبی اوهنری اثار ود تخلیق توان واری او دهغه دی تکـی اساسی علت دادی چی، په دغه دوران کی به داستعداد ونـــود غوړیدو لپاره په بشپړه توگه امکانات برابر شی .

دپورتنیو ټکو په تایید به د (آفاناسیف) څرگندونی راوړو، هغه زیاتوی چی: «هنردانسانی فعالیت دخاص ډول په توگه دجمالی روزنی دمهمی وسیلی په حیث، دکمونیزم په شرایطو کی هم ساتل کیږی. دکمونیزم په شرایطو کی هنری تخلیق خپل داماهیت له لاسه ورکوی، چی هغه دی یوازی د کسبی هنرمندانو برخه وی دوگروپر گنی له هغه سره سرو کار پیدا کوی. ټول وگړی کولی شی په هنری کارو نو مشغول شی اوهنرمند شی، داځکه چی هربودا امکان ترلاسه کوی، چی خپل ټول استعدادونه ، له هغی جملی څخه استیتیکی اوجمالی استعدادونه وروزی او ورته پــر اختیا ورکړی .» (۱)

لنډه داچی ، ادبیات باید دنوی ټولنی دژوند لپاره وگوماړل شی، دخلکو دخدمت لپاره، د زحمتکښانو دژوند دنیکمرغی لپـاره چی دمادی اومعنوی ارزښتونوایجاد وونکی دی اود ټولنی دپایښت امکانات برابروی .

شعراو ادب باید دهغی نوروژوندانه لپاره خدمت وکړی، چی دهغی په وسیله دټولنیز ژوندانه زړی بر خی محوای کیږی اودخپلی انقلابی اوقهرمانانه مبارزی په برکت ټولنی ته له یوه حالت څخه

---

(۱)ـ آفاناسیف ،دعلمی کمونیزم بنسټونه ، ۲۲۵ مخ .

بل ته تکامل ور کوی. همدا سبب دی چې ، دخلکو سره دشعراوادب داریکو پرابلم عمده او ډیر مهم پرابلم دی اوده‌ئر پرګڼیز والی هم «دهغه په محتوا اوشکل ، دخلکو دژوندانه په تصویر اوستاینه او دخلکو دهیلو ، غوښتنو، افکارو او ایډیالونو په افاده کې پروت دی.» (۱)

(۱) - مؤلف: دوکتور اکوزین ، مترجم : احمدشاه پاسیڼی، امانساتاستیتیک علمی ، پوهنتون کابل ، ۱۳۶۰ه‍.ص: ۳۶ .

د ادبیاتو او سایکالوجي ترمنځ دیالکتیکي اړیکي

شاید د یوشمیر هغو لوستونکو لپاره چې په ادبیاتو او سایکا ـ لوجي کې مطالعه کمزورې وي، دغه ټکی د حیرانتیا وړ وبریښي چې، ادبیات د یوه ژبني هنر په توګه او سایکالوجي د یوه علم په حیث څنګه کیدای شي چې، یوله بل سره دیالکتیکي اړیکي ولري.

موږ د دغې خبرې په ځواب کې د ننني عصر د ډیرې پرمختللې پوهې یعنې د علمي او انقلابي نړۍ لید د ځلانده پرنسیپونو په رڼا کې ویلی شو چې، د نړۍ ټولې مادي او معنوي پدیدې او د هغوی له ډلې څخه ادبیات او سایکالوجي یو له بل سره کلک دیالکتیکي پیوند لري ځکه دیالکتیکي رابطه د دیالکتیک یو مهم اصل تشکیلوي.

ادبیات هیڅکله هم د زیارکښو لسونو په روحي او رواني ژوند کې بې ارزښته نه وو او نه به وي. هغه ادبي اثرونه چې له ژوند او کار سره مینه پکې ځلیږي، کولی شي چې خواریکښې پرګنې روحاتسکین کړي، ځکه د هغوی د خوږ منو زړونو لپاره درمان پکې نغښتل شوی دی. برعکس، هغه ادبي اثرونه چې له ژوند او کار سره

کړکه پکی پرته وی ، په زیار ایستونکو خلکو او د هنر په میدانـ والویی اغېزه منفی ده. دغه اوداسی نوری موضوعگانی هیڅ وخت هم دسایکالوجست لپاره بې اهمیته مسایلی نه دی . سایکالوجست کولی شی چې دادبی اثرو نو د مطالعې په مرسته په یوه تاکلی وخت کی ، د یوی تولنی د تو لنیزی سایکالوجی ځینی اړخونه وڅیړی او د همغو ادبی اثرونو په استناد ، خپل سایکالوجیکی نظریات څرگند کړی . ان مارکسیستی سایکالوجی ددی توان لری چی دهغو ادیبانو، شاعرانو او نورو هنرمندانو لپاره چی روانی ناروغتیاوی ولری ، د تداوی او علاج مثبتی لاری چاری پیشنهاد کړی .

موږ له دی تکی سره موافقه لروچی ، دسایکالوجست لپاره یوازینی سو ا د ادبیات نه دی ، چی د یوی تاکلی دوری د انسانانو تولنیزه سایکالوجی ارزیابی کړی ، بلکی ترهرڅه لومړی په خپله د تولنی ژوره مطالعه ده ، خو په عین حال کی ادبیات د سایکالوجست لپاره د فرعی سوادو رول لوبولی شی . د نمونې په توگه : د زمانی انځور د شوروی اتحاد د یوه مشهور ادیب کنستانتین پا ئو ستو فسکی یوداستانی اثر دی چی ، م. ابراهیم عطایی یې د کره کتنی په دریم اولسم پره گراف کی داسی لیکی :

« د نو سوری لیکوال کو م آثرچی د لته تر کره کتنی لاندی نیسو ، هغه په میکولو جیکی برخه کی هغو پوښتنو ته ځواب وایی چی ، په یوه تولنه کی له انقلاب څخه وړاندی او تر انقلاب وروسته دوه نسله په عینی او ذهنی سطح کی څه توپیرونه سره لری .

پا ئو ستو فسکی په دی کوچنی داستان کی ، په ډېره ساده گی

پرهغو واقعیتو نورنا اچولی ده چې انقلاب له ځان سره راوړی دی.
دده پېرلوی کمال دادی چې، پوه علمي ټولنیزه مساءله چې په عمومي
توګه ترانقلابو نو وروسته د دوو نسلو نو ترمنځ را پورته کېږي
دداستان په ماجرا کې داسې وڅېړي، چې هم داستان له حکایتي
فورم څخه د باندې نشي او هم هغو سیکولوجیکي پوښتنو ته ځواب
ووایي چې، په دغه مرحله کې منځ ته راځي.» (۱)
احسان طبري د (هنر و روانشناسي) په بحث کې داسې
څرګندونې کوي:

«له واقعیت سره دانسان ذوقي او استیتیکي اړیکي او چال چلند
ددې سبب کېږي، چې نړی په هنري توګه درك کاندې او وېي پېژني.
دهنري اثرونو په دننه کې دانسان احساسات، عکس العمل، ټولنیزې
او فردي اړیکې، ژوند، کار او په مشخصو تاریخي شرایطو کې زیار
څرګندیږي، یا په بله وینا هنر موضوع ژوندی او هنرمند دغه ژوند
په هنري توګه درك کوي او منعکسوي یې.
دهنر مضمون او شکل ددې سبب کېږي چې هنر ځانګړی شکل غوره کړي
او دغه خصوصیت یې دهنري اثرونو د منځ ته راتګ پر بنسټ دانسان
ذوقي او استیتیکي غوښتنې پوره کوي او په روحي توګه هغه ارامه
ساتي او حتی په هغه کې ددې توان پیدا کوي چې په ټاکلو حالتونو
کې د ښکلا له قوانینو سره سم، نوي هنري اثار منځ ته راوړي.» (۲)

(۱)-زېری، دافغانستان دعلومو اکاډمي، ۱۳۶۱ هـ. کال، ۵ ګڼه
لومړی مخ، مضمون: د زماني انځور د نړې پرمشهورو داستانونو کره کتنه
لیکوال: م. ابراهیم عطایي.

(۲)-مضامین تیوریك واموزشي (مجموعه مقالات) مضمون:
درباره برخي مسایل استیتیك وهنر، نویسنده: احسان طبري، ص: ۵۱.

زموږ هدف له پورتني بیان څخه دا نه دی چې، په اصطلاح ثابته کړو چې هر ادیب سایکالوجست دی او یا سایکالوجست شاعر یا ادیب دی ځکه سایکالوجي د یوه علم په توګه بیل معیار او نه او میتودونه لري او ادبیات د یوه ژبني هنر په حیث د ځانګړو میتودونو او معیارونو درلودونکي دی. سره له دې هم موږ د تکامل مسیر ته د پام ټکی نه پرېږدو، کېدای شي ځینې شاعران او ادیبان د وخت په تېرېدو او د تجربې په پخېدو سره نامتو سایکالوجستان شي او یو شمېر سایکالوجستان شاعران او ادیبان!

مهمه خبره دا ده چې، باید له سایکالوجي سره د ادبیاتو دیالکتیکي اړیکو ته په سرسري نظر و نه کتل شي، ځکه د ادبیاتو د یو لړ مکتبونو د بېلګې په توګه د سورریالیزم د ادبي او هنري مکتب ریښې چې په اوسني نړۍ کې یو ذهني ایډیالیستي تمایل ګڼل کېږي، د سایکالوجستانو په نظریو کې کتلی شو. په دې باب سرڅېړونکي م. صدیق روهي داسې لیکي:

«د سورریالیزم د هنري جریان ریښې د (زیګموند فروید) اتریشي ارواپوه په نظریو کې لیدل کېږي، چې د هغه په فکر هنر د جنسي غوښتنو د ارضا کولو نده پر مخ بیایي. د سورریالیزم د هنر محتوا په جنسي تحریکاتو او د ژوند او مرګ نه په وېره باندې منتهي کېږي. د کپیټالیسټي ټولنې څخه د راپیدا شویو توهماتو او کمزوریو په نتیجه کې سورریالیستان له واقعي ژوند څخه خیالي ذهني نړۍ ته پناه وړي او

خپل ځانونه په خوبونو، خیالونو او پټالو جیکي حالا تو مشغولوی ... دغه هنري جريان د خپلی ادعاد ملاتړ لپاره له فلسفی او ارواپوهنی څخه سرسته غواړی...»(۱)

دوکتور میترا، دهربرت رید هغه څرګندونی چی د سورریالیزم د ادبی او هنری مکتب د پیروانو د حالت په بیانولو کی کړی دی کټ مټ داسی لیکی:

«سورریالیستان له هر هغه ډول زیار سره، چی له هغه څخه هدف هنرته د منطقی او فکری جنبی ورکوو نکی وی، مخالف دی. یا په بله ویناهغوی هیڅکله دا نه منی چی د هنر عقلانی عناصر و ته دی د تخیلی او تصوری عناصرو په نسبت برتری ورکړله شی ...»(۲)

دا یو ریښتینی حقیقت دی چی، د سور ریالیزم د مکتب نماینده ګان ادبی او هنری آثرونه منځ ته راوړی خوسخو ابی ډیره بوچه ده. احسان طبری وایی:

«که چیری یوه کره، بوچه او تاوان رسوونکی بده مفکوره په هنری جامه کی نغښتل شوی وی، بیا هم یو هنری اثر دی، خو تولنه حق لری، چی هغه و نه ستایی، مګر نشی کولی چی له هنر یتوب څخه یی انکار وکړی.» (۳)

---

(۱) - شیر الدوی م. صدیق روهی، ادبی څیړنی، د ننګرهار (میاروښان) پوهنتون، ۱۳۶۰ ه. کال، ۳۴۴-۳۴۵ مخونه.

(۲) - دوکتور میترا، ریالیزم وضدریالیزم درادبیات، چاپ مطبعه دولتی، فصل سوم، ص: ۱۲۶.

(۳) - احسان طبری، مسائلی از فرهنګ وهنر وزبان، تهران ۱۳۵۹ ه. ص: ۱۵-۱۶.

دسور ریالیستانوله افکارو څخه داسې جو تیږي ،چې هنرمند دټولنې په مقابل کې له ډېرې زیاتې مایوسې سره مخامخ دی او دخپلې ناامیدۍ په ډنډ کې ډوب دی ،ځکه مترقي او انسان دوست شاعران او ادیبان ، په خپلو شاعرانه او ادبي لیکنو کې دسور-ریالیستانو په ډول بې ځایه هلې ځلې نه کوي ، چې له تخیل څخه په هغه پیمانه او معنا کاروا خلي ، څو د افسانو برجونه لاپسې لوړشي اوو اقعیتونه ترې نه ورك کاندي ، بلکې په داسې توګه تخیل کاروي ،چې له یوې خوا د ژوندانه د واقعیتونو په افاده کې بریالي وي اوله بلې خوا یې د خپلو احساساتواو جذباتوخوږلنې او د تخیل رنګینې هم ورسره ګډه کړي وي . ددې کار عمده او اساسي هدف دادی چې، اوریدونکي او لوستونکي دادبي اوشاعرانه لیکنو اوو ینا وو په اوریدلو او لوستلو سره ، د خپل بدن په حجره ـ حجره کې مثبته اغیزه درك کاندي او درونانه راتلونکي لورته یې وهڅوي .

مارکسیستې سایکالوجي د سورریالیستانو دما یوسې علتونه په ټولنیزواو اقتصادي اړیکو کې پلټي ،ځکه علمي ـ انقلابي نړی-لید داخبره ثبوت ته رسولې ده چې :

«دټولنې مادي هستې دهغې د معنوي ژوند ټاکونکې ده ، نه برعکس .» (۱)

دادبیاتو او سایکالوجي داړیکو درو ښانه کولو په بهیر کې

(۱)ـ الفبای مبارزه ، از نشرات حزب توده ایران، تهران، ص: ۲۰.

په د (هنر و روانشناسی) نومی اثر د لیکوال نظر هم و لولو، هغه لیکی :

«اروا پوهنه نفسانی حالات، احساسات، خاطرات او تمایلات په کلی توگه مطالعه کوی، په د امی حال کی چی ادبیات او هنر دفردی حالا تو بیا ثوونکی دی. دمثال په توگه: عشق په مجموع کی یوه د امی مساءله ده چی، په سایکالوجی کی پر هغه خبری کیږی، مگر په ادبیاتو کی د فرهاد، مجنون او ...... له عشق څخه خبری کیږی.» (۱)

زموږ په نظر په دی توکی کی، چی سایکالوجی او ادبیات دانسان له ژوند انه سره اړیکی لری، یواځی یو سره رابطه پیدا کوی، خو توپیریی په دی کی دی چی، ادبیات واقعیتونه د ژبی په وسیله په مشخصو هنری څیرو کی منعکسوی او سایکالوجی سر بیره پردی چی د ژو ندانه ډیری ژوری پیښی په علمی بڼه نه په هنری توگه، توضیح کوی، د انسانانو نفسیو لوجیکی جریانات او په ځانگړی توگه دانسان د ذهن دا خلی حوادث، د پیښو تر منځ ارتباطات، د هغوی قوانین او د تکامل پرمسیر یا ندی هم رڼا اچوی.

شعر چی د ژبنی هنر یو نه بیلید ونکی جز دی، په لومړی گام کی د شاعرانو بیا وروسته د ټولنی په روحی تسکین کی دیا دونی وړ اغیزه لری. الماني لیکوال (گویته) څه ښه وایی:

---

(۱) ـعبدالاحمد محمود، هنر و روانشناسی (مونوگراف) پوهنتون کابل، ۱۳۵۲ هـ. ص: ۱۳.

«شعر یعنی ژغورنه.» (۱) ددی خبری یوه معناداده چی ، شعر د شاعر د زړه پراس دی ، چی په شاعرانه توگه یی د شعر ژبی په وسیله د الفاظو په چوکاټ کی وباسی او شاعر روحا تسکینیږی او دغه عمل یی هیڅکله هم دسایکالوجست لپاره بی اهمیته نه دی.

له پورتنی بیان څخه په ډاگه جوتیږی چی، ادبیات له سایکالوجی سره ټینگی اړیکی لری او باید دغه ارتباطات د تل لپاره، په خوځنده او ډاینمیکه توگه په نظر کی وی ، ځکه ادبیات او سایکالوجی یو د بل مرستی ته اړدی او بله داچی ، په نننی عصر کی چی د علم او تخنیک د عصر په نامه هم نومول شوی دی او نن سبا چی یو ویشتمه میلادی پیړی پیل کیږی ، ټول ساینسی او اجتماعی علوم له بل هر وخت څخه زیات یو په بل کی سره نښوتلی او د مختلفو پوهانو او علماو موتر منځ گډه همکاری او له یو بل نارونه به، د علمی منطقی قانونمندیو علمی او هنری بڼی لا چټکی او گړندی کړی، لکه گړندی شوی چی هم دی.

اوس چی د ادبیاتو او سایکالوجی ترمنځ په ډیالکتیکی اړیکو او گډو سمبزاتو یوڅه وپوهیدو او د دوی په منځ کی مو نازک توپیر روښانه کړ ، نو په لاندی پښتنو ته د علمی او انقلابی جهان بینی د ځلانده پرنسیپو نو په رڼا کی ځواب ورایو :

۱ - هغه ادبیات چی د بورژوازی افکارو تراغیز ولاندی ، د ارتجاع او امپریالیزم په گټه ، په شعوری ډول منځ ته راځی ، په ټولنه کی په طبقاتی لحاظ کوم سایکالوجیکی تاثیرات له ځانه سره لری ؟ !

---

(۱) - هنر وروانشناسی ، ص : ۶۸ .

۲ ـ هغه ادبیات چې د علمي ـ انقلابي تیوري او سوسیالیستي انقلاب تر اغیزو لاندې د انقلابي او صنعتي پرولتاریا، زیارکښانو او د سوسیالیزم په گټه منځ ته راځي، په خلکو څه ډول سایکالوجیکي اغیزې ښندي ؟ !

۳ ـ د دغو متخاصمو ادبي او سایکالوجیکي تاثیراتو نتیجه په څه وي ؟ !

ځوابونه :

د لومړۍ پوښتنې ځواب :

دا ډول ادبیات د طبقاتي تحلیل مخې، د هغو الي دوه کمۍ د پانګوالو په ټولنه کې یې سایکالوجیکي اغیزې منفي دي ځکه د بورژوازۍ پرحاکمیت باندې په اصطلاح د ابدیت مهر لګوي او د یوې داسې حاکمې استثمارگرې طبقې په خدمت کې ترې کار اخیستل کیږي چې، د نړۍ د کارګرانو لارښود و نکو (کارل مارکس ـ فریدریک انګلس) یې لا ډېر پخوا ماتې اعلان کړې او د (لینن) په مېتکرانه لارښوونه یې د عمل جامه اغوستې، چې د اکتوبر د ستر سوسیالیستي انقلاب بري یې ښه نمونه ده، ځکه په نړیواله سویه یې د پانګوالي نظام تانګونه سست، مهریې پاک او وزرونه یې پرې کړل او د ویښې خښبوالکي ظالمې طبقې په مقابل کې یې د خوار یکښو پرګنو جرئت پیاوړی کړ.

دا ډول ادبیات د زیارکښو لسونو د ناامیدۍ لپاره هڅې کوي. د هغوی روحیات تر فشار لاندې راولي او د روانې اسارت په زندان کې یې زنداني کوي. په دوه یا بله بڼه د پېسو ستاینه کوي، د انساني

کرامت په مقابل کی سپکاوی او نفرت ښه‌ی اوزیاربا سی‌چی، دزیار-
ایستونکو دستری کتلی له اندامو نوڅخه دپانگوالی په گټه کار
واخلی اوپه سلگونو نورو افتونوبی ککړ وی .

ماکسیم گورکی لیکی چی :

«موږ په هغو افتو نوباندی ، چی دپانگوال شخصیت په روح
کی پټ دی ، ښه خبر یو .» (۱)

دی په‌یوبل ځای کی زیاتوی چی :

«بورژوازی هیڅکله هم ، دفرهنگی تکامل مفهوم دبشریت د
ضرورت په توگه نه دی درک کړی .» (۲)

ددویمی پوښتنی ځواب :

په ټولنه کی ددی ډول ادبیاتو سایکالوجیکی اغیزی مثبتی
اوروښانه راتلونکی لری ، ځکه په رښتینی معنا واقعیتونه منعکسوی .
دغه ادبیات دبی کوره ، وږو ، تږو ، لوڅواو بربنډو وانسانانو له
حقوقو اوهیلو څخه دفاع کوی .

داډول ادبیات دسوسیالیستی ریالیزم په میتود یك بدست کلکه
تکیه لری، ولسونه کارا ومبارزی ته هخوی اودسولی اوسوسیالیزم
په گټه داسی سایکالوجیکی اغیزی ښندی چی د نړی ټول مظلوم
خلك په یوه وارسره دسولی اوټولنیز عدالت غږ پورته کوی او

(۱) - ادبیات ازنظر گورکی ، ترجمه : ابوتراب باقرزاده
تهران، ۱۳۴۵ ه .ص: ۲۵۲ .

(۲) - ادبیات ازنظر گورکی ، ص: ۲۳۸ .

دجهان ټولې خواريکښې پرګنې پردې معتقد کوي چې ، پرې ستاسو په برخه دی، دظالمانو وا کمنې پای ته رسيږي اود کار ګرې طبقې او ټولو زحمتکښانو حاکميت ټينګيږي

ماکسيم ګورکي دسوسيا ليستي ادبياتو دارزښت په باب داسې وايي :

«زموږ ځوان ادبيات ، داروپاد ادبياتو دتکامل په تاريخ کې حيرانوونکې پديده ګڼله کيږي . که چيرته ووايم چې ، دلويديځ ادبيات هيڅ وخت هم ، په يوه داسې قوت او ګړند يتوب او په يوه داسې ځوريدونکې استعداد سره ، منځ ته نه دی راغلی نومبالغه به مې نه وی کړی . په اروپا کې هيڅاهم داسې با ارزښته او نړی خوښوونکی کتابونه منځ ته رانه وړل .»(۱)

ددريمې پوښتنې ځواب :

لکه څنګه چې دحاکمه طبقاتو واکمنې ابدی نه ده ، په همغه ډول يې دادبي اثرونو منفي ساېکالوجيکي اغېزې هم هميشنۍ نه دی.

دسپين زيره ښښتن اوسورژيي اديب ماکسيم ګورکي ، دا کتوبر دستر انقلاب په لومړ يوشپږ کې ا .س. سچرباکف ته ديو ليک په ترڅ کې داسې وليکل :

«ټولوليکو الو ته دی په پښوړه توګه معلومه وي چې ، ګواند همغه چې علمې سوسياليزم يې اتکل کړی دی ، په ژوره توګه عملی کوي. ددغه اتکل جوړوونکې قوت دهغه په علمي څانګړتياوو کې

(۱)-ادبيات از نظر ګورکي ، ص: ۱۲۲ .

نغښتې دي . د سوسیالیزم نړۍ د جوړېدو په حال کې ده، په داسې حال کې چې د پانګوالې نړۍ لکه څنګه چې مارکسیستي مفکورې د هغې د زوال پېشبینی کړې وه ، مخ په ځوړ روانه ده او وي به . »(۱)

بې له شکه، د زړې او کهنې په څېر کې، نوې ادبي اثر ونه را تو کېږي او وده کوي، ځو ر پېږي او د ځوار یکښو ولسو نوزړه او ذهن په لاس راوړي او د خلکو د پرګنو د نوې او کهنې له منځ ته راتګ او تېښتګښت سره سم، د نو یو ادبي اثرونو د منځ ته را وزښتنا کو سایکالوجیکي اغېزو لپاره، په بشپړه توګه زمینه برابرېږي او په ورو ستي تحلیل کې، نوي ادبي اثرونه په عمل کې ، د خپلو ځلانده اغېزو بشپړېږي اعلانوي او زاړه ادبي آثار له خپلو کرغېړنو ار-مانو نو او منفي سایکالوجیکي تاثیراتو سره، د تاریخ تورې، ابدي او همېشنۍ کندې ته سپارل کېږي او یوازې هغه ادبي اثرونه پایښت مومي چې، د وخت له کاروان سره هم غږه وي.

په پای کې دا ټکي د ټینګار وړ دي چې ، د زړې نړۍ د زړو ادبي اثرونو د منفي سایکالوجیکي اغېزو د نفي او رد ولو په څنګه کې باید ځانګړې مترقي عناصر او ځوره سایکالوجیکي تاثیرات هېڅ وخت هم له نظره و نه غورځول شي. لکه څنګه چې ، نوې ټولنه د زړې ټولنې په بطن کې زېږي، په همغه ډول نوې ادبیات هم د زړو ادبیاتو له منځه راوزي نو د زړو ادبي اثرونو او «د تېرو تجربو بشپړ ردول او نفي کول، په حقیقت کې د اسې معنا لري، لکه مور

(۱)- ادبیات از نظر گورکی ، ص: ۳۱۵ .

او پلار چې د اولاد له خوا ردشي او یا اولاد و له د مور او پلار څخه انکار و کړي.»(۱)

البته، د اوپلی شو چې، زمونږ پاسنی بیا نونه د یا لکټیکی نفی پر بنسټ تکیه لري ځکه «په میتافزیک کې چې د مادي اړی تکامل کېږي، نفی د زاړه د اپسته څورخولو او طردولو او د هغه له مطلقي نا بودي څخه عبارت دي. (لینین) د نفی د اډول د رك پوچ او بې اساسه شمیري ځکه چې هغه د تکامل د ادامې هر ډول امکان نفی کوي.»(۲)

---

(۱)- کابل، ۱۳۶۲ه. کال، ۶-۷ گڼه، مضمون: د ثور انقلاب او په افغانی ادبیاتو کې ولسي دموکراتیک هغښات، د چېورج گورس لیکنه، د زمري محقق ژباړه، ۵۲مخ.

(۲)-د آفا ناسیف لیکنه، د مور گل ژباړه، لوی فلسفه، د ترجمې کال: ۱۳۴۷ ه. ۱۲۸مخ.

د کوچنیانو لپاره ادبیات

د ګران افغانستان تاریخي پس منظر دا حکم کوي چې په افغاني پورته پاتې ماتل شوې ټولنه کې ز پېښاك ګروهوا کونو نه یوازې زموږ د حماسه زیږوونکي هیواد خوارېکښ خلك د استبداد په اور کې وتر کول، بلکې د دې خاورې تنکي ګلان یې هم تر دول-دول فشارونو لاندې ونیول. د یوز یات شمیر ماشومانو استعدادونه یې پېښوو ژل او د ځینو نورو په تو پاتې استعدادونو باندې یې خاورې او ایرې وروا پولې، خو د ځه سرکښه استعداد و نه، د ځودرو په ګلانو په ځیر له ځپروخاورو څخه راز رغون شول او د لوی زماني طلایې فکر یې وروډا

په دغسې بوی تتې فضا کې، چې د استعداد و نو د روزنې لپاره مساعده زمینه نه وه موجوده ، زموږ د ټولنې رښتینې لیکوال کړار نه دی ناست او په دې برخه کې یې څه ناڅه کار کړی دی. دوی د خپل استعداد او توان په اندازه د کوچنیانو د استعدادونو د ځو-پېدلو لپاره د علم او پوهې د پوې روښانه کړی او د هغوی د پو و په زړوو ر انګو یې د دوی ذهنو نه تنویر کړل.

ژمنو (متعهدو) شاعرانو او ادیبانو هم، د شعر او ادب په ډګر کې د ماشومانو غوږ ونو ته د عصر پیغام ورو رساوه او د دې و لو لو په پوډول یې دوخت له غوښتنو سره اشنا کړل ، مګر کله چې د شو ر

د پرتمین انقلاب په بري سره د ګران افغانستان په تاریخ کې نوې پاڼه را واوښته نو ښاد کوچنیانو د روزنې لپاره په منظمه او سیستماتیکه بڼه زیار ایستل کیږي او دا کار ادامه لري. دا چې د کوچنیانو لپاره ادبیات کومې ځانګړتیاوې لري، د مضمون او شکل تر منځ تناسب یې څنګه په ښه کیږي، په کومه طریقه سره د ماشومانو لپاره د بې ګټو او کمزورو شعرونو د ایجاد مخه نیولی شو، یو لړ داسې مسایل دي چې دلته به په لږ او ډېرې خبرې پرې وشي.

لومړی – د مضمون (محتوا) له مخې:

الف – په طبقاتي اساس، د کوچنیانو لپاره د شعرونو او کیسو تخلیق، باید نه یوازې زموږ د ځوریدلې ټولنې ماشومان له غوره کلتوري ارزښتونو سره بلد کړي، بلکې په دغه برخه کې د داسې او چټو ګامونو اخیستلو ته جدي ضرورت دی، چې د ګران هېواد د بې وزله پرګنو د ماشومانو لپاره د هلوه یو حیثیت ولرلی شي.

ب – زموږ د نن ورځې کوچنیان، چې د سباورځې پوځ ځلانده ځواک دي، باید د شعر او ادب له لارې له پوښتنېر هغو موضوعګانو سره هم آشنا شي، چې سباورځ هر و مرور سره مخامخ کېدونکي دي.

ج – د ماشومانو لپاره د شعرونو او کیسو د تخلیق پله غوره مېړنه پایداوي چې، د ترقي ضد عناصرو په مقابل کې د خلکو د کرکې او مبارزې و د انعکاس توان ولري، قوي پیغام او خاتمه یې لغښتل شوې وي، ځکه مدا کوچنیان په راتلونکي کې د طبقاتي مبارزې په جبهه کې د مخکښې رول په ډېره ښه توګه ترسره کړي.

د ـ د کوچنیانو لپاره شعرونه او کیسې باید په نوی روحیه لیکلی کړای شي معناداچې په اینده کې کوچنیان د ارتجاع لور ته تسلیم نشي ، هغه باید د ارتقا په جهت کې قدم کېږدي ، د طبقاتي جګړې په جاده کې د هغې ووهي او منګر خوشې نه کړي .

هـ ـ د ماشومانو لپاره په شعراو کیسه کې ، باید د تاریخي او ټولنیزو ځایونو یادونه ، یوازې د یوه ساده یاد او بیان په خاطر ـ رو نشي ، بلکې باید د هغوی ویښوونکي تاریخي حماسې ، پېښې ، اهمیت او کارنامې وښودل شي .

و ـ د کوچنیانو لپاره شعرونه او کیسې ، باید ماشومانو ته د دې قدرت ورکړي چې په راتلونکي کې د زیانمنې عنعنې پر خلاف ګام واخلي او د اېتکار او نوښت پر لور وهڅېږي .

ز ـ د ماشومانو لپاره شعرونه او کیسې باید دغه ځانګړتیا هم ولري چې ، کوچنیانو ته پوهه ورزده کړي ، پولې ماتولو ته د هغوی ذهن وراوچت کړي او د تشویق له مخې یې پرې وپوهوي .

ح ـ شاعراو ادیب باید په خپل شعراو لیکنه کې دې ته هم هڅه وکړي چې ، کوچنیان د خپل چاپېریال له شرایطو او لوازمو سره اشنا کړي ، ځکه ژوند د هماغو چاپېریال داسې لوازم لري چې ، د نامه په ژوندۍ کېدلو سره یې ، نه یوازې د ماشومانو ژړونه ، بلکې د تنکیو هلکانو او بالاخره ژوند د افغاني ټولنې د هر دردمن وګړي ژړه باغ ـ باغ کېږي .

ط ـ مهمه خبره د اده چې ، د ماشومانو لپاره د تخلیقي ادبیاتو په ایجاد کې باید د کوچنیانو سایکالوجي په نظر کې ونیول شي او هم حقایق په داسې تدبیر او مهارت سره د الفاظو په اسیل کې وړاندې شي چې ، د دوی

ذهن یې په اسانۍ سره واخلي، هضم یې کړي او په سبای کې په علیحده بدل شي .

دویم- دشکل (فورم) له پلوه:

دماشومانو لپاره ، دشعر ونثر او کیسو دنورو مدخانګړتیاوو له بیان څخه مخکې غواړو، له پورته وو سربېره بوطو موضوعګانو سره تماس ونیسو هغه په لاندې ډول دي :

لومړی داچې ،دماشوم، کوچنی،وړوکی، کمکی، کنګلی، زنګی کړا څې او داسې نورې کلمې ، چې دپښتو ژبې دبېلا- بېلو لهجو نماینده ګي کوي ، باید دمعیار په تو که یو نوموټا کل شي . که څه هم دپښتو ژبې دغه ټول نومونه خواږه دي ، خو بیا هم باید ددوی له ډلې څخه یو داسې لغت انتخاب شي ،چې له یوې خوا تاریخي لرغونوالی ولري او له بله پلوه اکثریت وریانه ی وپوهېږي او استعمال یې کړي. دویم داچې،(د کوچنیانو ادبیات)او(د کوچنیانو لپاره ادبیات) دادوه ځانګړي مفهومونه دي چې هیڅکله په یوه معنا او مفهوم نشي استعمالېدای. کهداسې وویل شي چې،د کوچنیانو ادبیات معنادا چې هغه ادبیات چې کوچنیانو ویلي دي او که داسې ووایو چې د کوچنیانو لپاره ادبیات لومفهوم به یې داوي چې هغه ادبیات چې د کوچنیانو تخلیق نه بلکې دهغوی لپاره دایجاد شویو ادبیاتو معنا لري .

اوس به بیرته خپلې اصلي موضوع ته راو ګرځو او دشکل له پلوه به د کوچنیانو لپاره دادبیاتو ممیزات وڅېړو .

الف ـ هغه شعر و نه او کیسې چې د ماشومانو لپاره تخلیق کیږي ، باید ویښوونکي او زړه راښکونکي کلمات او عبارات ولري.

ب ـ د کوچنیانو لپاره ادبیات ، که په نثر کې را منځ ته کیږي او یا په شعر کې ، باید د کوچنیو ادبي ژانرونو په توګه ترتیب شي او دا کار ماشومانو ته ددي توان ورکوي چې ، له یوې خوا هغه ژر زده کړي او له بله پلوه یې حوصله تنګه نشي . په تیره بیا زموږ د وروستو پاتې ماتل شوي ټولنې د کوچنیانو لپاره باید دغه موضوع تل په نظر کې وي .

ج ـ شاعر او ادیب باید په ادبي او شعري اثار وکې ، زموږ د ټولنې ماشومان له تشبیهاتو سره اشنا کړي ، ځکه دغه ټکي دوه عمده ګټې لري :

لومړی ـ معمولاً یو شی د بل شي په واسطه په تشریح کیدای شي او دیو شي په پیژندلو کې د بل شي د پیژندلو لپاره هم تلاش منځ ته راځي او ددیالکتیک او تاریخي ماتریالیزم له نظره نړۍ د پیژندلو وړده او کوچنیان هم باید د جهان پیژندلو ته ومخول شي .

دویم ـ په شعر کې تشبیه ، کنایه او نور ، کوچنیان باریک بین او نکته منج روزي او د هغوی د کنجکاوۍ حس په ډیره ښه توګه را پاروالی شي .

هغه ادبي او شعري اثرونه چې د کوچنیانو لپاره لیکل کیږي باید مفکوري داسې ښکي افاده شي چې ، له انځورونو او واقعیتونو سره یو ځای د ادیب او شاعر د احساساتو څرګندونې او د تخیل رنګینې هم ولري . دا سمه نه ده چې ، د کوچنیانو لپاره ادبیات دي

شعریت او هنریت ونه لری ، که چیری شاعر او ادیب په دی برخه کی ډیر عمیق ولاړ نشی ، نو لږ تر لږه خو دومره باید وی چی کره کتونکی او نور لوستونکی د شعر یا کوم بل ادبی ژانر گومان پری و کړی ، ځکه د کوچنیانو لپاره ادبیات باید د دوی سویی ته راټیټ نشی ، برعکس باید د وی سویه ور لوړه کړای شی، که چیری کوم شاعر یا ادیب د کوچنیانو په سویه لیکنی و کړی ، نو بیا د هغوی او کوچنیانو تر منځ توپیر په څه شی کی دی ؟!

د- د کوچنیانو لپاره د ادبیاتو بله مشخصه باید دا وی چی په لنډو- لنډو جملو کی مهم او ستر مطالب افاده شی، حتی په شعر کی د بیتونو د میلابونو کموالی ته باید خاصه پاملرنه وشی او په هره اندازه چی په دی برخه کی غور او دقت کیږی ، په همغه پیمانه د ماشومانو لپاره گټور تمامیږی او په شعر باندی د شاعر د تسلط اوبری معنا هم لری .

دریم څپرکی

شعر، ډرامه او لنډه کیسه

دشعر څرنګوالی:

شعر چې د شاعر د مفکورې، احساس، تخیل او اهنګ ګډ ترکیب ګڼل کیږي، د تاریخ په بهیر کې د بیلا ـ بیلو پوهانو، تیوریسنانو او د شعر د تیورۍ د مینه والو او پیروانو له خوا ډیری او اوږده بحثونه شوي دي، خو لا تر اوسه پورې د شعر د سټرکچر او جوړښت، د دغه د ماهیت او دندو په ارتباط، په هیوادني او نړیواله سویه د پوهانو ترمنځ یو توحیدي نظر وجود نلري.

شاید د دغه ټکي ډیر علتونه ولري، خو عمده دلیل یې دا بریښي چې، د هیواد او نړۍ ټول تیوریسنان او پوهان د یوې واحدې ایډیالوژیکي نیرو پیروان ندي او په یوې مشخصې طبقې پورې اړه نه لري، نو ځکه هر تیوریسن او پوه د خپل سیل او طبقې سره سم د شعر په باب خپل نظریات وړاندې کړي دي.

هو، د تاریخ په مسیر کې داسې کسان هم موندلی شو او دا نن یې هم ژوندۍ نمونې شته چې د شعر او ادب په هکله یې ځانګړي

افکار څرګند کړی او ادبی اثار یې هم ایجاد کړی دی ، لیکن خپل نظریات او ادبی کارکونې مشخصې طبقې ته نه منسوبوی او په اصطلاح «له طبقاتو پورته!» ادبی او تیوریک فعالیت کوی. دا هغه څوک دی چې ، له طبقاتی سعیا رونو څخه پرته د عدالت او برابری مساله مطرح کوی او هغه د لینین خبره :

«. .. دا هغه لیوه دی ، چې د پسه پوست یې اغوستی دی، هغه د کارګرو او بزګرو تر ټولو ناپخه ورمخالف دی ، هغه د ملاکینو تزارانو او پانګوالانو نوکردی .»(۱)

«لینین»د «ګوندی سازمان او ګوندی ادبیات » په نامتو اثر کې دم ددا ډول «مانتریستی» افرادو پرضد داسې شعار ورکوی :

«. . مرګ دې وی له انسانانو او انسانیت څخه لو راد یوالو»

(۲) نو لکه څرنګه چې شعر او ادب طبقاتی خصلت لری ، په همغه ډول دادبیاتو تیوری هم طبقاتی بڼه لری او له طبقاتی فکتورونو څخه ماسیوا ، د ژبنی هنر په باره کې غږیدل ، د استثمار ګرو په ژرنده او به ورسول دی .

---

(۱) - لینین ، شوروی واک څه شی دی ؟ مسکو ، د پرو ګرس نشراتی مؤسسه ، ۱۹۷۹م. کال ، ۷۱ مخ .

(۲) - لینین ، سازمان حزبی و ادبیات حزبی ، مسکو ، اداره نشراتی پروګروس ، سال ۱۹۸۳ م. ص :۴.

موږ دخپل بیان په سلسله کی دشعر د څرنګوالی په باره کی خبری کوو او د علمی ـ انقلابی نړی لید په رڼا کی د هغه ترکیب تعریف او بڼی ښیوو:

لومړی ـ دشعر ترکیب :

د احسان طبری د (مسائلی از فرهنګ وهنر وزبان) نومی اثر په استناد، د شعر ستر کچ او ساختمان له لاندینیو څلورو ضروری عناصرو څخه تشکیل دی:

«اندیشه (مفکوره)، احساس، تخیل او آهنګ.» (۱)

دویم ـ دشعر تعریف :

«شعر په آهنګ لرونکی ژبی سره د مفکوری او تخیل عاطفی ترکیب او ګډون ته ویل کیږی... همدی ته ورته بل تعریف داسی دی: شعر د آهنګ والو عباراتو په واسطه د واقعیت تخیلی او بیا خلی انځورولو ته ویل کیږی.» (۲)

د شعر د جوړښت او ترکیب په باره کی د احسان طبری له څرګندونو او د شعر له پورتنیو تعریفو نو څخه د شعر د وه تکی ښځی روښانه کیږی:

الف ـ قافیه د شعر رکن نه دی او هغه کسان چی قافیه د شعر

---

(۱)ـ احسان طبری، مسائلی از فرهنګ و هنر و زبان، تهران ۱۳۵۹ ه. ص: ۲۸.

(۲)ـ سرخیړونکی م. صدیق روهی، د پښتو معاصر ادبیات ـ سریزه کابل پوهنتون، د پښتو د ماستری څانګی تدریسی کتاب، ۱۳۶۳ ه. کال، ۱۳، مخ.

اساسی جزبولی او دهغه لپاره یی مطلق کوی، په حقیقت کی یوه ښه تیروتنه کوی، ځکه هغه څه چې د احسان طبری له نظره د شعر لپاره بالکل لازمی عناصر گڼل کیږی، هغه د مفکوری ، احساس او تخیل پهشنگ کی آهنگ دی، خو که شاعر قافیه وال شعر وایی، با ک هم نه لری .

ب ـ له ډیری پخوا زمانی را په دیخوا، له یوشمیر ادب پوهانو څخه د نظم او شعر پولی گډی شوی وی ، خو دا دپیاتو د مترقی تیوری د پرمختیا په پروسه کی ، د ده موضوع هم علما مطرح شوه اوديوه پرابلم په توگه طرحه شوه ـ په نتیجه کی وزن د نظم اساسی توکی و شمیرل شو او پر همدی اساس له شعر څخه بیل شو ، ځکه د نظم په جوړښت کی ناظم ددی لپاره تلاش کوی، چی په سلابیل او عروضی سیستم باندی د بیتونو پلی یو برابر کړی او یا په هغوی کی واحد وزن مراعات کړی او کله کله قافیه هم پکی ورځای کړی. په شعر کی شاعر ددی لپاره زیار گالی چی، د هغه شعر باید یوسوز او گداز و لری او یو ژوندی پیغام پکی انعکاس شوی وی. هغه مفکوره چی شاعری په رنگین تخیل خوبوی ، باید په آهنگ والو عباراتو کی افاده شی اوله یه دا چی ، د شعر په توگه چو کاټ کی شعریت او موسیقیت وجود ولری .

داحسان طبری په عقیده :

«یو هنري اثر دري توکی لري چې هغه عبارت دي له، فکري محتوا بدیعي خصوصیاتو او فني مختصاتو څخه...» (۱)

دې زیاتوي چې:

« که یو هنري اثر بدیعي خصوصیات و نلري، بې له هنري اثر څخه بل هرشي دی.» (۲)

د ګ. ف. ګیرس د (میړنی اولس ادبیات) د پښتو نسخې د ۱۷۵ مخ په استناد:

«...داسې آثار چې پوره هنري ارزښت و نلري او کومه موضوع وړاندې کوي، هغه هم د لږ وخت لپاره علاقمندي پیدا کوي، حوادث تغییر مومي او هغه پالبداهه اشعار چې د دغو حوادثو مولود دي سم ورسره محې او داسې آثار د محتوا او فورم له حیثه سږی ته شپږنامې را یادوي چې، دیوې ورځې مخصوص ادبیات دي.» (۳)

دریم- دشعر بڼې او بیلګې:

په عمومي توګه په پښتو ادب کې دشعر لاندې بڼې دوددي:

الف- منظوم شعر:

دا شعر دوه عمده ځانګړ تیاوې لري:

لومړی داچې نظم دی او د پښتونو د پلو تر منځ یې د سیلابونو

---

(۱)- احسان طبري، مسائلي از فرهنګ وهنروزبان، ۱۳۵۹ه. ص: ۱۳-۱۴.

(۲)- وګ: پورتني ماخذ، ۱۵ مخ.

(۳)- ایکوال: ګ. ف. ګیرس، مترجم: سرخیړونکی محتمد شینواري، دمیړني اولس ادبیات، دقومونو او قبایلو دچارو وزارت ۱۳۶۴ه. کابل، ۱۷۵ مخ.

توازن یوشان وی اودویم داچې، د شاعرد شاعرانه ژبې شاعرانـه اداءلری، لکه دا شعر :

د زمانې فریاد

یادی دوستانو څوپوونه راته پوخ نیولی
خود شیبود ضمیر چغوته کانه غوندی دی
په وسپنیزو کړو پښوپا نـدی لغتی وهی
اود پرچو پهسرونو کانو ژوبلوی سخونه
ته دیتیم ماشوم د گوتونه نوکان وباسی
سپینسری موروهی د گوتود چړو په څوکو
چې پهوی دوپـر گلانو ته د وینـو لښتی
گرم احساس پهدی یوسه کړی داجل پهشونډو
پرېږده د وینود غوټیو گلانـسه زیاتوه
زمانه، نه څواړی دوینو د گلانو عطر.»(۱)

ب ـ منظوم او مقفی شعر :

دادشعر هغهشکل دی چې ،وزن اوقافیه ولری ، خو په عین حال کې دشعریت څرك پکې لهوړایه ځلیږی، لکهدغه شعر:

دتو پان بچی

څه له سې را پولی سیل د گلوتـه
زهخو چېرې نهیـم د سلطان بچـی

---

(۱) ـ فضل الهی گران ، دهیلو گودرونه ،د ا . د . ج . د لیکوالو اتحادیه ، ۱۳٦۵ هـ . کال ، ۳۱ مخ .

ماد تو پانو څپوته وا چوی
څواری توپانو نه د تو پان بچی
تالنده چی غبرگی دی مستی کوی
د اد ترږ سیو د باران بچی
نشی په قفس کی پاتیدی نشی
دغه الو تونکی د آسمان بچی
شرنگ د زولنو د ژوند سندره ده
نازی په ځنځیرکی د زندان بچی
سرېدی کو زنشی سرکشانوته
ځان ته که څوک وایی د افغان بچی .»(۱)

ج- آزاد شعر :

دشعردغه ډول، دغه «آزاد ارتو - ازاد شعر» په مفهوم پوری اړه نلری چی، دلرغونی یونان اوروم دسریتوب په دوران کی د برده دارانو شغل گڼل کیده، بلکی د ا شعرد قراردادی وزن او قافیی له قیدڅخه خپلواک دی ، مگردیوه هنری اثر په توگه ، فنی بدیعی اوشعری خصوصیات لری او په آهنگینه ژبه د شاعرد مفکوری تخیل او احساس ځرگندونه کوی اوور سره جوخت دشاعر تصویر پردازی هم غاړه غړی کیږی . پدی ارتباط (رضابراهنی) لیکی چی :
«ازاد شعر- هغه شعردی چی، قرار دادی عروضی وزن ونلری اویاد شعری وزنونو پههیڅ یوه پاندی هم نه تقطیع کیږی...ازاد

(۱)- سلیمان لایق، یادونه اود ر سندونه ، کابل، د اطلاعاتو او کلتور وزارت، ۱۳۵۷ ل کال، ۷۳-۷۴ مخونه .

شعر تقریبا د « والت ویټمن » په وسیله هغه وخت پیل شو چې ، « د وښو پاڼې » شعري ووایه. په فرانسه کې د نولسمې پېړۍ تر پایه پورې ډېر پلویان وموندل او په شلمه پېړۍ کې زیات دود شو ...» (۱) لکه دالاندې شعر :

داوښکو انګار

دما تو اوښکو غېږې سېځې انګار
د اسوېلیو د اورونه ووت!

*   *   *

هاغه دی !
سترګې د شپو سرې شوې
د پورې سور اور ځورځوونکی سینه
دځنګ په تېرو د مرګونو الماسونه ښندي
او زلزلې پیښوي!!

*   *   *

پیاد آدونو د لوښړود لمبو پخړی
اکه شبنم په ارمانونو راورېږي پسې
او د غورځنګ د لمر په څېر کې تالونه وهي!!

*   *   *

د آ کدری چغو په سیمه
د پېوزلو د غضب زلزلې
د غیرتي چغومانیو ته جیټکه ور کوي

(۱) ـ رضا براهنی ، طلا در مس، تهران ، ۱۳۴۷ هـ ، ص: ۳۴۸-۳۴۹.

اوپارېدلی احساس

په کرمو او ښکو دېتيم کي تندرونه ګوري !!!» (۱)

د ـ منثورشعر :

دادشعر هغه ډله ده چي، په نثر باندې ليکل کېږي او د شعر حکم

محکه ور باندې شوی دی چي، د شعر د ساختمان ترکيب يې د رست دی

شعريت لري او پوډول خاص شاعرانه ترنم او موسيقيت پکي پرو ت دی.

د شعردغه ډله له ادبي توتو او لوړو هنري نثرونو سره جوت توپير لري.

د شعردغه شکل په باب (احسان طبري) وايي چي :

«سن ژان پرس خپل شعرونه په نثر باندې ليکلي دي ، ليکن دا نه

يوازي له ژوري فلسفي سره خيال انګيزه نثردی، بلکي ګرمه نغمه هم

ده... حتی هغه څوک چي دانش درك کولی ، له هغه څخه خوندا خلی

نو دلته په عروضي پاهجايي، موزون پامسجع باندي بحث نه دی

خبره داهنګ پرسرده .» (۲)

سرڅېړونکی م. صديق روهي ليکي چي:

«راحت صاحب لومړني اديب وچي ، په پښتو کي يې منثور شعرو

ليکه .» (۳)

---

(۱)ـ دهيلو ګودرونه ، ۳۳ مخ.

(۲)ـ احسان طبري، مسائلی از فرهنګ وهنروزبان، ص: ۳۲ـ۳۳.

(۳)ـ دراحت ياد، کابل پوهنتون، ۱۳۶۳ هـ. کال، مضمون :د راحت زاخيلي لنډي کيسې ، ليکوال: سرڅېړونکی م. صديق روهي، ۰ ۴ مخ.

هـ- سپین شعر :

د «طلاد رمس» لیکوال د (شاملو) په نامه یو شاعر د نورو مسایلو په څنګ کې، په دې تکي هم انتقاد وې چې، خپل بې وزنه شعر ته یې «سپین شعر» ویلي دي او دغه محض اشتباه ګڼي .

د ده په قول :

«سپین شعر که چیرې د انګلیسي ژبې (Blank) او د فرانسوي (Blance) د سپین په معناوا خلو، نو په لویدیځ کې هغه څوسوه کلن سابقه شعر دی چې، د هغه پیدایښت د غرب له نویوا دنیا توسره هیڅ ارتباط نلري. داشعري قالب په انګریزي ادبیاتو کې د شعري د ندې او د کلام د ماهیت پر بنسټ دوه اصلي حالتونه لري: لومړی نی دراماتیک سپین شعر او دویم حماسي سپین شعر.

...دغه شعري قالب که څه هم د انګلستان د شپاړسمې پیړۍ د شاعر ساري- Surrey په وسیله معرفي شو، لیکن په انګریزي ادبیاتو کې د دې د اوج لومړی نوعه د (شکسپیر) په نمایشنامو او د اوج دویمه نوعه یې د (میلتن) په «ورک شوی جنت» کې ګورو. دغه شعر اغلباً اس هجایي دی، چې لومړی هجایې بې تکیه او دویمه هجایې با تکیه ده. په دغه ډول شعر کې قافیه یا وجود نه لري او یا که چیرې وي، تصادفي ده، نه قرار دادي او قصدي ...»(١)

و- نوی شعر :

د اد شعر هغه متکامله بڼه ده، چې د هغه اساسي مضمون زیار کښ انسان تشکیلوي، فورم او محتوا یې نوې ده او لفظي او معنوي تجدد لري.

---

(١)- رضا براهني، طلاد رمس، ص: ٣٤٤- ٣٤٥.

د نوی شعر په هکله سلیمان لایق داسی لیکی:

«د نوی اوزاړه شعرتوپیرد صورت او معنا په لحاظ شوی دی. نوی شعر په د شکل په لحاظ نوی تر کیبونه، نوی اوزان او نوی لفظی خصوصیات لری او د محتوی له پلوه په نوی مضمون، نوی معنا، نوی غایی او هدفونه لری.

د نوی شعر دظهور په باره کی باید وویل شی چی، اوس دغه شعر زموږ په ټولنه کی زیږیدلی، ورځ تر ورځی تکامل موسی او له زاړه شعر نه یی خپله لاره جلا کړیده. د نوی شعر محتوا چی د زیار ایستونکی انسان له ارمان سره مطابقت لری، دخپل مضمون د شکل له پلوه تر ټولو پخوانیو شعرونو شتمن، هراړخیز اوښکلی دی» (۱)

اجمل ختک د پښتو د نوی شعر په باب داسی رایه لری:

«نوی شعر ـ دوطن په سینه کی دوب دمحرومو طبقو دارمانونو دردو نواو ځوا کونو هغه خوږی سندری دی، چی خوږیکښ ولسونه یی بیداروی او دا ستشما گرو دخونړی څیری نه یی د شرافت نقاب تار تار کوی ـ د دی دوراودی میدان پښتنی شعر ډیر غنی او خوندناك دی ـ دلوړوادبی محافلونه یی راواخلی، دبزگر، کارگر او کسبگرتر کورونو، پولو، پټواود کانونو یی خپل سوربیرغ رپولی دی ـ وریسی بیاد ثور ملی ـ دیمو کراتیك انقلاب دا شعر نورهم اولسی ـ انقلابی

(۱) ـ دافغان یاد، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی لیکوال: سلیمان لایق، مضمون: په پښتو کی د نوی شعرراپیدا کیدل او دهغه اساسی مضمون، ۳۲ـ۳۶ مخونه.

او د بشریت دلوړو ارمانونو هینداره کړ » (۱) اوداهم په پښتو شاعرۍ کې دنوې محتوا درلودونکې شعر نمونه :

دسالنګ ترانه

په لمن د هندوکش کې
پیاد کار موږیک غریزي
دماشین ترڼو ږو لاندې
دهیوادانسان خوځیږي
دلته فکر د پښادی
ژوندی شوی په سالنګ کې
ماڼیدلی معجزې دي
د کارګرو په کلنګ کې
غرونه غرونه په هوارشي
کاریه و کړی ګلونه
سیل په سارشي سین په واوري
طبیعت په شي په سلونه
علم او کار سره یوشوی
ماتوي داسختی پرچې
دسالنګ د زړه نه پاسی
دانسان دفکر کرشی. (۲)

(۱) ـ هنرغیرت، سره لاره ، د ا . د . ج . دلیکوالو اتحادیه ، سریزه دسریزې لیکوال :اجمل ختک .

(۲) ـ سلیمان لایق ،چونغر، دافغانستان دعلوموا کاډیمی، ۱۳۶۱ هـ . کال، ۱۱۱ مخ .

د ډرامې محتویات

ډرامه د هنري ادبیاتو له ډلې څخه یو ارزښتناک او په زړه پورې ادبي او هنري ژانر دی چې، په سترګې میتود بنا کارانه تخلیق او تمثیلیږي د هر ګړنو داجتماعي شعور په بدلولو کې ژوره اغیزه ښندي نو ځکه موږ د دغه هنر په یو لړ مربوطو موضوعګانو باندې خبرې کوو او تقریبا په هره برخه کې مدلل، مستند او سیستماتیک معلومات وړاندې کړو.

لومړی- د ډرامې تعریف:

«ډرامه یو داسې ادبي اثر ته ویل کیږي چې، د لوبغاړي د لوبې (تمثیل) لپاره په ډیالوګ کې تیاره شوې وي. د ډرامې جوهر دا دی چې هغه یوه ټاکلې عقیده، چې د لوبغاړي له خوا په لوبولو کې راڅرګندیږي، د یوه کرکټر په توګه تجسم وکړي.» (۱)

ډرامه د خپلو ځانګړتیاوو پر بنسټ، له نورو ادبي او هنري ژانرو نو څخه را جلا کیږي، د نمونې په توګه:

---

(۱) - کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ ه. کال، ۶-۷ ګڼه، مضمون: د تر بوربر پښتو ډرامه کره کتنه لیکوال: م. ابراهیم عطایي، ۳۸ مخ.

د داستان، رومان او ناول په ایجاد کې د قهرمانانو او پرسوناژونو موضوع د ډرامې مطرح نه ده، لکه په ډرامه کې ! په همدې اساس دا هم ویلی شو چې، د دغو ادبي فورمو نوې کره کتنې معیارونه هم یو د بل په پرتله توپیر مومي، ځکه د دغو فکتورونو پر بنسټ چې یوه ډرامه نقد کیږي، کټ مټ پر نسبتو نه د یوه بل هنري اثر لپاره نشي راتلای او ددې کار اساسي او عمده علت هم دادی چې، هر ادبي او هنري ژانر بېل ترکیب او تیوري لري او هم داډول بېل د کره کتنې قوانین او اصول هم فرق کوي، خو په مجموع کې د یوه ادبي نقد ترسرلیک لاندې راځي او مختلفې څانګې يې یو د بل ممد او همکار دي .

کله هم، د ډرامې عمده مشخصه ډیالوګ تشکیلوي، مګر په ننني حالاتو کې، دغه تکی یو بل رنګ هم ځانته اختیار کړی دی او هغه دا چې په اوسني وخت کې، زیاتره لوبغاړي د ډرامې د تمثیل په جریان کې، د خپلو خبرو لړې حرکت او تمثیل ته پرېږدي او هڅه کوي چې حرکات باید خبرې او مفاهیم افاده کړي، لیکن د لزوم په وخت کې د ډیالوګ سلسله هم جاري ساتي او کله ـ کله خاموشي هم اختیاروي، څو خبرې، مفاهیم او حرکتونه په پټه خوله یو بل ته انتقال کړي. د عاشق او معشوقې ترمنځ په عاشقانه فضا کې د سترګو جنګ او په سترګو کې خبرې کول ددې تکي یوه غوره بېلګه ده. د دغه تکي په لاندې پښتو لنډۍ کې ښه تجسم موندلی دی:

ما ته په سترګو کې حال وایه
لاړې کوڅې له غمازانو ډکې دي نه .

مهمه خبره داده چې، د ډرامې دلوبې په وخت، کې حرکات او مفهومونه باید ژوندی اودولس څخه راوتلي وي ، لیکن په صامتو (بې غږه) فلمونو کې د ډیالوګ مسأله په بشپړه توګه درکود حالت غوره کوي .

صامت فلمونه چې نن ورځ يې څه ناڅه په نړۍ کې رواج موندلی دی ، دهرچا لپاره دپوهېدو وړهم ځکه ندي چې ، هغه دیوې ټولنې په ځانګړي چوکاټ کې رامنځ ته کېږي ، نو کهسړی دهغې ټولنې له فکري ذخیرو سره لېراو ډیره اشنايي ونلري ، پرې پوهیدل يې هم اسانه څه چې ګرانه خبره ده .

دویم- دډرامې ډولونه :

په عمده توګه ډرامه لاندې ډولونه لري :

الف- تراژیدي ډرامه :

«د تراژیدي اصطلاح له دووتوکو د تراګوس (Tragos) -ورغومي اوودی (Ode) سندره یعني (دورغومي سندره) جوړه ده .

دغه سندرې دوه ډوله وې :

الف - هغه سندرې چې د (دیونیس) کړاو ونه ، سرګردانی اوتکلیفونه او دهغه مړینه پکې ستایل کیده . دهمدغه ډول سندرو په اساس د تراژیدي اساس کیښودل شو .

ب - هغه سندرې په هغو کې د (دیونیس) بیاژوندي کیدل په مرګ غلبه ، په کړاوو نواو تکلیفونو بری اوفتح پکې ستایل

کیدل. همدغوسند رود را تلو نکی کمیډی پښت کیښود.» (۱)

دکتاب الشعر یا د شعر فن (Poetics) نو می نامتو اثر دپښتو ترجمی پراستناد، ارستو د تراژیډی په باره کی داسی وایی:

«تراژیډی عبارت ده د یوقسم داسی عملی تقلید او نقل نه چی دیر په سنجیدګی سره ترسره شوی وی او بی دغه نقص نه پذات خود کامل او اکمل وی او په خپل ځان کی یو قسم لوړوالی او خاص عظمت لری. په کار دی چی د دی تقلید او نقل دپیانولو لپاره یوه داسی طریقه اختیار کړی شی چی، د (عمل) په هرمحصه کی یو خاص جاذبیت پیداشی او دا هم ضرور ده چی، دادی ددرامی په رنګ کی وی.» (۲)

په اوسنی وخت کی د تراژیډ ی په باب داسی ویل کیږی:

- تراژیډی درامه دډراماتیکوآثارو یوه مشهوره نوع ده. په تراژیډی درامه کی د هنری اثر په قهرمان باندی خبری کیږی چی، د لاعلاجی په حال کی په غیر عادلانه او غیر مساوی شرایطو کی را ګیروی او د غه غیرعادلانه شرایط د تراژیډی هنری اثر قهرمان د تباهی خواته کشوی.

ب- کومیډی درامه:

کومیډی یونانی کلمه ده، چی معنا یی خندور تمثیل او سندره

---

(۱) - سرمحیرونکی دوست شینواری، دادب دتیوری اساسونه دا.ج. دچاپ او خپرونو دولتی کمیټه، ۱۳۶۵ ه. کال، ۲۲۰ مخ.

(۲)- مؤلف: حکیم ارسطاطالیس، مترجم: مولوی محمد اسرائیل کتاب الشعر، پیښو ر، پښتوا کاډیمی، ۱۹۵۸ م. کال، ۲۱ مخ.

ده . په کومیډی ډرامه کی د ژوند په خصوصو باندی ملنډی وهل کیږی چی، هغه د انسانی کرکټر او صفاتو څخه اری وی .

د کومیډی ډرامی د اساسی مسایلو په باره کی ویلی شو چی :

«د کومیډی اساسی مسایله دوه اړخیزه ده: هجوه او ظرافت. هجوه د هر هغی کړنی یو غندونکی انعکاس دی، چی د سیاسی پرمختیا، ټولنیزو او اخلاقی لوړو ایډیالونو سره سمون نه کوی . د هغو شیزونو په باب یوه قاطعانه ملامتیا ده چی د اجتماعی او طبقاتی پوهی د لاری څخه نیسی . ظرافت، له بلی خوا د یوی پدیدی هغه څرګندار خونهرا باسی، چی د پوره تنیتوا یلو یا لونوسره سمون و کړی . ظرافت د نیمګړ تیاوو د لری کولو لپاره د خلکو پام راګرځوی او د ټولنیزو ښیګڼو پرلور د وګړو پرله پسی هلی ځلی، هاند او مبارزه رابولی .»(۱)

دریم- ډرامی شکلونه :

ډرامه مختلف شکلونه لری، چی مشهوری یی دادی:

الف - ستیج ډرامه ب- راډیو ډرامه ج- فلمی ډرامه د- تلویزیونی ډرامه او نوری . د ټولو ډرامو که د خپلو ذاتی ځانګړتیاوو پر بنا یو له بله بیلیږی، خو په دوی کی یو شمیر داسی ټکی هم شته چی هغه بیا په ځینو او یا ټولو ډرامو کی مشترک دی، د مثال په توګه: ډیالوګ د ټولو ډرامو په ترکیب کی دخیل دی او د ډیالوګ د ډرامی د هیرو ګانو او لوبغاړو ترمنځ په مستقیمه توګه

---

(۱) - مفتاح الدین ساپی، ادبی او هنری څیړنی، د قومو نو او قبایلو د چارو وزارت خپرونه، ۶۹ مخ .

صورت نیسی او لیکوال د ډرامې په تخلیق او لیکنه کې د هیرو ګانو ترمنځ رابطه قایموي یعني په ډرامه کې لیکوال د ارتباط کړۍ سره پیوندوي، خو په داستان، رومان او ناول کې لیکوال زیاتره وخت د راوي حیثیت لري. بله خبره دا ده چې په ډرامه کې زیاتره و ختونه پېښې په صحنه یي رنګه کې را منځ ته کیږي، خصوصاً په ستیج ډرامه کې د ماری په تو ګه: د ستیج ډرامې د لوبې په وخت کې د او بوجور جوړ ی او یا یوه طبیعي منظره نه شو ترسیمولای، ځکه محدو د یتونه ډیر دي، مګر په داستان، رومان او ناول کې دا کار ممکن دی.

په یو ر تنیو ټکو سربیره «د ډرامې ځینې بنیادي تو کونه چې هغه په ټولو ډرامو کې مشترک دي او د دغو تو کونو نه پرته د ډرامې اډاینه او جوړښت امکان نه لري» (۱) په لاندې ډول دي:

« ۱ - مسا ء له یا Conflict
۲ - د مسا ء لې تفصیل او ستو نزې یا Plot
۳ - د مسا ء لې اوج یا Climax
۴ - د مسا ء لې هو ار یدل یا Resolusion پدې کې یو پتځم تو ک هم شته، چې هغه ته د اوج ضد یا Anti - Climax وا یي . د اسې ډرامې چې په هغې کې Anti - Climax وي، په اصطلاح کې و رته غبر ګ اوج یا Double Climaxplay وايي.» (۲)

---

(۱) - نثار مظلوم، د ستیج ځخه تر تلویزیون پورې، د انیس نشراتي مؤسسه، ۱۳۵۶ ه. کال، ۳ مخ.

(۲) - و ګ : د ستیج ځخه تر تلویزیون پورې.

څلورم- ډراماتیکو ادبیاتو او ډراماتیک هنر تاریخي پس منظر :

ډراماتیکو ادبیاتو او هنرلو مړی نښې د بشري ټولنې په سهاوون کې ځلیږي - ترهغه وخته پورې چې په نړۍ کې، په ا ګاهانه توګه لادتیاتر دروازه نه وه پرانستل شوي، نوشوقي او بغاړود تمثیل په بڼه له څېنو ډیالو ګونو څخه پېروي کوله او نننۍ غور مسلکي او اماتوري ننداري د همدې ټکي در و ښانستیا لپاره ښه نمونه ده.

پوهمیر پوهاند لمدي نهم وړاندی ځې اوداسي لیکي :

« د ډراماتیکو حرکاتو د پېدا ېښت تاریخ د ژبې د پیدا ېښت نه هم ډېر لرغونی دی - لومړني انسانانو چې لا د ژبې په افاده پوره قادرنه وو، کوم ښکار ښکیل کړ یا به یې خوراکي زېرمې وموندلې نوله ډېري خوشحالي څخه به یې په خاصو حرکاتو اوچتو پیل وکړ، همدغه حرکات دخپل وخت د ډراماتیکو ننداروحیثیت لري. هروخت دغې حرکات اوڅستو نه په اخترونو، جشنونو، میلو او دساعت تیر یو په وختونو کې دانساني کلتوردعنعني په توګه دوام موندلی دی.» (۱)

د پورتني ټکي په تایید ، څېړني نوروهان هم ډراماتیک هنر ریښې د پرګنو په فولکلور کې څېړي اوداسې عقیده څرګندوي :

ډراماتیک هنر لکه د هنرنوري څانګې د یوه ډېر بسیط حالت څخه تکامل

(۱) - کابل ، ۱۳۶۳ هـ. کال ، ۷ ګڼه ، مضمون : ډراماتیک ژانرونه، لیکوال : مرڅېړونکي دوست شینواري ، ۴۳مخ.

را کړېدی او هغه او مني اشکال یې موږ نن د ولسونو په فولکلور کې وینو.
د لومړنیو ټولنو په هغه مهال کې چې په ټولنیز ژوند لامیتا فزیکي زنځیرونه نه وو راتاو شوي، ډراماتیک هنر د خوښیو او تفریح په منظور پالل کیده. کله چې لومړني انسان د طبیعت د قوتونو په مقابل کې ناتوانه شو او پر ذهني نړۍ یې د اوهامو پېرۍ راتاو شول، نو د خپل ذهني ایجاد له لارې چې یې دا ربابالانواعو په وړاندې د لومړي ځل لپاره کومه هدیه کړل هغه ډراماتیک هنروه» (۱)

کله چې د تولیدي ځواکونو د پرمختګ او د اضافي ملکیت د منځ ته راتګ په نتیجه کې، ټولنیز او اقتصادي سیستم طبقاتي بنسټ وموند، نو ورسره سم د ډراماتیکو ادبیاتو او ډراماتیک هنر په باب هم طبقاتي تحلیل او دریځ را منځ ته شو.

د مریتوب په دوران کې بادارې اشرافیانو د خپلو ځانونو د ساعت تیرۍ لپاره مسخره چیان را غونډول او په بېلا - بېلو ډولونو یې په هغوی لوبې اجراکولې، چې په نمونه یې د روم په ستر ستدیوم کې یو د بل او یاد حیوانا تو سره د ګلاډیاتورانو مخامخ کول وو او هم دا کسان د هغوی په نظر تر ټولو ټیټ افراد دي، د مثال په ډول: (ارسطو) د کومیډۍ ډراما د لوبغاړو په باره کې خپله عقیده داسې بیانوي:

«کومیډي په زړه پوري یو نمایشي اثر دی چې، لوبغاړي یې

---

(۱) - کابل، ۱۳۶۲ هـ. کال، ۳-۴ ګڼه، مضمون: د ډراماتیک هنر فولکلوري بڼه، لیکوال: ابراهیم عطایي، ۹۴ مخ.

په اجتماعی لحاظ ټیټ وی، لیکن موږ ګورو چی، د کومیډۍ اکترانو رول د خلکو د پرګنو په وړاندی څومره ستر دی، ځکه په ډراماتیکو ادبیاتو او ډراماتیک هنر کی یوازی د خندا مفهوم نه دی نغښتی بلکی په هره ټوکه او مسخره کی ژوره اجتماعی او انتقادی معنا پرته ده.

هغه ډراماتور چی د ولس له غیږی څخه راپورته شوی وی او د هغوی په خدمت کی وی، د ډولو نو په یو ډول هڅه کوی څو په خندوونکی صحنه کی د خپلو خلکو شعور بدل کړی او هغوی خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه کړی، دا ډیر ژور انسانی تفکر غواړی او عادی انسانان د دی کار له اجرا څخه عاجز دی. لایق ممثل د ډرامی د تمثیل په وخت کی خپل ځان مقناطیس ګرځوی او په ننداره کوونکو کی ولولی او غور ځنګ پیدا کوی. د دی ټکی یو علت هم دادی چی، اکتر (ممثل) باید موسیالوژی او سایکالوجی سره اشنا یی ولری او په کومه اندازه چی لوبغاړی په دی برخه کی ډیر پوه وی، په هماغه پیمانه له اغیزه ښندی. د ډراما لیکوالانو، د پیلابیلو انواعو په باره کی، د لرغونی یونان او روم د نامتو تیوریسنانو نظریات د دی خبری شاهدی ورکوی، چی ډرامی د خپل تکاملی بهیر په پیلا پیلو شیبو کی خپل ارتقایی حالتونه تیر کړی دی او بشر هم له ډیر پخوا څخه د ډرامی له ستر کچر او ساختمان سره بلد و، یدی ارتباط سرخیړونکی م. صدیق روهی لیکی:

«له میلاد نه پنځه پیړی مخکی د یونان ډرامه د شهرت لوړی څوکی ته ورسیده.

په دی عصر کی دوه ستر ډرامه لیکونکی تیر شویدی چی یوازی د انګلستان (شکسپیر) او د فرانسی (راسین) له هغو سره سیالی

کولی شي. د لرغوني یونان د ډرا ژبړدی ستر لیکوال ایسکلیس (۴۵۶ - ۵۲۵ ق. م.)، سوفوکلیز (۴۰۶-۴۹۶ ق. م.) او یوریپیډیس (۴۰۶-۴۸۰ ق. م. دی.»(۱) او «ارسطوفان هغه کومیډي لیکونکی و، چې وروسته د یوناني کومیډۍ د پلار په نامه یاد شو. د ارسطوفان د کار کمال په دې کې و چې هغه په خپلو کومیډیو کې د خپل وخت د سیاسي مقاصدو لپاره استفاده کوله.»(۲) په دې دوران کې د تیاتر او صحنې لپاره مسلکي هنرمندان رامنځ ته شول. که څه هم په غیر مسلکي او اماتوري ننداره کې شوقي لوبغاړو برخه اخیستله خود ډرامې په تمثیل کې د مسلکي هنرمندانو رول د ډرامې سوېه لوړه کړه.

نن ورځ هم داویلی شوچې، که په هر اندازه د تیاتر لوبغاړي د تیاتر په تیوریو سمبال وي، په هغه پیمانه د ډرامې په اکاډیمیك تمثیل کې اغیزناك او موثر پرېښي. که چېرې ننداره په معنوي توګه جریان پیدا کړي او هیڅ ډول نوښت پکې رامنځ ته نشي او یا پېښې لېږ تر ستر ګوشي نو بیا هغه له یوازې ننداره کوو نکو ته وېښوونکي تکان نشي ور کولی او د هغوی د زړه او ذهن پردې نشي رپولی، بلکې د برخلاه هغوی خورولی هم شي.

د ډراماتیکوادبیاتو او هنرودغه په تولو حالاتو کې په یوشان پاتې نه شوه بلکې د مرپوتوب د دوران له زوال سره سم د منځنیو پېړیو په تاریك عصر کې د کلیسایي روحانیونو له خوا غاړ بوجنه شوه

(۱) سخیز ندوی م. صدیق روهي، ادبي څېړنې، د بایزید روښان (ننګرهار پوهنتون) ۱۳۶۰ ه. کال، ۲۹۷ مخ.

(۲) - کابل، ۱۳۶۲ ه. کال، ۶-۷ ګڼه، مضمون: د ترور پر پښتو ډرامه کره کتنه، لیکوال: م. ابراهیم عطایی، ۵۰ مخ.

او په سپکه سترګه ورته وکتل شول مګر د رنسانس په زمانه کې د
لرغونی هنر او ادبیاتو د بیا ژوندي کېدو په لړ کې ، د ډرامې په هکله
هم جدي او تاوده بحثونه وشول او په دې برخه کې زیات زیار ونــه
وګالل شو ل .

له دې نه وروسته د شپاړ سمې میلادي پېړۍ په اواخرو او د اولسمې
میلادي پېړۍ په لومړ یوو ختونو کې د انګلستان پیاوړي لیکوال او
شاعر (ویلیام شکسپیر) په ادبي نړۍ کې د یوه ماهر ډراما تیست په څېر وځلېد
او د تراژیډۍ ډرامې په برخه کې خپلې کارنامې د بشري ټولنې په
واك کې ور کړې .

د ده مشهورې تراژیډۍ دا دي :

- د ریم ریچارد او دویم ریچارد .
- رومیو او ژولیت .
- اوتیلو.
- لیرپاچا او .. .

همدارنګه ، په فرانسه کې (مولیر) او نورو د کومیکو ډرامو په
برخه کې خپلې عملي تجربې ونه سپمولې . د مولیر نامتو کومیــډي
ډرامې دا دي :

- اجباري طبیب.
- خسیس او نورې.

م. ابراهیم عطایي لیکي چې :

«په نولسمه پېړۍ کې د هنر یك ایپسن په وسیله مشهوره ډرامه

رواج شوه او هغه «دنا نځکو کور» په نامه ډرامه ولیکله ... »(۱)
دډرامې مضمون اوشکل هم دوخت په تیریدو سره په ثابت حالت پاتې
نه شو، بلکې ورځ پهورځ یې بدلون وموند .

دمثال په توګه :

«دما کسیم ګورکي دډیمنا نو په ډرامه کې... هسوسیالیزم
تصویر ننداره کوو .» (۲)

او په همدې ډول دشوروي ازبکستان شاعراوډراماتیست کامل یاشین
«د قطبي ستوري په ډرامه کې دمترلینین تصویر را ژوندی کړ» (۳)

زموږ پوهګران هیواد افغانستان کې هم، دډرامې هنر لرغونی
تاریخ لري . وايي چې: «په سانسکریت ادبیاتو کې محقق هندي پوه
مولوي محمدعزیز میرزاچې دکالیداس معروفه ډرامه (و کرم اروشي)
یې له سانسکریت څخه ترجمه کړې، پرهغې یې یوه مفصله مقدمه لیکلې

(۱) - کابل ، ۱۳٦۲ ه. کال، ٦-۷ ګڼه ، مضمون: دتربور پرپښتو ډرامه
کره کتنه، لیکوال: م. ابراهیم عطایي، ۵۱ مخ .

(۲) - کابل ، لومړۍ ګڼه، ۱۳٦۲ کال، مضمون : ډراماتیك هنر
دفولکلور او سیاست په هینداره کې، لیکول. م ابراهیم عطایي، ۳۰ مخ.

(۳)- ژوندون، د ا. د . ج. د لیکوالو دا تحا دیې نشراتي ارګان
۱۳٦۳ ه کال، څلورمه ګڼه، مضمون: کامل یاشین دشوروي ازبکستان
پوتو میالي شاعر او ډراماتیست ، لیکوال: سرخیږ ونکی م . صدیق
روهي ، ۳۲ مخ.

ده. نوموړي د ډراماتيکو ليکوالو، د ډرام او هنر د پاختيا پر لارښوونه را نقل شوي دي. » (١)

د ډراماتيکو ليکوالو، زموږ د خواږه وطن په بېلا بېلو ځايونو کې په مختلفو بڼو تکامل را کړي دي، چې د هغوي علمي تشريح ځانته مفصل بحث غواړي او په خاصه توګه، په پښتو ادبياتو کې لاندې مشهورې ډرامې د هغه ژانرد پېشرفت غوره بېلګې دي:

جونګړه، خدايي خدمتګار، دري پټيځان، زوړ ګناهګار، تر تور خو ږ ژوندون، نيمګړي خوب، د مزدور د نيا، عبرت، شهيده سکينه همت، درد، نوي روښني، دو پښو جام او ...

---

(١) - کابل، ١٣٦٢ هـ. کال، لومړۍ ګڼه، ٣٥ مخ.

دلنډې کيسې ځانګړنې

لنډه کيسه دنثري ادبياتو يوه په زړه پورې څانګه ده .
دغه کيسه چې په پښتو نخوا کې «افسانه» هم بولي، دهغې په پراخه معنالر څونې تاريخ لري. ويلې شوچې، لنډه کيسه د بشرې ټولنې له پيداوون سره همزولې ده او په اصل کې د فولکلور يکو ادبياتو يو نه بيليدونکې څانګه ده. بشر له همدې کيسو سره يوځاى اوسيدلى او له هغوى سره يې يوځاى ژوند کړيدى.

«ويل کيږي چې له اوس نه شپږ زره کاله مخکې په لرغونې مصر کې (دجادوګرانو کيسې) چې اوسيو لنډو کيسو ته ورته وې، خوله په خوله ګرځيدې. د مصر فرعون (خوفو) چې له ميلاد نه (۳۹۰۰) کاله مخکې يې ژوندکاوه، له کيسو سره يې زياته مينه درلـوده او له همدې امله، دده زامنو دخپل پلار دمشغولا او خوشحالولولپاره ډيرې کيسې زده کولې.

همدارنګه له هندوانو، عبرانيانو، يونانيانو او عربو څخه ډيرې مشهورې لنډې کيسې راپاتې شوي دي. په (۱۲۵۰) ميلادي کال کې انګريزانو په يوه مجموعه کې دوه سوه مشهورې لنډې کيسې راټولې کړې. (بوکاسيو) په يوه مجموعه (ديناميرون)

کې مسلسلې لنډې کیسې راغونډې کړې، خو دغه ډول کیسې چې په ایتا-
لوي کې لا ویله ورته ویل کېږي، له اوسنیو لنډو کیسو څخه توپیر
لري.

د (برانډر ماتیوز) په عقیده:

«لنډه کیسه» هرهغې کیسې ته ویل کېږي چې لنډه وي یعني
کېدای شي چې یوه کیسه دې لنډه وي ، خو «لنډه کیسه» دې نه وي.
په دې اساس د لرغوني مصر، هند او یونان لنډې کیسې باید جلا ژانرو
بولو او له هغه اصله موږ دغه ډول کیسو لپاره یوازې په پراخه
معنا لنډه کیسه وویله.»(۱)

په راوروسته کې لنډې کیسې د مضمون او شکل له پلوه بدلون
وموند. ویلی شو چې، لنډه کیسه د هغې په اوسني مفهوم سره د ۱۹م. پېړۍ
زېږنده ده.

په دې باره کې غوث خېبري لیکي چې :

«لنډه کیسه په اوسنۍ بڼه، په اروپايي ادب کې، د نولسمې پېړۍ څخه
پیل کېږي او د رومبي ځل لپاره (آلن پو) په ۱۸۴۲م. کال کې په دې
برخه کې ځینې خاص انتقادي او فني اصول خلکو ته وړاندې کړل او په دې
ډول د لنډو او اوږدو کیسو د لیکنو د شکلونو ترمنځ یې توپیر مشخص
کړ. لیکن (د لنډ داستان فلسفه) لیکوونکي (برانډر ماتیوز) په
۱۸۸۵ م. کال کې د رومبي ځل لپاره د لنډې کیسې یعني د انګریزي

(۱) سرڅېړونکی م. صدیق روهي، د پښتو معاصر ادبیات، کابل
پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۶۳هـ. کال، ۱۵ مخ.

ژبې د (Shortstory) اصطلاح منځ ته راوړه او پدې ډول یې لنډه کیسه د هغې کیسې څخه بېل کړه چې لنډه شوې وي .

له هغه څخه وروسته ، ایرلنډی لیکوال (فرانك او کونر) پخپل مشهور کتاب (یوازې غږ) کې چې په حقیقت کې د لنډې کیسې په برخه کې یوه ژوره کتنه او مطالعه ده، د لنډې کیسې لپاره ځینې اصول او بنسټونه ور اندې کړل ... » (۱)

د وخت په تیریدو سره د لیکوالو او لوستونکو پاملرنه ، د لنډې کیسې لورته زیاته شوه او شاید د دغه ټکي اساسي علتونه دا وي چې:

د لنډې کیسې لوستل لږ وخت نیسي او د لوستونکي حوصله د هغې د ویلو په وخت کې نه تنګیږي او بله داچې ، لوستونکی ژر هدف ته رسوي او له هغه څخه د موضوع تسلسل نه شلیږي . له دې سره جوخت د لنډو کیسو په فورم کې د ژوند یو پښو افادې د لوستونکو د زړه او ذهن پردې لا په رپا کړې .

«... د لنډې کیسې مضمون هغه وخت خپله بڼه بدله کړه کله چې د تولستوی، ایوان تورګنیف ،چخوف او ګورکي غوندې کیسه لیکونکو د کیسو نوې نمونې رامنځ ته کړې . دوی پخپلو کیسو کې د زهیر او دردیدلي انسان د ژوندانه هغه واقعیتونه راوسپړل کوم چې داروپا د نورو کیسه لیکونکو له نظره پټ او پاتې یې چندان ارزښت نه ورکاوه .

(۱)- امین افغانپور، موسکا ، د (موسکا) لنډو کیسو ته یوه لنډه کتنه، د ا . د . ج. د لیکوالو اتحادیه ، ۱۳۶۲ ه . کال ، الف ـ ب مخونه .

داروپا دزیاتو هیوادونو لکه جرمنی، فرانسی، انګلستان ایټالیې، سویډن، ډنمارک، ناروی او نورو کې هلیکونکو پخپلو کیسو کې دژوند بیهودګی او پوچې صورت پرمتې او نور ما لوزم زیات تصویر کاوه او ډیرنېو واقع ګرا او ریالیستو...» (۱)

په او سني وخت کې ویلی شوچې، لنډه کیسه یو اصلی شخصیت قهرمان او هیرو لری. لیکوال ددغه اتل په وجود کې یوه ر ښتینې پېښه تر سیموی. پدې کې شک نشته چې، په یوه لنډه کیسه کې داصلي شخصیت تر څنګ نور فرعي عناصر یا فرعي شخصیتونه هم راتلي شي. هغوی دلنډې کیسې د اصلی هیرو دبری او یا ناکامی لپاره تلاش کوی. د غه فرعي عناصر په کیسه کې شامل دی، خود کیسی داصلی شخصیت ځای نشي نیولی او کیدای شي چې، دا فرعي شخصیتونه په لنډه کیسه کې د رول له مخې په لومړی او دوهم ان در یمه درجه فرعي اتلانو وویشو.

پدې ارتباط (جمال میر صادقی) لیکی چې:

«موږ ویلی شوچې، دکیسی اصلی شخصیت یوازې پخپله وسیله نه، بلکې دداستان دبل شخصیت په واسطه هم وپیژنو» (۲)

---

(۱) ـ غوث خیبری، د ګوګا منډه لیوان، د ا. د. ج. د لیکوالو اتحادیه، ۱۳٦۲ ه. کال، ٦-۷مخونه.

(۲) ـ جمال میر صادقی قصه، داستان کوتاه، رمان، چاپ مطبعه دولتی کابل، ۱۳٦۵ ه. ص: ۱۰۳

بله دا چې، لنډه کیسه د فن او تخنیک په لحاظ د شعر نور معیارونه هم لري او هغه دا چې، د لنډې کیسې ژبه ساده او ناصیقل شوې ژبه نده، بلکې په بشپړه توګه هنري ژبه ده او د ژورنالیستیکي لیکنو او علمي څېړنو له ژبو څخه هم کاملاً جوت توپیر لري.

کله ـ کله په لنډه کیسه کې، د کیسې د اصلي او فرعي شخصیتونو ترمنځ ډیالوګ هم راځي، خو په دې ځای کې ډیالوګ داستاني بڼه غوره کوي او لیکوال زیاتره د راوي حیثیت لري.

په لنډه کیسه کې د داستان اصلي شخصیت د یوې پېښې د بېلا ـ بېلو حالتونو او پېچومو د ترسیم په صورت کې مختلف حالتونه غوره کوي. په داستان کې د لوستونکي تر ستر ګو د پېښو څپې او موجونه لیدل کېږي، خو د کیسې د اوج برجسته ټکي له اورو څخه زیات د لوستونکي پاملرنه جلبوي او په ډېره ناارامۍ د هغه لور ته تلاش کوي او ګوري چې، وروسته څه کېږي.

اوس به په مشخص ډول، د یوې لنډې کیسې یو شمېر مهمې ځانګړنې وښیوو:

«لومړی دا چې لنډه کیسه یوه طرح (Plot) لري. د هرې کیسې په باره کې لومړۍ پوښتنه چې کېږي دا ده: «دا کیسه د څه شي په باره کې ده؟» په فني اصطلاح همدغه پوښتنه داسې بڼه پیدا کوي: «د دې کیسې طرح راته ووایه؟» نو طرح په حقیقت کې د پېښو او عملونو د تسلسل څرنګوالي ته ویل کېږي ...

دویم دا چې، لنډه کیسه یو اصلي کرکټر لري ...

دریم داچې، لنډه کیسه یوه تاکلې پېښه په دراماتیك ډول بیانوي چې اصولا دغه پېښه د کیسې زړه ګڼل کېږي یعنې په لنډه کیسه کې یوې اصلي پېښې ته زیاته پاملرنه کېږي. کهلیکوال په لنډه کیسه کې پوشمېرداسې پېښې راوړي چې پوشا نته اهمیت او جذابیت ولري، دلوستونکي یااوریدونکي ذهن په مغشوش کړي.

څلورم داچې، لنډه کیسه یوه مرکزي مفکوره لري چې ټولې پېښې اود کرکټرعملونه دهمدغې مفکورې دراپرسېره کولو لپاره په کاراچول کېږي.

پنځم داچې، په لنډه کیسه کې داوج یابحران ټکي وي.

شپږم داچې، لنډه کیسه یوه واحده اغیزه (تاثیریاانطباع (Tmpression) تولیدوي.» (۱)

د پورتنیو ټکو په نظرکې نیولو سره ویلای شوچې:

لنډه کیسه لنډ اثردی، چې په هغې کې لیکوال د یوې مشخصې طرحې په مرسته اصلي شخصیت په یوه رښتېنې پېښه کې څرګندوي اودغه اثر په مجموعي توګه واحده اغیزه ښندي.» (۲)

پهپښتوادب کې پدغه تعریف چې دلته مو راوړی خبري و شو ی لنډه کیسه د شلمې پېړۍ په لومړي لسیزه کې را پیداشو په ده، چې

---

(۱)-سرڅېړونکی م. صدیق روهي، د پښتو معاصرادبیات، کابل پوهنتون، د ژبواوادبیاتوپوهنځی، ۱۳۶۳هـ کال، ۱۷-۱۸ مخونه.

(۲)- ابراهیم یونسي، هنرداستان نویسي، ایران، تهران، چاپ اول، سال ۱۳۴۱، ص: ۶-۷.

لومړی لیکوونکی یې راحت زاخیلی دی، چې لومړی کیسه یې د (شلېدلی پڼه) او دویمه یې د (کونډه نجلۍ) په نامه وی.» (۱)

د راحت زاخیلي (شلېدلی پڼه) د تقویم الحق کاکاخیل په وینا په ۱۹۰۸م. کال کې لیکل شوېده او پدې اساس دی نه یوازې په پښتونخوا، بلکې په ټول سیمه کې هم دلنډې کیسې د لیکوالو په لومړي کتار کې درېږي». (۲)

(۱)-سرچېرونکی دوست شینواری، د ادب د تیوري اساسونه دا. ج. د چاپ او خپرونو دولتي کمیټه، ۱۳٦۵ ه. کال، ۱۷۷ مخ.

(۲)-د راحت یاد، کابل پوهنتون، مضمون: د راحت زاخیلی لنډې کیسې، لیکوال: سرچېر ونکی م. صدیق روهي ۱۳٦۳ ه. کال، ۳۰ مخ.

مأخذونه

ما په د غه کتاب کې په خپلو معلوماتو سر بېره له لاندېنيو منابعونه هم استفاده کړې ده :

(۱) ـ «د ابوالمعاني بېدل او ميرزا حنان بارکزي د ادب د دريا ب دغوړې يوه کتنه» . ژوا ک. کابل ، د افغانستان د علومو اکاډمي ۱۳۶۴ هـ.ش. کال، ۴ ـ ۵ گڼه .

(۲) ـ آثار گزيده نويسندگان روس شوروی . ترجمه يحيايی . مسکو : مؤسسه نشراتی رادوگاه، ۱۹۸۳م .

(۳) ـ ادبيات از نظر گورکی . ترجمه ابوتراب باقر زاده . ايران : تهران ، ۱۳۴۵ هـ.ش .

(۴) ـ ارسطو. کتاب الشعر. دمولوی محمد اسرائيل ژباړه . پېښور : پښتو اکاډمي .

(۵) ـ اساسات روانشناسی اجتماعی. ترجمه يحيايی . کابل: مطبعه حزبی ، ۱۳۶۲ هـ.ش.

(۶) ـ افاناسيف. نوی فلسفه. د سورگل ژباړه . پښتونخوا: ۱۳۴۷هـ.ش. کال .

(۷) ـ افاناسیف . دعلمی کمونیزم پښتونه. مسکو : دپروگرس نشراتی مؤسسه ،۱۹۸۲ م . کال.
(۸) ـ افاناسیف . اصول فلسفه مارکسیزم . ایران : تهران ۱۳۵۱ هـ.ش .
(۹) ـ افاناسیف. دعلمی کمونیزم مقدماتی کورس. مسکو : دپروگرس نشراتی مؤسسه ،۱۹۸۴ م. کال .
(۱۰) ـ افاناسیف ، سوسیالیزم علمی . ترجمه س.ی. کابل : مؤسسه نشراتی ح.د.خ.ا. ۱۳۶۱ هـ.ش .
(۱۱) ـ افغانپور، امین. موسکا . کابل : د لیکوالو اتحادیه ۱۳۶۲ هـ.ش . کال .
(۱۲) ـ ا.ظ. هنراوښکلا پیژندنه. کابل : پښتو ټولنه، ۱۳۵۴ هـ.ش . کال .
(۱۳) ـ اکیزین . اساسات ایستیتیک علمی . ترجمه احمد شاه یاسینی . پوهنتون کابل، ۱۳۶۰ هـ.ش .
(۱۴) ـ الفبای مبارزه. ایران : تهران ،ازنشرات حزب توده ۱۳۵۶ هـ.ش .
(۱۵) ـ ای . خلیاپیچ . د فلسفی لنډ تاریخ ته یوه کتنه . دامین الله محک ژباړه. مسکو : دپروگرس نشراتی مؤسسه ، ۱۹۸۴ م. کال .
(۱۶) ـ ا. یا . د فلسفی مفهوم اوویش . کابل : د افغانستان دعلومو اکاډمی، ۱۳۶۰ هـ.ش . کال .
(۱۷) ـ براهنی ،رضا . طلا در مس . ایران : تهران ، ۱۳۴۷ هـ.ش .

(۱۸) ـ «په پښتو کې د نوي شعر را پیدا کیدل او دهغه اساسي مضمون» . سلیمان لایق . د افغان یاد . کابل پوهنتون ، ۱۳۶۰ ه.ش . کال .

(۱۹) ـ «په پښتو اوسنی شعر کی د اجتماعي ریالیزم پیدا ښت او پرمختګ» . دوست شینواری. ژوندون ، دلیکوالو اتحادیه، ۱۳۶۳ ه.ش. کال، لومړی ګڼه .

(۲۰) ـ پلیماکک ـ و ا لودین . تولنه څنګه سخ په وړاندی دروسي ؟ د عبدالخالق ژباړه . مسکو : د پروګرس نشراتی مؤسسه ۱۹۸۲ م. کال .

(۲۱) ـ پنجشیری ، دستګیر . پیک دوستی . کابل : اتحادیه نویسندګان، ۱۳۶۳ ه.ش .

(۲۲) ـ «د پښتو نننۍ ادب». هربښ. دافغان یاد. کابل پوهنتون ۱۳۶۰ ه.ش. کال .

(۲۳) ـ تاریخ مختصر جهان، جلد سوم. کابل: کمیته دولتی طبع ونشر، ۱۳۶۳ ه.ش .

(۲۴) ـ تاریخ حزب کمونیست اتحاد شوروی، جلد ۲. ایران أ تهران، ازنشرات حزب توده، ۱۳۵۷ ه.ش .

(۲۵) ـ «د تربور پرپښتو درامه کره کتنه». محمدابراهیم عطایي. کابل، د افغانستان دعلومو اکادمي ، ۱۳۶۲ ه.ش. کال ، ۶ ـ ۷ ګڼه .

(۲۶) ـ تږی ، حبیب الله . دادبی تاریخ تیوری . د کابل پوهنتون کتابتون (قلمی اثر) .

(۲۷) - « د ثور انقلاب او په افغانی ادبیاتو کې د موکراتیک عنعنات » . گیرمن. د زمری محقق ژباړه . کابل دافغانستان دعلومو اکاډمی، ۱۳۶۲ه.ش . کال، ۶ - ۷ گڼه .

(۲۸) -ح .ا. دیدار رهاسپیده (نوشته‌هاو ترجمه‌ها). کابل: کمیته دولتی طبع ونشر، ۱۳۶۱ ه . ش .

(۲۹) - «دخلکو سره پیوند د نننی ښکلا پوهنی الفبی ده». دیوری پارا باشلیکنه .دش. حصین ژباړه . ژوندون ، دلیکوالو اتحادیه،۱۳۶۳ ه . ش . کال ،دویمه گڼه .

(۳۰)- خیبری ، غوث . د گوگامنډه لیوان . کابل :دلیکوالو اتحادیه، ۱۳۶۲ هش. کال.

(۳۱) -«درباره برخی مسایل ایستیتیک وهنر» . احسان طبری. مضامین تیوریک وآموزشی (مجموعه مقالات). کابل : مؤسسه طبع کتب بیهقی .

(۳۲) -« دراماتیک ژانرونه » .دوست شینواری . کابل دافغانستان دعلومو اکاډمی، ۱۳۶۳ ه . ش . کال ، ۷ گڼه .

(۳۳) -« دراماتیک هنر دفولکلور او سیاست په هینداره کې ».محمدابراهیم عطایی. کابل ،دافغانستان د علومو اکاډمی ۱۳۶۲ ه . ش . کال ،لومړی گڼه.

(۳۴) -«دراماتیک هنر فولکلوری بڼه » . محمد ابراهیم عطایی . کابل ،دافغانستان دعلومو اکاډمی ، ۱۳۶۲ ه .ش. کال ۳ -۴ گڼه .

(۳۵) -« دراحت زاخیلی لنډی کیسی » .محمد صدیق روهی. دراحت یاد . کابل پوهنتون، ۱۳۶۳ ه.ش. کال .

(۳٦) -رسا ، سید رسول . ادبی تنقید . پیښور :خیبر بازار .
(۳۷) - رستم زاده صالح ، طلعت . تیوری ادبیات . ترجمه محمد عالم لبیب . پوهنتون کابل ،پوهنځی زبان وادبیات،۱۳٦۳ ه . ش .

(۳۸)-روهی ، محمد صدیق . د پښتو معاصر ادبیات . کابل پوهنتون ،د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ،۱۳٦۳ ه . ش . کال .
(۳۹) - روهی ، محمد صدیق . ادبی څېړنې .د بایزیدروښان (ننگرهار) پوهنتون ، ۱۳٦۰ ه . ش . کال .
(۴۰) - روهی ،محمد صدیق . د څېړنې لار ښود . کابل :پښتو ټولنه ، ۱۳۵۴ ه . ش . کال .
(۴۱) -« دزمانی انځور -د نړی پر مشهورو دستانونو کره کتنه » ،محمد د ابراهیم عطایی . زیری ، دافغانستان دعلومو اکادمی ،۱۳٦۱ ه . ش . کال ، ۵ گڼه ، لومړی مخ .
(۴۲) - ژبپایی شناسی نوین . کابل : کمیته دولتی طبع ونشر ، ۱۳٦۳ ه . ش .
. (۴۳) - ژو کوف . میتود ولوژی تاریخ . مترجم نو میالی . کابل : اکادمی علوم افغانستان ، ۱۳٦۳ ه . ش .
(۴۴)- سایل، رحمت شاه. د لمبو په سوری. ملکنډ ایجنسی:دمردان ولسی ادبی ټولنه ،۱۹۸۵ م . کال .
(۴۵)-ساپی، مفتاح الدین ادبی او هنری څېړنې. کابل:د قومو نو او قبایلو دچا روو زارت ، ۱۳٦۳ ه . ش. کال .
(۴٦) -سوالونه اوځوابونه . درازمحمد پکتین ژباړه. شوروی اتحاد : مسکو ، ۱۹۷۸ م . کال .

(۴۷) ـ سیسکوف ، رسلان . شپیته کلنـه نه شلید و نـکی دوستی . مسکو: د نووستی دمطبوعاتی آژانس نشراتی مؤسسه ، ۱۹۷۹ م . کال .

(۴۸) ـ شینواری، دوست. داد بد تیوری اساسونه . کابل: دچاپ او خپرونو دولتی کمیټه ، ۱۳۶۵ هـ . ش . کال .

(۴۹) ـ دشوروی اوروزنی فلسفه . درنا گل رنا ژباړه. کابل پوهنتون ، دشوروی اوروزنی پوهنځی ، ۱۳۶۱ هـ . ش . کال .

(۵۰) ـ صادقی ، جمال میر . قصه ، داستان کوتاه ورمان . کابل : مطبعه دولتی ، ۱۳۶۵ هـ . ش .

(۵۱) ـ طبری ، احسان . مسائلی از فرهنگ وهنرو زبان . ایران : تهران ، ۱۳۵۹ هـ . ش .

(۵۲) ـ فیروز ، مریم . مارکس ، انگلس و لنین در زندگی خصوصی . ایران : تهران ، از نشرات حزب توده ، ۱۳۵۸ هـ ش .

(۵۳) ـ « کامل یاشین دشوروی از بکستان یونو میالی شاعر او دراماتیست » . محمد صدیق روهی . ژوندون ، دلیکوالو اتحادیـه ، ۱۳۶۴ هـ.ش . کال ، څلورمه گڼه .

(۵۴) ـ گران ، فضل الهی . دهیلو گود رونـه . کابل: د- لیکوالو اتحادیـه ، ۱۳۶۵ هـ . ش . کال .

(۵۵) ـ گ . ف . گیرس . د مهرنی اولس ادبیات . د معتمد شینواری ژباړه . کابل : دقومونو او قبایلو دچارو وزارت، ۱۳۶۴ هـ . ش . کال .

(۵۶) ـ گلیزبرمان . دتولنیز پرمختګ قوانین: دهغو څرنګوالی او پکارول . مسکو : دپرو گرس نشراتی مؤسسه ، ۱۹۸۳ م . کال.

(۵۷) ـ « د دري پښتو نخواد ادبياتو د بدلون په لاره کې مهمه مرحله » . ګیرس . د معتمد شینواري ژباړه . کابل : دافغانستان دعلومو اکاډمي ، ۱۳۶۲ هـ .ش . کال ، اتمه ګڼه .

(۵۸) ـ لایـق ، سلیمان . چونغر . کابل: دافغانستان دعلومو اکاډمي ، ۱۳۶۱ هـ. ش . کال .

(۵۹) ـ لایـق ، سلیمان . یادونه اودر منډونـه . کابل: د اطلاعاتو او کلتور وزارت ، ۱۳۵۷ هـ .ش . کال .

(۶۰) ـ لینین . شوروي واک څه شي دی ؟ مسکو: د پروګرس نشراتي مؤسسه ، ۱۹۷۹ م. کال .

(۶۱) ـ لنین . اپورتونیسم وورشکست انترناسیو نال دوم مسکو: بنګاه نشریات پروګرس .

(۶۲) ـ لنین . سازمان حزبي و ادبیات حزبي . مسکو: اداره نشراتي پروګرس ، ۱۹۸۳ م .

(۶۳) ـ لنین . انترناسیونال سوم و مقام آن در تاریخ . مسکو : بنګاه نشرات پروګرس .

(۶۴) ـ لنین . ادبي مسایل . مسکو : ۱۹۷۴ م .

(۶۵) ـ لنین . پیرامون تاریخچه مسئله دیکتاتوري . مسکو اداره نشراتي پروګرس ، ۱۹۸۴ م .

(۶۶) ـ لوناچارسکي . درباره ادبیات . مترجم ع .ن . کابل: اتحادیه نویسنده ګان، ۱۳۶۳ هـ . ش .

(۶۷) ـ «د مترقي ادبي تیوري په باب معاصرو هڅوته یوه کتنه» . د جریمي هاتورن لیکنه . د سلیمانخیل ژباړه . کابل ، دافغانستان دعلومو اکاډمي ، ۱۳۶۱ هـ . ش . کال ۸-۹ ګڼه .

(۶۸) - ملاتړ، ذکریا. (د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی په پښتو څانگه کې تدریسی یادښتونه).

(۶۹) - مارکس وانگلس. مانیفست حزب کمونیست. مسکو: اداره نشراتی پروگرس، ۱۹۸۰ م.

(۷۰)-«ماتریالیزم». محمدانورنومیالی. آریانا، د افغانستان دعلومو اکاډمی، ۱۳۶۳ هـ. ش. کال، ۲ گڼه.

(۷۱)-«دماکسیم گورکی له ځیر و څخه». د ثور انقلاب حقیقت. کابل: ۱۳۶۲ هـ.ش. کال، دعقرب ۴ نیټه، ۳۴ گڼه.

(۷۲)-«مضمون او شکل». محمدصدیق روهی. کابل، د افغانستان دعلومو اکاډمی، ۱۳۵۸ هـ. ش. کال، ۴ گڼه.

(۷۳) -مظلوم، نثار. د سټیج څخه تر تلویزیون پوری. کابل: دانیس نشراتی مؤسسه، ۱۳۵۶ هـ.ش. کال.

(۷۴)-ملا انور. د مارکس ژوند. کابل: د بیهقی د کتاب خپرولو مؤسسه، ۱۳۵۹ هـ.ش. کال.

(۷۵)-«میتودولوژی آموزش و بررسی ادبیات». طلعت، رستم زاده مترجم محمد عالم لبیب. عرفان، ارگان نشراتی وزارت تعلیم و تربیه ج. ا. ۱۳۶۴ هـ.ش. شماره نهم ودهم.

(۷۶) -میترا. ریالیزم وضدریالیزم در ادبیات. کابل: کمیته دولتی طبع ونشر ج. ا.

(۷۷) -محمود، عبدالاحمد. هنر و روانشناسی (مونوگراف). پوهنتون کابل، ۱۳۵۲ هـ.ش.

(۷۸)-د ناول، رومان او افسانې تر منځ پرتوپیر یوه مقاله یسوی

هېرنه». محمد ابراهیم عطایي. کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي ۱۳۶۳ هـ.ش. کال، لسمه ګڼه.

(۷۹)- نیک آئین، امیر. ماتریالیزم تاریخي. ایران: از نشرات حزب توده، ۱۳۵۸ هـ.ش.

(۸۰)- نیک آئین، امیر. ماتریالیزم دیالکتیک. ایران: از نشرات حزب توده، ۱۳۵۸ هـ.ش.

(۸۱)- «نظریات مارکس و انګلس درباره ادبیات و هنر». ب. کریلوف. مترجم محمد رحیم الهام. ژوندون، ارګان نشراتي اتحادیه نویسندګان ج.ا. ۱۳۶۴ هـ.ش. شماره اول.

(۸۲)- «د ولس په بیدارۍ کې د پښتون مجلې رول». د ګیرمن لیکنه. د محمد ژباړه. کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۲ هـ.ش. کال، ۹-۱۰ ګڼه.

(۸۳)- «هوچي من شاعر او انقلابي». درو هین ترجمه. زیري د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۵۹ هـ.ش. کال، ۴۸ ګڼه.

(۸۴)- یوري اکسوتین- سویتلانا سارتیچوک. دولادیمیر ایلیچ لینین د ژوند لیک پاڼې. مسکو: د نووستي د مطبوعاتي آژانس نشراتي اداره، ۱۹۸۵م. کال.

(۸۵)- یونسي، ابراهیم. هنر داستان نویسي. ایران: تهران ۱۳۴۱ هـ.ش.

سمونلیک

ناسم	سم	کرښه	مخ
پر یزی	پر یږدی	۶	۹۵
سلسه	سلسله	۱۲	۱۰۱
سورلو	رسولو	۱۹	۱۰۳

د لومړی تقریظ د الف سرلیکه لیکه داسی سمون مومی: مخ (۱۰).
د ادبی څېړنې د چاپ پړاو داسی سمون مومی: د ننګرهار (بایزید روښان) پوهنتون. د ۹۳ مخ (۳) ماخذ داسی سمون مومی: مارکس، انګلس و لنین د ورزلد کی خصوصی، ص: ۱۹۸.

د ګډراز که په یو دوو ګلمو کی د ماشین د چاپ او نورو تخنیکی ستونزو له امله یو نیم توری لوېدلی وی، هیله من یم چی ګران لوستونکی له ستونزی سره د مخامخ کیدو په وخت کی د جملی جوړښت ته پام وکړی.

PROPERTY OF ACKU
4873

مننه او یادونه

ددغه کتاب په چاپولو کې د دولتي مطبعې د مانوتایپ د څانګې عمومي مدیر محترم محمد اکبر دلاور، د تولید د رهبرۍ لوی مدیر محترم عبدالصمد امیري، د مانوتایپ د څانګې باشي محترم عبدالحکیم رحیمي، د مانوتایپ د څانګې محترمو غړو محمد حکیم، میرا کبر، محمد یاسین فریدي، شکیبا، شکیلا، حفیظي، ذکي، عظیمي، افغاني، محفوظي او راضي او د طبع حروفي د څانګې غړي محترم شربت او نورو درنو کارګرانو د زړه له کومې مرسته کړې ده چې په ټولو ارتري مننه کوم او کورودانی ورته وایم.

په ډېره مننه

محمد یونس صلاحي

New Literary Theory

By

M . Nabi Salahi

Academy of Sciences of

AFGHANISTAN

نمره ۳۵۰

1989